عقیدوی درسونه

(معالم الدين)

ليکوال:

عبد العزيز مطيری

ژباړن:

أبو زكريا إسماعيل الأفغانی

د کتاب پېژندنه:

د کتاب نوم:	عقیدوی درسونه [معالم الدين]
ليکوال:	عبد العزيز مطيرى
ژباړن:	أبو زكريا إسماعيل الأفغانى
د چاپ شمېر:	لومړي
د چاپ کال:	١٣٩٢ هـ ش / ١٤٣٤ هـ ق

للتواصل ولإبداء الملاحظات على الترجمة:
00966509316678
hasankhan41@yahoo.com
hasangul41@gmail.com

بسم الله الرحمن الرحیم

د کتاب فهرست

د مؤلف سریزه... ۷

د شهادت کلمه، معنی او غوښتنې يي.................................. ۹

لمړۍ درس: د «شهادة أن لا إله إلاّ اللّه» معنی........................ ۱۲

خلاصه او لنډه دا چه:.. ۲۵

دوهم درس: د «شهادة أن محمداً رسول اللّه» معنی...................... ۲۷

ځینی هغه شیان چه دغه ګواهي ماتوي:................................. ۲۹

دریم درس: د الله تعالی او د رسول اللهﷺ پیروي فرض ده ۳۹

او د الله تعالی او د هغه د رسولﷺ اوامر دری درجی لري:............ ٤٤

څلورم درس: د توحید فضیلت.. ۵۱

پنځم درس: د دین اسلام معنی....................................... ۶۳

دایمان اصول او بنسټونه:.. ۶۹

د احسان معنی: ۷۱
احسان هم دوه درجی لری: ۷۳
شپږم درس: د «عبادت» معنی ۷۸
اووم درس: د کفر بالطاغوت معنی.. ۹۰
داسی طواغیت چه د الله تعالی پرته یي بندګي کیږي.. ۹۲
لومړنۍ ډول طاغوت: شیطان: ۹۳
دوهم ډول طاغوت: هغه بتان او معبودان چه د الله تعالی پرته یي عبادت او بندګي کیږي. ۹۸
دریم ډول: هغه څوك چه دالله رالیږلي وحي پرته په نورو قوانینو فیصلی کوي ۱۰۶
اتم درس: د شرك ډولونه او ورڅخه ویره کول ۱۱٤
شرك په دوه ډوله دي: ۱۲٤
د شرك یو بل تقسیم: ۱۲۶
نهم درس: له منافقت څخه ویره ۱۳۰
لومړی: نفاق اکبر«لوئ منافقت»: ۱۳۰
دوهم: نفاق اصغر «کوچنی منافقت»: ۱۳۰
د منافقینو ځینی نوری علامی لکه: ۱۳۷
لسم درس: له منافقت څخه کرکه او ویرَونه(۳/۲) ۱٤۷
د منافقانو عملونه په دوه ډوله دي: ۱٤۹
د منافق توبه ویستل: ۱۵۸

یوولسم درس: له نفاق څخه کرکه ویرَونه (۳/۳)...................... ۱۶۳
د منافق د منافقت سزا:.. ۱۶۳
دولسم درس: د اسلام نواقض او ماتوونکي شیان...................... ۱۷۷
لومړې ماتوونکې: الحاد:.. ۱۷۹
دوهم ماتوونکې: شرک اکبر (لوئ شرک):..................................... ۱۷۹
دایمان او اسلام دریم ډول ماتوونکې:.. ۱۸٤
دایمان او اسلام څلورم ماتوونکې: د نبوت او پیغمبری دعوا کول. ۱۸٤
د ایمان او اسلام پنځم ماتوونکې: د الله تعالی او د هغه دپیغمبرﷺ
دروغجن ګڼل:.. ۱۸۵
د ایمان او اسلام شپږم ناقض او ماتوونکې: شک:............................ ۱۸۷
د ایمان او اسلام اووم ماتوونکې: د الله تعالی او د هغه درسول او
اسلام سره کینه... ۱۸۸
د ایمان او اسلام اتم ماتوونکې: په الله تعالی او د هغه په رسولﷺ
پوری مسخری او ټوقی کول:... ۱۸۹
دایمان او اسلام نهم ناقض او ماتوونکې: د مؤمنانو پرته د کفارو
سره دوستي کول، او په دي کښی دوه کاره شامليږي:...................... ۱۸۹
د ایمان او اسلام لسم ماتوونکې: د الله تعالی اودهغه د رسول له
اوامرو څخه سرغړونه:.. ۱۹۱
په دی ایمان ماتوونکي څیزونو پوری ځینی اړوند مسایل:............ ۱۹۲
او دغه نواقض دوه درجی لري:... ۱۹۳
لمړئ درجه: ښکاره او څرګند کفر: ۱۹۳

دوهمه درجه: هغه ده چه ښکاره او څرګند کفر نه وي، نو هغه بیا
په دوه ډوله دي: ۱۹٤
د مرتد حکم:.. ۲۰۱

بسم الله الرحمن الرحيم

د مؤلف سريزه

إِنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ، وَنَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا، وَمِنْ سَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَهْدِهِ اللَّهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، أما بعدُ:

بې له شکه هغه څه چه بنده ورته د هر څه نه مخکښې ډير اړين او زده کول يې ورباندې فرضي او لازمي دي هغه دا دي چه بنده هغه څه زده کړي چه خپل دين ورباندې صحيح وپيژني، ترڅو پرې د الله ﷻ له قهر او غوصې او د هغه د دردناک عذاب څخه ځان وژغوري، او ورسره د الله ﷻ رحمت او لويه مهرباني لاس ته راوړي.

ما په دې کتاب کښې د اسلام د مقدّس دين بنسټونه او اساسات د ډيرو آسانو درسونو په شکل راټول کړي دي، تر څو يو زده کونکې د اسلام د مقدّس دين دغه اساسات او بنسټونه وپيژني، او هم هغه څه نه خبر شي چه يو بنده ورباندې مسلمان ګڼل کيږي، او هم له نورو دينونو څخه د اسلام د

مقدّس دین بهتري او غوره والې او ښایست وپیژني، او ددي په مقابل کښې د کفر له خطر او بدبختۍ څخه خبر شي، او ددي ترڅنګ هغه څه هم وپیژني چه د بنده دین او ایمان له منځه وړي او یا یي کمزورې کوي ترڅو وکولې شي ځان ورڅخه وژغوري.

خو د یادونی وړ ده چه ما په دی کتاب کښې د اسلام د اساساتو او بنسټونو څخه یواځی هغه ډیر اړین او مهم مسایل راوړي دي چه پر بنده باندي يي زده کول او ورباندي عمل کول تر هر څه نه مخکښې فرض او لازمي وي، تر څو د لومړنیو زده کونکو لپاره تګ لاره وي، او د پوهانو لپاره یادګیرنه او نصیحت وي، او د ښوونکو لپاره تیارې او یادونه وي.

د لوئ الله ﷻ څخه سوال کوم چه زما دا کار له ما څخه په ډیر ښه ډول قبول کړي، او ورپکښې برکت واچوي، او خلکو ته پری ګټه ورسوي؛ بیشکه الله ﷻ په ډیر ښو صفتونو ستایل شوې اود ډیری لویي خاوند دې.

د شهادت کلمه، معنی او غوښتنې يي

د شهادت کلمې څخه هغه معلوم او معروف الفاظ مراد دي چه:

«أشهد أن لا إله إلاّ الله، وأشهد أن محمداً رسول الله».

دغه دواړه ګواهۍ د اسلامي دين بنسټ او لمړنې رکن دې، په کوم چه يو بنده د اسلام په مقدس دين کښې داخليږي، نو که څوک دغه دواړه ګواهيو باندې ګواهي ونکړي مسلمان کيدې نشي.

لکه چه عبد الله بن عمر رضي الله عنهما له رسول الله ﷺ څخه روايت کوي چه هغه فرمايلي دي:

«بُنِيَ الإِسْلاَمُ عَلَى خَمْسٍ شَهَادَةِ أَنْ لا إِله إِلا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ وَإِقَامِ الصَّلاَةِ وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ وَحَجِّ الْبَيْتِ وَصَوْمِ رَمَضَانَ». [متفق عليه]

ترجمه: «د اسلام دين په پنځه بنسټونو باندي جوړ او ولاړ دې:

لمړې: ددي خبرې ګواهي کول چه د عبادت او بندګۍ مستحق او لايق بل هيڅ څوک نشته مګر يوازې الله جلّ جلاله دې، او محمد ﷺ د الله تعالی ريښتينې پيغمبر او ستاذې دې.

دوهم: (په شپه او ورځ کښې پنځه وخته پوره له حقوقو سره) لمونځ ادا کول.

دريم: د خپل مال زكات وركول.

څلورم: د بيت الله شريف حج كول.

پنځم: د رمضان د مباركې مياشتې روژه نيول». (دا حديث شريف په صحيح بخاري شريف او صحيح مسلم شريف كښې روايت شوې دې).

نو په اسلام كښې لمړنې فرض دا دي چه تر هر څه دمخه د لمړني بنسټ معنی او احكام زده كړل شي؛ ځكه رسول الله ﷺ چه كله معاذ بن جبل رضي الله عنه يمن ته د يو داعي، بلونكي او ښوونكي په صفت ليږلو نو ورته يې وفرمايل:

«إِنَّكَ سَتَأْتِي قَوْمًا أَهْلَ كِتَابٍ فَإِذَا جِئْتَهُمْ فَادْعُهُمْ إِلَى أَنْ يَشْهَدُوا أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لَكَ بِذَلِكَ فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ اللهَ قَدْ فَرَضَ عَلَيْهِمْ خَمْسَ صَلَوَاتٍ فِي كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ... الحديث». [متفق عليه]

ترجمه: «بيشكه ته داسې خلكو ته ورتلونكې يې چه هغوي اهل كتاب او كتابيان دي، نو لومړې يې بايد ددې خبرې منلو ته راوبلې چه: نشته وړ، لايق او مستحق دعبادت او بندګۍ مګر يواځې يو الله جلّ جلاله دې، او زه- يعنی محمد ﷺ - دالله تعالى ريښتينې پيغمبر او استاذې يم، كه هغوي درسره دا خبره ومنله، نو بيا ورته وښايه چه الله ﷻ پر دوي په هره شپه ورځ كښې پنځه لمونځونه فرض كړې دي...» الحديث.

دا حديث شريف په صحيح مسلم شريف كښې له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت شوې دې.

او په صحيح بخاري شريف كښې يې بيا لفظ داسې دې: «فَلْيَكُنْ أَوَّلَ

مَا تَدْعُوهُمْ إِلَيْهِ عِبَادَةُ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ».

ترجمه: یعنی «ستا لمړنی بلنه دی هغوي ته دا وي چه هغوي دی یوائی یو الله ﷻ د عبادت او بندګی مستحق او لایق وګنې...».

ددي خبری بیان او وضاحت د جبریل عليه السلام په هغه اوږد حدیث شریف کښی هم راغلې دې چه په هغه کښی جبریل عليه السلام له رسول الله ﷺ څخه ددين د مراتبو په هکله پوښتنه کوي: چه هغه اسلام، ايمان او احسان دي، او بيا رسول الله ﷺ خپلو صحابه کرامو رضي الله عنهم ته وفرمايل: دا پوښتنه کونکې جبريل عليه السلام وو، تاسو ته ددي لپاره راغلې وو چه تاسو ته ستاسو دين درزده کړي.

نو ددين له کارونو څخه تر ټولو لومړنې هغه کار چه تر هر څه دمخه يي زده کول فرض دي، هغه هم هغه څه دي چه د جبريل عليه السلام په دغه حديث کښی راغلي دي.

او ددين لومړنی مرتبه اسلام دې، او د اسلام لمړنې بنسټ دغه دوه ګوني ګواهی دي.

لمړی درس:

د «شهادة أن لا إله إلاَّ اللَّه» معنی

یعنی نشته وړ، لائق او مستحق د عبادت او بندګی مګر یوائحی یو الله تعالی دی.

د «إلٰه» معنی مألوه، یعنی معبود دی، نو ټول هغه عبادتونه او بندګی چه د الله تعالی پرته بل چا ته کیږي هغه باطل عبادت دی، او هغه څوک چه د الله تعالی پرته د بل چا عبادت او بندګي کوي هغه مشرک او کافر ګڼل کیږي، لکه چه الله ﷻ فرمايي: ﴿وَمَن يَدۡعُ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ لَا بُرۡهَٰنَ لَهُۥ بِهِۦ فَإِنَّمَا حِسَابُهُۥ عِندَ رَبِّهِۦٓۚ إِنَّهُۥ لَا يُفۡلِحُ ٱلۡكَٰفِرُونَ ١١٧﴾ [المؤمنون: ١١٧].

ترجمه: «او هغه څوک چه د الله ﷻ سره بل معبود هم رابلي چه له ده سره هیڅ ډول دلیل وربانډی نشته، نو بیشکه دده حساب کتاب د الله تعالی سره دی، بیشکه شان دادی کافران کامیابیدی او سرفراز کیدی نشي».

نو هیڅکله روا نه ده چه د الله ﷻ سره د بل چا عبادت او بندګي وشي، دا بل څوک که لیږل شوی پیغمبر وي، او که کوم مقرّب ملائک وي، او که د نیکانو او اولیاو له جملی څخه کوم ولي وي، او که ونه، یا تیګه وي، او که کوم بل شی وي؛ ځکه عبادت او بندګي یوائحی د الله ﷻ حق دی، چه

مونږ الله تعالی د همدی خپلی بندګی او عبادت لپاره پیدا کړي یو، لکه چه الله ﷻ فرمايي:

﴿وَمَا خَلَقْتُ ٱلْجِنَّ وَٱلْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ٥٦﴾ [الذاريات: ٥٦].

ترجمه: «ما پیریان او انسانان نه دي پیدا کړي مګر ددي لپاره چه یواځی ځما عبادت او بندګي وکړي».

همداراز فرمايي: ﴿قُلْ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ١﴾ [الإخلاص: ١]. «أي پیغمبره خلکو ته بیان کړه چه شان دا دې: چه الله ﷻ معبود برحق همدا یو دې».

همداشان فرمايي:

﴿وَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلرَّحْمَٰنُ ٱلرَّحِيمُ ١٦٣﴾ [البقرة:١٦٣].

ترجمه: «معبود برحق او ستاسو د عبادت او بندګی مستحق او لایق یواځی یو معبود دې، نشته بل مستحق د عبادت او بندګی مګر یواځی یو الله ﷻ دې چه ډیر زیات مهربان او ډیر بخښونکې دې».

همداراز الله تعالی په ځاي کښی فرمايي:

﴿هُوَ ٱلْحَيُّ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ فَٱدْعُوهُ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ﴾ [المؤمن: ٦٥].

ترجمه: «الله ﷻ هغه ذات دې چه دایمی او ازلي ژوندې دې، نو نشته مستحق د عبادت او بندګی مګر یو الله تعالی دې، نو همدغه الله راوبلی او چیغی ورته ووهی، په داسی حال کښی چه خالص کوونکي یاست الله لره د خپل عبادت او بندګی».

او همدا د توحید معنی ده، او هغه دا چه الله تعالی په عبادت او بندګی

کښې یو وګڼل شي، او یوائې دهمهغه عبادت او بندګي وشي، نو مونږ یوائې د همغه الله تعالی عبادت او بندګي کوو چه یو دې او هیڅ ډول شریک او برخَوال نلري.

او دهمدې توحید د تحقیق او پلي کولو لپاره الله ﷻ ټول پیغمبران رالیږلي دي، او همدا توحید د (**لا إلهَ إلاَّ الله**) معنی ده، لکه چه الله ﷻ فرمايي: ﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلَّا نُوحِيٓ إِلَيۡهِ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعۡبُدُونِ ٢٥﴾ [الأنبياء: ٢٥].

ترجمه: «مونږ نه دې لیږلې پخوا له تا څخه هیڅ یو پیغمبر مګر مونږ ورته وحي کړې ده ددې خبرې چه شان دا دې نشته لایق د عبادت او بندګۍ مګر همدا زه یم، نو یوائې څما عبادت او بندګي وکړئ».

همدا شان الله ﷻ په بل ځای کښې فرمايي: ﴿وَلَقَدۡ بَعَثۡنَا فِي كُلِّ أُمَّةٖ رَّسُولًا أَنِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱجۡتَنِبُواْ ٱلطَّٰغُوتَ﴾ [النحل: ٣٦].

ترجمه: «او بې شکه مونږ لیږلي دي په هر امت کښې یو یو پیغمبر په دې خبره چه یوائې د یو الله ﷻ عبادت او بندګي وکړئ اود طواغیتو له عبادت او بندګۍ ځینې ځان وساتئ».

الله ﷻ د خپل کتاب په بیلابیلو ځایونو کښې د پخوانیو پیغمبرانو او دهغوئ د قومونو قیصې بیان کړې دي، او دا یې راته واضحه کړې ده چه ددغه ټولو پیغمبرانو لمړنې دعوت او مسأله توحید او د الله تعالی یووالي ته بلنه وه، او هم یې راته دهغه مومنانو ښه انجام بیان کړې دې چه د پیغمبرانو

دعوت او بلنه يي منلى وه، او دهغه کفارو بد انجام يي راښوولې دې چه پيغمبرانو ته يي دروغجن ويلي وو، او د الله تعالى سره يي شرک کړې وو، حال دا چه په دغه شرک باندي د الله تعالى لخوا ورته هيڅ کوم دليل نه وو راغلې.

لکه چه الله تعالى فرمايي:

﴿لَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوۡمِهِۦ فَقَالَ يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥٓ إِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيۡكُمۡ عَذَابَ يَوۡمٍ عَظِيمٖ ٥٩﴾ [الأعراف: ٥٩].

ترجمه: «بيشکه يقيناً مونږ ليږلې وو نوح عليه السلام خپل قوم ته پيغمبر، نو هغه ورته ويلي وو: أى ځما قومه ! عبادت او بندګي وکړئ يواځى د يو الله تعالى؛ ځکه نشته تاسو لپاره بل رښتينې مستحق د عبادت او بندګۍ پرته د الله تعالى څخه بل څوک، بيشکه زه ويريږم پر تاسو د عذاب د هغه ورځى لوي څخه چه قيامت دې».

همداشان دهود عليه السلام په هکله فرمايي:

﴿۞وَإِلَىٰ عَادٍ أَخَاهُمۡ هُودٗاۚ قَالَ يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥٓۚ أَفَلَا تَتَّقُونَ ٦٥﴾ [الأعراف: ٦٥].

ترجمه: «او ليږلې مو وو عاديانو ته د هغوئ نسبي ورور هود عليه السلام نو هغه ورته ويلي وو: أي ځما قومه ! يواځى د يو الله تعالى عبادت او بندګي وکړئ؛ ځکه نشته تاسو لپاره د الله تعالى پرته بل معبود برحق، نو آيا تاسو له دغه الله تعالى څخه نه ويريږئ؟».

او د صالح ﷵ په هکله فرمايي:

﴿وَإِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَٰلِحًاۚ قَالَ يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥ﴾ [الأعراف: ۷۳].

ترجمه: «او ليږلي مو وو ثموديانو ته د هغوئ نسبي ورور صالح ﷵ نو هغه ورته ويلي وو: أي ځما قومه ! يوائې د يو الله تعالى عبادت او بندګي وکړئ؛ ځکه نشته تاسو لپاره بل د عبادت او بندګۍ مستحق پرته له الله ﷻ څخه».

همداراز دشعيب ﷵ په هکله الله تعالى فرمايى:

﴿وَإِلَىٰ مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًاۚ قَالَ يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥۖ﴾ [الأعراف: ۸۵].

ترجمه: «او د مدين اوسيدونکو ته الله د هغوئ نسبي ورور شعيبﷵ ليږلي وو، نو هغه ورته ويلي وو: أي ځما قومه ! يوائې د يو الله تعالى عبادت او بندګي وکړئ؛ ځکه نشته تاسو لپاره بل د عبادت او بندګۍ مستحق پرته له الله ﷻ څخه».

او د ابراهيم ﷵ نه هم دغه شان الله ﷻ حکايت کوي او فرمايي:

﴿وَإِذْ قَالَ إِبْرَٰهِيمُ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِۦٓ إِنَّنِى بَرَآءٌ مِّمَّا تَعْبُدُونَ ۝٢٦ إِلَّا ٱلَّذِى فَطَرَنِى فَإِنَّهُۥ سَيَهْدِينِ ۝٢٧﴾ [الزخرف: ۲۶-۲۷].

ترجمه: «او ياد کړه هغه وخت چه ويل ابراهيم ﷵ خپل پلار او قوم ته: بيشکه زه له هغه چا څخه بيزار يم چه تاسو يي عبادت او بندګي کوئ، مګر

خو بیزار نه یم د هغه الله تعالی نه چه زه یي پیدا کړې یم، نو همهغه به راته سمه لار راوښايي».

همداشان الله تعالی فرمایی:

﴿أَمۡ كُنتُمۡ شُهَدَآءَ إِذۡ حَضَرَ يَعۡقُوبَ ٱلۡمَوۡتُ إِذۡ قَالَ لِبَنِيهِ مَا تَعۡبُدُونَ مِنۢ بَعۡدِيۖ قَالُواْ نَعۡبُدُ إِلَٰهَكَ وَإِلَٰهَ ءَابَآئِكَ إِبۡرَٰهِـۧمَ وَإِسۡمَٰعِيلَ وَإِسۡحَٰقَ إِلَٰهٗا وَٰحِدٗا وَنَحۡنُ لَهُۥ مُسۡلِمُونَ ١٣٣﴾ [البقرة: ۱۳۳].

ترجمه: «آیا تاسو هغه وخت حاضر وی کله چه یعقوب عليه السلام ته مرګ راغي، او کله چه یي خپلو ځامنو ته وویل: له ما نه وروسته به د چا عبادت او بندګي کوی؟ ځامنو یي ورته وویل: مونږ به دهغه الله عبادت او بندګي کوو چه ستا معبود دي او هم ستا دپلرونو معبود دې، چه دغه ستا پلرونه ابراهیم اسماعیل او اسحاق علیهم السلام دي، په داسی حال کښی چه ددوي د ټولو معبود همدا یو الله تعالی وو، او مونږ هم همدغه الله تعالی ته غاړه ایښودونکي یو».

همدغه ډول بلنه یوسف عليه السلام هم په محبس زندان کښی خپلو ملګرو ته وړاندی کړه لکه چه فرمایي:

﴿ءَأَرۡبَابٞ مُّتَفَرِّقُونَ خَيۡرٌ أَمِ ٱللَّهُ ٱلۡوَٰحِدُ ٱلۡقَهَّارُ ٣٩﴾ [یوسف: ۳۹].

یعنی: «آیا مختلف او بیلابیل معبودان ښه دي چه عبادت او بندګي یی وشي او که یواځی یو الله جل جلاله چه یو دې او هم قهار دې».

او همدغه دعوت او بلنه زمونږ د خوږ پیغمبر محمد ﷺ هم وه لکه چه

الله ﷻ ورته فرمايي:

﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ إِلَّا رَحۡمَةٗ لِّلۡعَٰلَمِينَ ١٠٧ قُلۡ إِنَّمَا يُوحَىٰٓ إِلَيَّ أَنَّمَآ إِلَٰهُكُمۡ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞۖ فَهَلۡ أَنتُم مُّسۡلِمُونَ ١٠٨﴾ [الأنبياء: ١٠٧-١٠٨].

ترجمه: «مونږ ته- أي محمده !- نه يي ليږلې مګر خو مو ليږلې يي رحمت د عالميانو لپاره، ورته ووايه أي پيغمبره ! بيشکه ما ته وحي کيږي ددي خبرى چه بيشکه ستاسو معبود يو الله تعالى دې، نو آيا تاسو غاړه ايښودونکي ياست هغه ته؟»

زمونږ پيغمبر محمد ﷺ هم په مکه مکرمه کښې دخپل دعوت شروع له توحيد څخه کړى وه، خپل قوم يي ديته راوبللو چه (لا إلهَ إلا اللهُ)کلمه ووايي او د بتانو له عبادت او بندګۍ څخه ځان وساتي، نو هغوئ اکثرو يي لويي وکړه، او د توحيد دعوت له قبلولو څخه يي انکار وکړ، لکه چه الله تعالى فرمايي:

﴿إِنَّهُمۡ كَانُوٓاْ إِذَا قِيلَ لَهُمۡ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱللَّهُ يَسۡتَكۡبِرُونَ ٣٥ وَيَقُولُونَ أَئِنَّا لَتَارِكُوٓاْ ءَالِهَتِنَا لِشَاعِرٖ مَّجۡنُونِۭ ٣٦﴾ [الصافات: ٣٥-٣٦].

ترجمه: «بيشکه دى کافرو ته چه به وويل شو: چه نشته لايق دعبادت او بندګۍ مګر يواځى يو الله تعالى دې، نو دوي يي له منلو څخه انکار او لويي کوي، او وايي: آيا مونږ پريږدو خپل معبودان د يو داسى شاعر په خاطر چه پخپله ليونې هم دې».

نو الله تعالى ورته جواب ورکوي او فرمايي چه: ﴿بَلۡ جَآءَ بِٱلۡحَقِّ

وَصَدَّقَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ﴿٣٧﴾ [الصافات: ٣٧]. یعنی: «بلکه هغه څه چه دی پیغمبر راوړي دي حق دي او د تیرو پخوانیو پیغمبرانو تصدیق یي کړې دې».

نو د توحید کلمه دحق کلمه ده، کومی ته چه له رسول اللهﷺ څخه پخوانیو پیغمبرانو هم بلنه ورکړی وه، او همدا زمونږ د خوږ پیغمبر محمدﷺ بلنه هم ده، او د قریشو کافران هم پدي پوهیدل چه د توحید کلمی معنی هم دا ده چه د الله تعالی پرته د بل هر چا عبادت او بندګي پریښودل شي.

او توحید تر هغه پوری نه پلې کیږي چه ورسره له شرک څخه پوره اجتناب او ځان ساتنه نه وي شوي، او هم دا د «لا إله إلاّ الله» معنی ده.

«أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَقُولُوا لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ، فَمَنْ قَالَ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ فَقَدْ عَصَمَ مِنِّيْ مَالَهُ وَنَفْسَهُ إِلاَّ بِحَقِّهِ وَحِسَابُهُ عَلَى اللَّهِ». [متفق علیه].

له دوهم خلیفه عمر فاروق ﷺ څخه روایت دې هغه وایي: بیشکه رسول اللهﷺ فرمایلي دي: «ما ته په جهاد باندي امر شوې دې تر دی چه خلك د توحید کلمه «لا إله إلاّ الله» ووایي، او هر چا چه دغه د «لا إله إلاّ الله» کلمه وویله نو د هغه مال او وینه محفوظه شوه، مګر هغه وخت به محفوظه نه وي کچیري یي بل حق وربانذی واوخت لکه: قصاص، او داسی نور، او نور حساب کتاب یي د الله تعالی سره دې». (دا حدیث شریف په صحیح بخاری او صحیح مسلم شریف کښی دې).

او کله چه رسول اللهﷺ د وخت پاچاهانو ته دعوتي خطونه استول نو هغوئ یي پکښی توحید او د الله تعالی یووالي ته راوبلل، لکه عبد الله بن

عباس رضي الله عنهما روایت کوي چه بیشکه رسول اللهﷺ د روم پاچا هرقل ته لیک واستولو، او پکښې یې ولیکل:

((بسم الله الرحمن الرحیم، من مُحَمَّدٍ رسولِ اللهِ إلى هِرَقْلَ عَظيمِ الرُّومِ، سَلامٌ على مَن اتَّبَعَ الهُدَى أمَّا بعدُ: فإنِّي أدعوكَ بدِعايةِ الإسلامِ، أَسْلِمْ تَسْلَمْ، وأَسْلِمْ يُؤْتِكَ اللهُ أجْرَك مَرَّتين، فإن تَوَلَّيْتَ فإنَّ عليكَ إِثْمَ الأَرِيسِيِّينَ، و﴿قُلۡ يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ تَعَالَوۡاْ إِلَىٰ كَلِمَةٖ سَوَآءِۭ بَيۡنَنَا وَبَيۡنَكُمۡ أَلَّا نَعۡبُدَ إِلَّا ٱللَّهَ وَلَا نُشۡرِكَ بِهِۦ شَيۡـٔٗا وَلَا يَتَّخِذَ بَعۡضُنَا بَعۡضًا أَرۡبَابٗا مِّن دُونِ ٱللَّهِۚ فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَقُولُواْ ٱشۡهَدُواْ بِأَنَّا مُسۡلِمُونَ ٦٤﴾ [آل‌عمران: ٦٤]))

[حدیث متفق علیه]

ترجمه: «د ډېر مهربانه او بخښونکي الله جل جلاله په نامه، دا لیک د محمد رسول الله لخوا د رومیانو مشر هرقل ته: دحق په پیروانو دي سلام وي، أما بعد:

بیشکه زه تا ته د اسلام دعوت درکوم، ته مسلمان شه، نو ددنیوي او أخروي عذابونو او خجالتونو څخه به بچ شی، مسلمان شه؛ الله تعالی به درته دوه ځلی أجر درکړي، او که دي له دي بلنی څخه مخ واړولو، نو پر تا باندي د ټولو أریسیینو ګناه بار ده». «او اي اهل کتابو ! راشئ د هغه کلمی منلو ته چه زمونږ او ستاسو تر منځ برابره او اتفاقي ده، او هغه دا چه مونږ او تاسو ټول به عبادت او بندګي نه کوو مګر د یو الله تعالی بندګي به کوو، او له هغه سره به هیڅ شي شریک او برخوال نه منو، او نه به پخپل منځ کښې یو بل سره په خدایي او الوهیت باندي نیسو پرته له الله تعالی څخه، نو که دي

اهل کتابو ددي دعوت او بلنی څخه مخ واړولو نو ورته ووایه: چه تاسو ګواهان شئ چه مونږ خو مسلمانان او همدغه دالله تعالی حکم ته غاړه اېښودونکي یو». (دا حدیث شریف په صحیح بخاري او صحیح مسلم شریف کښي دی).

او رسول الله ﷺ همدا ډول لیکونه د فارس پاچا کسرا، او دقبطیانو پاچا مقوقس، د حبشي پاچا، په عمان کښی جیفر او عیاذ ابنی الجلندي ته، او په یمامه کښی هوذة بن علي ته، او په هجر کښی منذر بن ساوا ته، او ابن أبي شمر الغساني ته ولیږل، کوم چه د رسول الله ﷺ په زمانه کښی د خپلو خپلو ملکونو پاچاهان وو.

او په صحیح مسلم شریف کښی د انس بن مالك رضي الله عنه په حدیث کښی راغلي دي چه رسول الله ﷺ د هغه وخت هر پاچا ته لیکونه واستول چه په دغه لیکونو کښی یې هغوئ د الله تعالی عبادت او بندګۍ ته راوبلل.

او د ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چه بیشکه رسول الله ﷺ چه کله معاذ رضي الله عنه یمن ته استولو نو ورته یې وویل: «یقیناً ته داسی خلکو ته ورتلونکې یې چه هغوئ اهل کتاب دي، نو ته یې لمړی دي ته راوبله چه هغوئ الله تعالی په ربوبیت او الوهیت او عبادت کښی یو ومنی».

نو توحید او د الله تعالی یو منل په اسلام کښی د شاملیدلو لمړنی دروازه ده، او له توحید پرته هیڅ څوک مسلمانیدې نشي، او هر کله چه یو څوک داسی یوه ګناه وکړي چه دا توحید له منځه وړي نو هغه کافر او مشرک کیږي، او د اسلام له مقدس دین څخه بهر شمارل کیږي.

وعن مُعاذِ بن جَبَل رضي الله عنه أن النبيَّ ﷺ قال له:

«يَا مُعَاذُ! تَدْرِي مَا حَقُّ اللَّهِ عَلَى الْعِبَادِ وَمَا حَقُّ الْعِبَادِ عَلَى اللَّهِ؟». قَالَ: قُلْتُ: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. قَالَ: «فَإِنَّ حَقَّ اللَّهِ عَلَى الْعِبَادِ أَنْ يَعْبُدُوا اللَّهَ وَلاَ يُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَحَقُّ الْعِبَادِ عَلَى اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ أَنْ لاَ يُعَذِّبَ مَنْ لاَ يُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا...». [متفق عليه] ترجمه: معاذ بن جبلﷺ وايي: «بيشكه رسول اللهﷺ ورته وويل: أي معاذه ! ته پوهيږي چه د الله تعالى حق پخپلو بندګانو باندي څه دې؟

معاذﷺ ورته وويل: الله تعالى او دهغه رسول پرى ښه خبر دې.

نو رسول اللهﷺ ورته وويل: د الله تعالى حق پر خپل بندګانو دا دې چه بندګان د الله تعالى عبادت او بندګي وکړي، او له هغه سره هيڅ شې شريک او برخوال نکړي.

بيا رسول اللهﷺ وويل: معاذه ! آيا ته پوهيږى چه كه بندګان دالله تعالى دغه حق أدا كړي، نو ددغه بندګانو حق پر الله تعالى څه دې؟

هغه ورته بيا وويل: چه الله تعالى او دهغه رسولﷺ پرى ښه پوهيږي.

نو رسول اللهﷺ وفرمايل: ددغه بندګانو چه كله دوئ د الله تعالى حق أدا كړي، نو ددوئ حق پر الله تعالى باندي دا دې چه دوئ ته عذاب ورنكړي». (دا حديث شريف په صحيح مسلم او صحيح بخاري شريف كښى دې).

نو كله چه يو بنده دا ګواهي وكړي چه «لا إله إلاّ الله» نو ده په حقيقت كښى داسى ګواهي وكړه چه د الله تعالى پرته ټول هغه څه چه عبادت او

بندګي يي کيږي باطل شيان دي، او پخپل ځان يي هم په دي ګواهي وکړه چه دې به پخپله د الله تعالی پرته د بل هيڅا عبادت او بندګي نکوي، او خپل عبادت او بندګي به خاص يو الله تعالی ته ځانګړی کوي، او همدا هغه اسلام دې چه الله تعالی يي له خپلو بندګانو څخه غواړي، لکه چه فرمايي:

﴿۞قُلۡ إِنِّي نُهِيتُ أَنۡ أَعۡبُدَ ٱلَّذِينَ تَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ لَمَّا جَآءَنِيَ ٱلۡبَيِّنَٰتُ مِن رَّبِّي وَأُمِرۡتُ أَنۡ أُسۡلِمَ لِرَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٦٦﴾ [المؤمن: ٦٦].

ترجمه: «ووايه اي پيغمبره ! بيشکه زه د الله تعالی لخوا له دی نه منع شوې يم چه عبادت او بندګي وکړم دهغه چا چه تاسو يي عبادت او بندګي کوئ پرته له الله تعالی څخه، او هغه وخت منع شوې يم چه کله راغلي دي ماته واضحه دلايل زما د پروردګار لخوا، او ما ته امر او حکم ددی شوې دې چه زه غاړه کيدم پروردګار د عالميانو ته».

همداراز الله تعالی فرمايي:

﴿وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ حُنَفَآءَ وَيُقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤۡتُواْ ٱلزَّكَوٰةَۚ وَذَٰلِكَ دِينُ ٱلۡقَيِّمَةِ ٥﴾ [البينة: ٥].

ترجمه: «دی خلکو ته امر نه دې شوې مګر خو امر شوې دوئ ته ددې خبری چه دوئ دی عبادت اوبندګي کوي يواځی د الله تعالی، په داسی حال کښی چه خالص کونکي وي دوئ الله تعالی ته د عبادت خپل، او ولاړ وي په حق، او مايل نه وي باطل خوا ته، او بل ددی امر شوې دې دوئ ته چه پوره په خپل وخت به أدا کوي د ټولو حقوقو سره لمونځ، او ورکوي به

زكات، او همدا مضبوط دين دې».

همداشان الله تعالى په بل ځاي كښې فرمايي:

﴿فَٱدۡعُواْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡكَٰفِرُونَ ١٤﴾ [المؤمن: ١٤].

ترجمه: «نو وبلی تاسو يوائحې الله تعالى لره په داسی حال كښې چه خالص كونكي ياست يو الله تعالى لپاره د عبادت او بندګۍ خپلی، اګر كه بد ګڼي دا كار كافران».

او الله ﷻ په بل ځاي كښې فرمايي:

﴿قُلۡ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِن كُنتُمۡ فِي شَكّٖ مِّن دِينِي فَلَآ أَعۡبُدُ ٱلَّذِينَ تَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلَٰكِنۡ أَعۡبُدُ ٱللَّهَ ٱلَّذِي يَتَوَفَّىٰكُمۡۖ وَأُمِرۡتُ أَنۡ أَكُونَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ١٠٤ وَأَنۡ أَقِمۡ وَجۡهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفٗا وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ١٠٥ وَلَا تَدۡعُ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَنفَعُكَ وَلَا يَضُرُّكَۖ فَإِن فَعَلۡتَ فَإِنَّكَ إِذٗا مِّنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ١٠٦﴾ [يونس: ١٠٤-١٠٦].

ترجمه: «ووايه اي پيغمبره ! اي خلكو كه چيری ياستی تاسو په شك كښی زما له دين څخه، نو (زما خبره واوری): زه عبادت او بندګي نه كوم د هغه چا چه تاسو يي عبادت او بندګي كوئ پرته له الله تعالى نه، ولكن زه عبادت او بندګي كوم يواځی د الله عز وجلّ، هغه الله تعالى چه تاسو ته مرګ راولي، او ما ته امر شوې دې ددي چه زه له مؤمنانو څخه شم، او ما ته امر شوي دي ددي چه سم كړه مخ خپل دين د الله تعالى ته په داسی حال كښی چه ولاړ يي پر حق او مايل نه يي باطل خوا ته، او مه كيږه ته له

مشرکانو څخه، او مه رابله پرته له الله تعالی هغه څوک چه ګټه نشي رسولې تاته، او نه ضرر رسولې شي تاته، که دغه کار دی وکړ نو بیشکه ته به په دغه وخت کښی له ظالمانو څخه یې».

خلاصه او لنډه دا چه:

- د «لا إله إلاَّ الله» معنی دا ده چه: نشته معبود برحق مګر خو یو الله تعالی دې.
- توحید تر هغه پوری نشي پلی کیدې چه تر څو له شرک څخه ځان ونه ژغورل شي.
- زمونږ د پیدایش هدف: یواځی د یو الله تعالی بندګي کول چه شریک او برخَوال ورسره پکښی نه وي.
- هغه څوک چه د الله تعالی پرته د بل چا عبادت او بندګي وکړي هغه مشرک او کافر ګڼل کیږي.
- هر پیغمبر خپل قوم توحید ته رابللې او له شرک څخه یې د ځان ساتلو امر ورته کړې دې.
- د رسول اللهﷺ اصلي دعوت او بلنه هم توحید ته وه، او په شروع کښی یې خپل قوم توحید ته راوبللو، او د وخت پاچاهانو ته یې هم لیکونه واستول چه هغوئ ته یې پکښی د توحید دعوت ورکړې وو، او خپلو ملګرو ته یې هم امر کړې وو چه دهغوئ ددعوت لمړې ټکې دی توحید ته بلنه وي.

- د الله تعالی حق پر بندګانو هم همدا توحید دي.
- هغه څوک چه په ربوبیت او عبادت او بندګۍ کښې الله تعالی یوائې یو ونه مني، نو هغه مسلمان کیدي نشي، اګر که ځان ته مسلمان هم ووايي.

دوهم درس: د «شهادة أن محمداً رسول الله» معنی

«**شهادة أن محمداً رسول الله**»: یعنی دا ګواهي کول چه محمدﷺ د الله تعالی رښتینې پیغمبر دې، نو ددی ګواهۍ مقتضی او غوښتنه دا ده چه یو مسلمان باید ایمان ولري چه الله تعالی خپل پیغمبر محمد بن عبد الله بن عبد المطلبﷺ ټولو پیریانو او انسانانو ته خپل پیغمبر او استاذې استولې دې، تر څو دوئ ته امر وکړي چه یواځی د یو الله تعالی عبادت او بندګي وکړي، او له هغه ټولو شیانو له عبادت او بندګۍ څخه ځان وژغوري چه له الله تعالی څخه پرته یي عبادت او بندګي کیږي، او هم دوئ ته داسلام د مقدس دین احکام بیان کړي.

همداراز دغه ګواهي ددي غوښتنه کوي چه محمدﷺ د الله تعالی بنده او پیغمبر دې، او هغه د عبادت او بندګۍ حق نلري، او هیڅکله روا نه ده چه مونږ د هغه په صفت او مدح کښی له حده تیر شو، او د ألوهیت په صفاتو یي وستایو، کوم چه د الله جل جلاله صفات دي.

عن عبدِ اللهِ بنِ عبَّاسٍ رضي الله عنهما أنه سَمِعَ عُمَر بنَ الخَطَّابِ رضي الله عنه يقولُ وهو على المِنْبرِ: سمعتُ النبيَّ ﷺ يقولُ: «لاَ تُطْرُونِي، كَمَا أَطْرَتْ النَّصَارَى ابْنَ مَرْيَمَ، فَإِنَّمَا أَنَا عَبْدُهُ، فَقُولُوا: عَبْدُ اللَّهِ، وَرَسُولُهُ». [رواه البخاري]

ترجمه: ابن عباس رضي الله عنهما له عمر رضي الله عنه څخه اوریدلي دي هغه وایي ما له رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چه هغه ویل: «زما په صفت او مدح کښې له حده مه تیریږئ لکه چه نصارا د عیسې عليه السلام په هکله د هغه په مدح او صفت کښې له حده تیر شوي وو (چه هغه ته یي الله، یا د الله تعالی ځوي، یا دریم له دریو څخه ویلو)، نو بیشکه زه د الله تعالی بنده یم، نو تاسو هم ووایي: چه «عَبْدُ اللَّهِ، وَرَسُولُهُ» یعنی د الله تعالی بنده او پیغمبر».

او «شهادة أن محمداً رسول الله» له بنده څخه دری غټ شیان غواړي:

۱/ د رسول الله ﷺ سره محبت کول، بلکه پر مونږ فرض دي چه د رسول الله ﷺ محبت د خپل ځان اهل او اولادونو له محبت نه مخکی او زیات وګڼو؛ ځکه أنس رضي الله عنه له رسول الله ﷺ څخه روایت کوي چه هغه ﷺ فرمایلي دي:

«لاَ يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ، حَتَّى أَكُونَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَالِدِهِ وَوَلَدِهِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ». [متفق عليه].

ترجمه: «یو له تاسو څخه مؤمن او مسلمان کیدي نشي تر څو چه هغه ته زه له اولادونو پلار او ټولو خلکو څخه ډیر محبوب نشم»، یعنی د رسول الله ﷺ محبت دی له ټولو څخه مخکی او زیات وي.

۲/ ټول هغه غیبي او غیر غیبی خبری چه رسول الله ﷺ کړي وي هغه باید رښتیا وګڼي، او ایمان پری ولري، نو ټول هغه څه چه له رسول الله ﷺ څخه په صحیح سند ثابت وي هغه حق او رښتیا دي.

۳/ د رسول الله ﷺ پیروي کول، یعنی دهغه ټول امرونه پر ځان منل او

پلي كول، او ټول هغه څه چه رسول اللهﷺ ورڅخه منع فرمايلی ده ځان ورڅخه وژغوري.

او **«شهادة أن محمداً رسول الله»** په اسلامي دين کښې يو لوي اصل او بنسټ دې، بلکه يو بنده په اسلام کښې تر هغه پورې داخليدې نشي چه تر څو دغه د «محمد رسول الله» ګواهي ونکړي چه: محمدﷺ د الله تعالی بنده او رښتيني پيغمبر دې، نو کله چه يو بنده دداسې يوې ګناه مرتکب شي چه ددغه ګواهۍ سره مناقض وي او دغه ګواهي ماتوي نو دغه بنده بيا مسلمان کيدې نشي، بلکه هغه کافر او داسلام له مقدس دين څخه مرتد شمارل کيږي.

ځينې هغه شيان چه دغه ګواهي ماتوي:

۱/ د رسول اللهﷺ سره بغض او کينه کول، او يا ورته ښکنځل کول، او يا هم ورپورې مسخرې ټوکې او ملنډې کول، او يا په هغه احکامو پورې چه رسول اللهﷺ راوړي وي مسخرې ټوکې او ملنډې کول، نو که څوک ددغې کارونو مرتکب شي هغه په رسول اللهﷺ باندې کافر بلل کيږي؛ لکه چه الله تعالی فرمايي:

﴿فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤۡمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيۡنَهُمۡ ثُمَّ لَا يَجِدُواْ فِيٓ أَنفُسِهِمۡ حَرَجٗا مِّمَّا قَضَيۡتَ وَيُسَلِّمُواْ تَسۡلِيمٗا ٦٥﴾ [النساء: ٦٥].

ترجمه: «زما دې ستا په رب باندې قسم وي چه تر هغه پورې دا د ايمان دعوه کونکي مؤمنان او مسلمانان کيدې نشي تر هغه پورې چه دوي په هغه

مسايلو کښې چه ددوي تر منځ پيښيږي تا حَکَم او فيصله کن ومني، او بيا ستا له فيصلې وروسته -اګر که ددوي په ګټه يا تاوان وي- پخپلو زړونو کښې ستا په فيصلې تنګي محسوس نکړي، بلکه خپل ځان په پوره ډول ستا فيصلو ته تسليم کړي، او ستا فيصلو ته غاړه کيږدي».

۲/ رسول الله ﷺ دروغجن ګڼل، او يا هم د هغه په رښتينولۍ کښې شک کول؛ ځکه دروغجن ګڼونکي او شک کونکي دواړو په حقيقت کښې يو شان د هغه ﷺ رښتينولي نه ده منلې، او هغه څوک چه رسول الله ﷺ رښتينې ونه مني او رښتينې يي ونه ګڼي هغه مسلمان او مؤمن نشي کيدې.

۳/ د رسول الله ﷺ له پيروۍ او اطاعت څخه سر غړونه؛ په دې بهانه چه يا خو وربانديې دغه پيروي فرض نه ده، او يا عامه سرغړونه کوي، چه د رسول الله د اوامرو او نواهيو سره بې پرواهي کوي.

هو، هغه څوک چه په الله تعالى او دهغه په رسول ﷺ باندي ايمان لري، او ځينې هغه ګناهونه ترې کيږي چه د اسلام او ايمان مناقض او ماتونکي نه وي، نو داسې بنده ګناهګار مسلمان ګڼل کيږي، او ددغې ګناه په سبب نه کافر کيږي، بلکه ددغسې بنده لپاره مونږ د الله تعالى د عفوې او بخښنې اميد کوو، او هم وربانديې ددغې ګناه په سبب له دردناک عذاب څخه ويريږو.

نو هر څوک چه ددغه نواقضو او د «شهادة أن محمداً رسول الله» د ماتونکو ګناهونو مرتکب شي داسې بنده په حقيقت کښې په رسول الله ﷺ باندي ايمان نلري، اګر که هغه په ژبه دغه ګواهي کوي، نو دده حال د هغه

منافقینو په شان دې چه الله تعالی د هغوئ په هکله فرمایي:

﴿إِذَا جَآءَكَ ٱلۡمُنَٰفِقُونَ قَالُواْ نَشۡهَدُ إِنَّكَ لَرَسُولُ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ إِنَّكَ لَرَسُولُهُۥ وَٱللَّهُ يَشۡهَدُ إِنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ لَكَٰذِبُونَ ۝١﴾ [المنافقون: ١].

ترجمه: «کله چه راشي تاته - اي پیغمبره - منافقان، نو وايي دوئ: مونږ ګواهي کوو چه بیشکه ته خامخا د الله تعالی رسول او پیغمبر یي، او الله تعالی ښه پوهیږي چه بیشکه ته خامخا د الله تعالی رسول او پیغمبر یي، خو- سره له دي هم- الله ګواهي کوي چه بیشکه دا منافقان خامخا دروغجن دي په دغه ګواهۍ خپله کښي».

نو دغه ګواهي د یو بنده څخه تر هغه پورې نه صحیح کیږي او ترې نه منل کیږي چه تر څو یي ددغه ګواهۍ غوښتنې پرځاي کړې نه وي، چه هغه محبت، تصدیق او اطاعت او پیروي ده.

نو دا ګواهي یواځې یو څو الفاظ نه دي چه یو څوک یي ووایي او مسؤولیت یي پوره شي، بلکه دا د ژوند پوره تګلاره ده، او په همدي باندي دده دعمل دارومدار موقوف دې، او ددي ګواهۍ په تحقیق او پوره عملي کولو باندي د بنده کامیابي او نیکبختي لاس ته ورځي.

او الله تعالی د هیڅ یو بنده هیڅ یو عمل تر هغه پورې نه قبلوي تر څو چه دوه شرطه پکښې پوره نه وي، چه هغه یو یي اخلاص، یعنې چه دغه عمل خاص د الله تعالی د رضامندۍ لپاره وي، او بل شرط دا چه هغه د رسول الله ﷺ د سنتو او طریقې سره برابر وي.

نو اخلاص د «لا إله إلاَّ الله» د ګواهۍ غوښتنه ده، او متابعت او د رسول الله ﷺ پیروي د «شهادة أن محمداً رسول الله» د ګواهۍ غوښتنه ده.

او هیڅ بنده تر هغه پورې د هدایت پیروان کیدې نشي ترڅو چه یي عمل خاص د الله تعالی د رضامندۍ لپاره نه وي، او هم پکښې د رسول الله ﷺ د سنتو پیروي نه وي.

او هر عمل چه د رسول الله ﷺ د سنتو مطابق نه وي، نو هغه عمل مردود او باطل دي؛ ځکه چه رسول الله ﷺ فرمايي: «مَنْ عَمِلَ عَمَلًا لَيْسَ عَلَيْهِ أَمْرُنَا فَهُوَ رَدٌّ». [رواه مُسْلمٌ من حديثِ عائشةَ رضي الله عنها].

ترجمه: «هر چا چه داسې یو عمل وکړ چه په هغه باندې زمونږ امر نه وي، نو هغه مردود او باطل دې».

وفي صحيحِ مُسلمٍ أيضًا من حديثِ جابرِ بنِ عبدِ اللهِ رضي الله عنهما أن النبيَّ ﷺ كان يقولُ في خُطْبتِه: «أما بعدُ، فإنَّ خيرَ الحديثِ كتابُ اللهِ، وخيرَ الهَدْيِ هَدْيُ مُحَمَّدٍ، وشرَّ الأمورِ مُحْدثاتُها، وكلَّ بدعةٍ ضَلالةٌ».

او په صحیح مسلم کښې د جابر بن عبد الله رضي الله عنهما په روایت کښې راغلي دي چه رسول الله ﷺ به د خطبې په سر کښې ویل: «أما بعد: بیشکه بهتره خبر ی د الله تعالی کتاب دې، او بهتر هدایت د محمد ﷺ رواړې هدایت دې، او بدترین له کارونو څخه بدعات او په دین کښې نوي کارونه دي، او په دین کښې هر نوې کار او بدعت ګمراهي او له دین څخه بې لاري ده».

او مبتدع د رسول الله ﷺ څخه سرغړوونکي او دهغه د راوړي هدایت

څخه بي لارې دې، او له دي بدعت له کبله ګمراه دې.

او بدعت په دوه ډوله دې:

لمړې: هغه بدعات چه د هغی په کولو سره بنده کافر کیږي.

دوهم: هغه بدعات جه دهغی په کولو سره بنده فاسق کیږي.

لمړي ډول بدعات هغه دي چه په هغی کښی د اسلام او ایمان له نواقضو او ماتوونکو څخه دکوم ناقض ارتکاب وي، لکه د غیر الله عبادت او بندګي، یا د الله او د رسول اللهﷺ تکذیب او دروغجن ګڼل، او یا داسی نور نواقض او ایمان ماتوونکي شیان، نو داسی بنده کافر او له اسلام څخه مرتد شمارل کیږي، لکه هغه خلك چه وايي: قرآنکریم ناقص دې، یا پکښی تحریف شوې دې، او یا هغه څوك چه وايي ددوي مشران په غیبو پوهیږي او د غیبو علم ورسره دې.

او دوهم ډول بدعات هغه دي چه په هغی کښی د اسلام او ایمان ماتوونکي ګناهونه نه وي، لکه د ځینو عبادتونو په ځینو ځایونو یا وختونو پورې خاص کول، یا د ځینو ځایونو او وختونو په ځینو عبادتونو پورې خاص کول، چه دغه تخصیص باندي کوم شرعي دلیل نه وي، لکه(مَوْلِدْ) یعنی د رسول اللهﷺ د پیدایښت په مناسبت جشنونه، اخترونه او میلی کول.

ځکه د رسول اللهﷺ هدایت او لارښوونه تر ټولو ښه هدایت او لارښوونه ده، او د بنده کمال او کامیابي په هغه اندازه ده څومره چه د رسول اللهﷺ د لارښوونی پیروان وي، نو هر څومره چه ډیر ددغه لارښوونی پیروان وي، هومره یي ثواب لوي او په دنیا او آخرت کښی به یي حالت ښه وي، او

هغومره به له شرونو، ګناهونو او د رسول الله د لارښوونی د مخالفت او د هغی دسزاګانو څخه و دسلامتیا خوا ته ډېر نژدی وي.

ځکه رسول اللهﷺ هیڅ یو بنده ته د هغه په دین او دنیا کښی یو امر نه کوي مګر په هغه څه چه ددغه بنده پکښی ددنیا او آخرت خیر وي، او د هیڅ کوم شي څخه یي نه منع کوي مګر په هغه کښی دده لپاره فساد او ضرر وي.

خو سره له دی هم له جنت څخه تکلیفونه او مشکلات چاپیر دي، او اور څخه شهوات چاپیر دي، نو هغه څوک چه د رسول اللهﷺ په رښتینولی باندي باوري وي، هغه به د رسول اللهﷺ د لارښوونی پیروي کوي، او د حرامو شهوتونو څخه به ځان ژغوري، اګر که دده نفس یي غواړي، او همدارنګه که دده د پیروی په لار کښی ورته کوم تکلیفونه او مشقّتونه رسیږي نو په هغی صبر کوي؛ ځکه ده ته د ښو او بدو انجامونه وریاد وي، او په همدغه طریقه دې له دردناك عذاب څخه بچ کیږي، او په لویو ثوابونو باندي کامیابیږي.

او هغه څوك چه د رسول اللهﷺ د لارښوونی مخالفت کوي، او هغه حرام کارونه کوي چه دده نفس یي غواړي، او د خپل نفس په خوشحالی پسی ګرزي، نو دغه بنده له دی نه په امن کښی نه دې چه ده ته دده په دین او دنیا کښی دده د ګناه په سبب سزا ورکړل شي؛ لکه چه الله تعالی فرمایي:

﴿فَلۡيَحۡذَرِ ٱلَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنۡ أَمۡرِهِۦٓ أَن تُصِيبَهُمۡ فِتۡنَةٌ أَوۡ يُصِيبَهُمۡ

عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٦٣﴾﴾ [النور: ٦٣].

ترجمه: «ويره دي ويريږي هغه کسان چه د رسول الله ﷺ له حکم او امر څخه سرغړونه کوي، (ويره دي وکړي) له دي څخه چه ورته به ورسيږي فتنه، او يا به ورته ورسيږي دردناک عذاب».

نو د ګناهونو کول کله کله د بنده په دين کښي دداسي فتني سبب شي چه بنده يي مقابله نشي کولاي، نو ګمراه بي لاری او په آخر کښي هلاک شي، او کله کله ددغه ګناه په سبب ورته په دنيا کښي يا په قبر کښي او يا هم په آخرت کښي دردناک عذاب ورسيږي.

او هغه څوک چه د رسول الله ﷺ د لارښوونی پيروان وي، نو هغه د الله تعالی لخوا په امن او اطمينان کښي وي، نه ويريږي، او نه خفه کيږي، او نه له سمی لاری څخه بی لاری کيږي، او نه بدبخت کيږي؛ ځکه هغه له شروع نه د ويری، غمونو، او ددنيا او آخرت له بدبختۍ څخه د سلامتيا په لاره تللي دي؛ ځکه الله تعالی فرمايي:

﴿يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ قَدۡ جَآءَكُمۡ رَسُولُنَا يُبَيِّنُ لَكُمۡ كَثِيرٗا مِّمَّا كُنتُمۡ تُخۡفُونَ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَيَعۡفُواْ عَن كَثِيرٖۚ قَدۡ جَآءَكُم مِّنَ ٱللَّهِ نُورٞ وَكِتَٰبٞ مُّبِينٞ ﴿١٥﴾ يَهۡدِي بِهِ ٱللَّهُ مَنِ ٱتَّبَعَ رِضۡوَٰنَهُۥ سُبُلَ ٱلسَّلَٰمِ وَيُخۡرِجُهُم مِّنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ بِإِذۡنِهِۦ وَيَهۡدِيهِمۡ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ﴿١٦﴾﴾ [المائدة: ١٥-١٦].

«اي اهل کتابو ! بيشکه راغلي دي تاسو ته زمونږ پيغمبر، چه بيانوي تاسو ته ډير هغه څه چه تاسو به پټول د کتاب له مسائلو څخه، او الله له ډيرو

سرغړونو ستاسو څخه عفو هم کوي، بیشکه راغلي دي تاسو ته د الله تعالی لخوا رڼا او کتاب واضح، چه لارښوونه کوي پدي سره الله هغه چا ته چه پیروي کوي د رضامندئ د الله تعالی-، (لارښوونه کوي)- په طرف د لارو د سلامتیا، او وباسي دوي لره له تیارو څخه رڼا ته په حکم خپل، او لارښوونه کوي دوي ته په طرف د سمی لاری».

او شک نشته چه الله تعالی په خپل پیغمبرﷺ باندي د رسالت رسَونه او ادا کول فرض کړي دي، نو هغهﷺ هم لکه چه ورته امر شوې وو همغه شان یي دالله دین خلکو ته رسولې دې؛ لکه چه الله تعالی فرمایي:

﴿۞يَـٰٓأَيُّهَا ٱلرَّسُولُ بَلِّغۡ مَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ مِن رَّبِّكَ﴾ [المائدة: ٦٧].

ترجمه: «أي پیغمبره ! ورسوه هغه دین خلکو ته چه د الله جل جلاله لخوا درته نازل شوې دې».

او همدارنګه پرمونږ باندي الله تعالی د رسول اللهﷺ اطاعت او پیروي فرض کړی ده، لکه چه فرمایي:

﴿قُلۡ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَۖ فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَإِنَّمَا عَلَيۡهِ مَا حُمِّلَ وَعَلَيۡكُم مَّا حُمِّلۡتُمۡۖ وَإِن تُطِيعُوهُ تَهۡتَدُواْۚ وَمَا عَلَى ٱلرَّسُولِ إِلَّا ٱلۡبَلَٰغُ ٱلۡمُبِينُ ٥٤﴾ [النور: ٥٤].

ترجمه: «ورته ووایه اي پیغمبره ! اطاعت او پیروي وکړئ د احکامو د الله تعالی او هم پیروي وکړئ د اوامرو د رسول اللهﷺ، نو که دوئ ددي امر له منلو څخه مخ وګرزولو نو (هیڅ پروا مه کوئ؛ ځکه)په پیغمبر باندي دې مسؤولیت او بوج د هغه کار چه په هغه باندي فرض شوې دې، او په تاسو

باندي بوج او مسؤولیت د هغه کار دې چه پر تاسو فرض شوې دې، خو که تاسو پیروي وکړئ ددغه پیغمبر نو تاسو به په سمه لار شئ، او سمه لار به ومومئ، او نشته په پیغمبر باندي مګر تبلیغ او رسَوَل ددین دي په واضح ډول».

او په پیغمبرﷺ باندي د دین د تبلیغ مسؤولیت اچول شوې وو، نو همغه شان چه الله تعالی ورڅخه غوښتلي وو ورسولو او بیان یي کړ، لکه چه رسول اللهﷺ له خلکو څخه د حجة الوداع په ورځ په هغه لویه غونډه کښی وپوښتل: «أَلاَ هَلْ بَلَّغْتُ»؟ یعنی: «خبردار ! ! آیا ما خپل مسؤولیت او ددین تبلیغ ادا کړ؟» نو خلکو ورته وویل چه: هو، نو بیا رسول اللهﷺ وفرمایل: «اللّٰهُمَّ اشْهَدْ» یعنی: «اي الله ته پری ګواه شه».

نو مونږ هم شاهدي او ګواهي کوو چه رسول اللهﷺ خپل مسؤولیت ادا کړې دې، او دا دین یي خلکو ته پوره رسولې دې، او هغه امانت چه دده په اوږو اچول شوې وو ښه پوره یي ادا کړې دې، او د خپل امت لپاره یي پوره خیرخواهي کړی ده، او د الله ددین په رسولو کښی یي پوره او حقیقي جهاد کړې دې، تر دي چه مرګ ورته راغې، او لدی فاني دنیا څخه رخصت شو.

او په مونږ باندی د پیغمبرﷺ د اتباع او پیروۍ امانت فرض شوې دې، چه په ظاهر او باطن، په ښکاره او پټه به د هغهﷺ پیروي کوو، نو که چا دغه امانت پوره ادا کړ هغه کامیاب دې، او له ملامتیا او عذابونو خلاص دې، او د لوئ ثواب لاس ته راوړونکې شو.

خو هغه څوک چه ددغه امانت په ادا کښی خیانت وکړي نو هغه په لوئ تاوان سره تاواني شو، لکه چه الله جل جلاله فرمايي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَخُونُواْ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ وَتَخُونُوٓاْ أَمَٰنَٰتِكُمۡ وَأَنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ٢٧﴾ [الأنفال: ۲۷].

ترجمه: «أي مؤمنانو تاسو خیانت مه کوئ د الله تعالی سره او د هغه د رسولﷺ سره، او خیانت مه کوئ په خپلو امانتونو کښی په داسی حال کښی چه تاسو پری پوهیږئ».

دریم درس: د الله تعالی او د رسول الله ﷺ پیروي فرض ده

د الله تعالی او د هغه د رسول ﷺ اطاعت او پیروي کول په اسلام کښې یو مهم اصل او بنسټ دي، او یو بنده تر هغه مسلمان کیدې نشي تر څو چه هغه د الله تعالی او د هغه د رسول ﷺ اوامرو ته غاړه ایښودونکې نشي، او دا عقیده ولري چه د الله تعالی او دهغه د رسول ﷺ اطاعت او پیروي کول فرض دي، نو هغه خلك چه د الله تعالی او د هغه د رسول ﷺ اطاعت او پیروي کوي داسی کامیابي وریه برخه کیږي چه د الله تعالی رضامندي، رحمت او لوئ فضل په لاس ورځي، او له دردناك عذاب څخه خلاصې مومي، او هغه څوك چه د الله تعالی او د هغه د رسول ﷺ له امر او احکامو څخه سر غړونه کوي او ورڅخه مخ اړوي نو داسی خلك په ښکاره تاوان باندي تاواني کیږي، او ځان د الله تعالی قهر او عذاب ته وړاندی کوي.

او هغه څوك چه دا عقیده لري او ګومان کوي چه پر ده د الله تعالی او د هغه د رسول ﷺ اطاعت او پیروي فرض نه ده، نو داسی بنده مسلمان کیدې نشي؛ ځکه الله تعالی فرمایي: ﴿وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ أَمْرًا أَن يَكُونَ لَهُمُ ٱلْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ ۗ وَمَن يَعْصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَٰلًا مُّبِينًا ٣٦﴾ [الأحزاب: ٣٦].

ترجمه: «هیڅکله روا نه دي هيڅ مؤمن سړي او نه مؤمنی ښځی ته دا کار - چه کله په یو کار کښی الله تعالی او د هغه رسولﷺ یوه فیصله وکړي -نو دغه مؤمن سړي او مؤمنی ښځی ته بیا په دغه کار ددوئ کښي د بل اختیار لټونه روا نه ده، او هغه څوك چه سرغړونه وکړي د الله تعالی او دهغه د رسولﷺ څخه، نو بیشکه دي بي لاری شو په بی لاریتوب ښکاره سره له حق نه».

همداراز الله تعالی د خپل کتاب په بل ځاي کښی فرمايي:

﴿۞يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ وَلَا تُبۡطِلُوٓاْ أَعۡمَـٰلَكُمۡ ٣٣﴾ [محمد: ٣٣].

ترجمه: «اي مؤمنانو تاسو پیروي وکړئ د الله تعالی او پیروي وکړئ د هغه د رسولﷺ، او خپل عملونه- د الله تعالی او د هغه د رسولﷺ په نافرمانۍ او سرغړونه- مه باطلوئ».

او همداراز الله تعالی د خپل کتاب په بل ځاي کښی بیا فرمايي:

﴿وَأَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ لَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُونَ ١٣٢﴾ [آل عمران: ١٣٢].

ترجمه: «او پیروي وکړئ - اي مومنانو - د الله تعالی او دهغه د رسولﷺ؛ ددي لپاره چه پر تاسو باندي د الله تعالی رحم وکړې شي».

همداراز الله تعالی په بل ځاي کښی فرمايي:

﴿وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ يُدۡخِلۡهُ جَنَّـٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ وَذَٰلِكَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ١٣ وَمَن يَعۡصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَتَعَدَّ

حُدُودَهُۥ يُدۡخِلۡهُ نَارًا خَٰلِدٗا فِيهَا وَلَهُۥ عَذَابٞ مُّهِينٞ ﴿١٤﴾ [النساء: ١٣-١٤].

ترجمه: «او هغه څوك چه پيروي او اطاعت كړي د الله تعالى او د هغه د رسولﷺ نو الله تعالى به يي داسى جنتونو ته ننباسي چه د هغى د ماېيو لاندي ويالى بهيږي، په داسى حال كښى چه هميشه به وي دوئ به دغه جنتونو كښى او همدا لويه كامبيابي ده، او - ددي په عكس - هغه څوك چه مخالفت او سرغړونه وكړي د الله تعالى او د هغه د رسولﷺ، او د الله تعالى له حدودو څخه تير شي، نو الله تعالى به يي اور ته ننباسي، په داسى حال كښى چه هميشه به وي دوئ په دغه اور كښى، او ددي سره سره به ددوئ لپاره سپكونكې عذاب هم وي».

همدغه شان الله تعالى په بل ځاي كښى فرمايي:

﴿وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ فَأُوْلَٰٓئِكَ مَعَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِم مِّنَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ وَٱلصِّدِّيقِينَ وَٱلشُّهَدَآءِ وَٱلصَّٰلِحِينَۚ وَحَسُنَ أُوْلَٰٓئِكَ رَفِيقٗا ﴿٦٩﴾ ذَٰلِكَ ٱلۡفَضۡلُ مِنَ ٱللَّهِۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ عَلِيمٗا ﴿٧٠﴾ [النساء: ٦٩-٧٠].

ترجمه: «او هغه څوك چه پيروي او اطاعت وكړي د الله تعالى او د هغه د رسولﷺ نو دوئ به د الله تعالى د هغه نيكانو بندګانو سره يوځاي وي چه الله تعالى ورباندي خپل نعمت كړې دې، چه هغوئ پيغمبران، صديقين، شهيدان او نور نيكان بندګان دي، او همدوئ ډير ښه دي په ملګرتوب كښى، او دا كار مهرباني ده د الله تعالى لخوا، او الله تعالى كافي دې په علم او پيژندلو د خلكو او د هغوئ د اعمالو او رفيقانو كښى».

همدارنګه الله تعالی په بل ځاي کښې فرمايي:

﴿وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا ٧١﴾ [الأحزاب: ۷۱].

ترجمه: «او هغه څوك چه پیروي وکړي د الله تعالی او د هغه د رسولﷺ نو بیشکه دې کامیاب شو په لوئ کامیابئ سره».

همداډول الله تعالی په بل ځاي کښې فرمايي: ﴿وَمَن يَعۡصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَإِنَّ لَهُۥ نَارَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا ٢٣﴾ [الجن: ۲۳].

ترجمه: «او هغه څوك چه مخالفت و سرغړونه وکړي د الله تعالی او د هغه د رسولﷺ نو یقیناً دده لپاره د جهنم اور دې په داسی حال کښې چه دوئ به په دغه اور کښې همیشه وي د تل لپاره».

او په بل ځاي کښې بیا فرمايي:

﴿مَّن يُطِعِ ٱلرَّسُولَ فَقَدۡ أَطَاعَ ٱللَّهَ﴾ [النساء: ۸۰].

ترجمه: «او هغه څوك چه د رسول اللهﷺ اطاعت او پیروي کوي، نو هغه په دغه پیروئ سره د الله تعالی پیروي کوي».

او د رسول اللهﷺ د پیروئ په اهمیت کښې الله تعالی په بل ځاي کښې فرمايي:

﴿وَمَآ ءَاتَىٰكُمُ ٱلرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَىٰكُمۡ عَنۡهُ فَٱنتَهُواْ﴾ [الحشر: ۷].

ترجمه: «او هغه څه چه تاسو ته يي رسول اللهﷺ درکوي او تاسو ته پری امر کوي نو هغه واخلئ او عمل پری وکړئ، او هغه څه چه رسول اللهﷺ تاسو ورڅخه منع کوي نو تاسو ورڅخه منع شئ».

نو دا ټول آیاتونه په دی ښکاره دلالت کوي چه د الله تعالی او د هغه د رسولﷺ اطاعت او پیروي کول فرض دي، او هغه څوک چه د الله او د هغه د رسولﷺ اطاعت او پیروي کوي الله ورته د جنتونو او نعمتونو وعده ورکوي، او هغه څوک چه د الله تعالی او د هغه د رسولﷺ څخه مخالفت او سرغړونه کوي نو الله تعالی یي په دردناک عذاب سره ویروي.

او اطاعت او پیروي داسی کیږي چه اوامر ومنل شي او عمل پری وشي، او هغه شیان چه ورڅخه منع راغلی وي بنده ورڅه ځان وساتي، او همدا د دین اصلي حقیقت دې، او هغه دا چه د الله تعالی په اوامرو عمل وشي، او هغه څه چه ورڅخه یي منع فرمایلی ده ورڅخه ځان وژغورل شي.

او الله جل جلاله دا دین مونږ ته آسان کړې دې، او مونږ یي په داسی څه مکلف کړي نه یو چه زمونږ له توان څخه بهر وي، بلکه په هغه څه مو مکلف کوي چه زمونږ په توان کښی وي، لکه چه الله جل جلاله په خپل کتاب کښی فرمایي:

﴿فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ مَا ٱسۡتَطَعۡتُمۡ﴾ [التغابن: ١٦].

ترجمه: «د الله تعالی څخه هومره ویریږئ چه ستاسو په طاقت او توان کښی وي».

همداشان الله تعالی فرمایي:

﴿لَا يُكَلِّفُ ٱللَّهُ نَفۡسًا إِلَّا وُسۡعَهَا﴾ [البقرة: ٢٨٦].

ترجمه: «نه مکلف کوي الله تعالی هیڅوک مګر په اندازه د توان د

هغې».

او په بل ځای کښې فرمايي:

﴿وَمَا جَعَلَ عَلَيۡكُمۡ فِي ٱلدِّينِ مِنۡ حَرَجٖ﴾ [الحج: ۷۸].

ترجمه: «او نه ده ګرزولې الله تعالی په تاسو باندی په دین کښې کومه سختي».

او د رسول اللهﷺ څخه ابوهريرهﷺ روايت کوي چه بيشکه رسول اللهﷺ فرمايلي دي: «إِنَّ الدِّينَ يُسْرٌ وَلَنْ يُشَادَّ الدِّينَ أَحَدٌ إِلاَّ غَلَبَهُ». [رواه البخاري].

ترجمه: «بيشکه دا دين آسان دې، او هيڅا له دين سره زور نه دې ويلې مګر دين ورباندی غالب شوې دې».

او د ابو هريرهﷺ په بل روايت کښې له رسول اللهﷺ څخه راغلي دي چه رسول اللهﷺ فرمايلي دي: «إِذَا نَهَيْتُكُمْ عَنْ شَيْءٍ فَاجْتَنِبُوهُ، وَإِذَا أَمَرْتُكُمْ بِأَمْرٍ فَأْتُوا مِنْهُ مَا اسْتَطَعْتُمْ». [متفق عليه].

ترجمه: «هغه څه چه زه تاسو ورڅخه منع کوم نو تاسو ورڅخه ځان وساتی، او هغه څه چه تاسو ته پری امر کوم نو څومره چه مو توان وي عمل پری وکړئ».

او د الله تعالی او د هغه د رسولﷺ اوامر دری درجې لري:

لومړۍ درجه: او هغه دا چه ددغه اوامرو څخه په اسلام باندي پاتي کيدل او استمرار لازميږي، چه دالله تعالی په توحيد باندی د امر کولو او په طاغوت باندي د کفر او له هغې څخه انکار کولو، او د اسلام له نواقضو او

ماتونکو څخه ځان ساتلو کښې د الله تعالی د اوامرو او احکامو اطاعت او پیروي وکړل شي.

نو هغه څوک چه ددي درجې اوامرو څخه مخالفت او سرغړونه کوي، او د الله تعالی سره شرک کوي، او یا هم د اسلام له نواقضو او ماتوونکو څخه د کوم ناقض او ماتوونکي مرتکب شي، لکه د الله تعالی او د هغه د رسولﷺ دروغجن ګڼل، او یا ددین په کومه مسأله پسی ټوقی مسخری کول، او یا داسی نورو نواقضو مرتکب شي نو داسی شخص کافر دې او د اسلام څخه وتلې دې.

دوهمه درجه: هغه اوامر چه په هغی باندی بنده له عذاب څخه بچ کیږي، لکه د واجباتو او فرائضو ادا کول، او له محرماتو څخه ځان ساتل، نو هغه څوک چه دا ډول اوامر عملي کوي نو دې د الله په حکم او امر باندی له عذاب څخه بچ کیږي، او ددغه اطاعت او پیروۍ له کبله له ده سره د الله تعالی لخوا د لوئ ثواب وعده ده، او دا درجه د متقینو بندګانو درجه ده.

دریمه درجه: د واجباتو او مستحباتو ادا کولو، او له محرماتو او مکروهاتو څخه د ځان ساتلو اوامر:

او همدا د بندګانو د کمال درجه ده، او ددي ډول اوامرو پوره کونکي د احسان دمرتبی خاوندان دي، له چا سره چه د اوچتو درجو وعده شوی ده، الله تعالی دی په خپل فضل او مهربانۍ ځمونږ هم دغه درجه په برخه کړي.

او الله تعالی مونږ لپاره دین پوره کړې دې، او په مونږ یي خپل نعمت پوره کړې دې، چه د اسلام دین یي راپوره کړې دې، لکه چه الله تعالی

فرمایي:

﴿ٱلۡيَوۡمَ أَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِينَكُمۡ وَأَتۡمَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ نِعۡمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلۡإِسۡلَٰمَ دِينٗا﴾ [المائدة: ۳].

ترجمه: «نن ورځ ما تاسو ته ستاسو دین بشپړ کړ، او په تاسو می خپل نعمت تمام او پوره کړ، او ستاسو لپاره می د اسلام مقدّس دین ددین په توګه غوره کړ».

نو د اسلام دین کامل دین دی، او د شریعت احکام یي زمونږ د ژوند ټولو اړخونو ته شامل دي، ځکه خو په دغه شریعت کښی نقص او کمې نشته، او نه پکښی کوم اختلاف او تناقض شته، بلکه دا پوره آسانه او فطرتي دین دې چه د هر وخت او هر ځاي لپاره صالح او پکښی چلیږي، او د بندګانو ټولو احوالو ته شامل دې.

او هغه څوک چه د الله تعالی او دهغه د رسولﷺ اطاعت او پیروي کوي، نو دې په حقیقت کښی دژوند په هر اړخ کښی سمی خوا ته لار موندونکې دې، لکه چه الله تعالی په خپل کتاب کښی فرمایي:

﴿إِنَّ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانَ يَهۡدِي لِلَّتِي هِيَ أَقۡوَمُ﴾ [الإسراء: ۹].

«بیشکه دا قرآنکریم هغی لاری ته ښودنه کوي چه ډیره سمه ده».

نو هیڅ بنده د الله تعالی په مخالفت او د هغه له کتاب څخه په سرغړونه کښی د خپل ځان لپاره کومه ښه پایله لاس ته نشي راوړې.

همداشان رسول اللهﷺ فرمایلي دي:

«أَحْسَنَ الْهَدْيِ هَدْيُ مُحَمَّدٍﷺ» [روه النسائي].

ترجمه: «او بیشکه ډیره ښایسته او بهترین هدایت او لارښوونه د محمدﷺ هدایت او لارښوونه ده».

نو د رسول اللهﷺ له لارښوونی څخه بله ښایسته او ښه لارښوونه نشته، او هیڅ امکان نشته چه یو بنده دي د رسول اللهﷺ په مخالفت او د هغه له لارښوونی څخه په سرغړونه کومی ښی درجی ته ورسیږي، او یا دی ورته کوم خیر په لاس ورشي، بلکه د بنده کمال، خلاصې، نیکبختي او د هدایت لوړی درجی ته رسیدل د هغه د رسول اللهﷺ د اتباع او د هغه د پیروۍ په اندازه باندی ده، الله جل جلاله فرمایي: ﴿قُلْ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنِّى رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا ٱلَّذِى لَهُۥ مُلْكُ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ لَآ إِلَـٰهَ إِلَّا هُوَ يُحْىِۦ وَيُمِيتُ ۖ فَـَٔامِنُوا۟ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِ ٱلنَّبِىِّ ٱلْأُمِّىِّ ٱلَّذِى يُؤْمِنُ بِٱللَّهِ وَكَلِمَـٰتِهِۦ وَٱتَّبِعُوهُ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿١٥٨﴾﴾ [الأعراف: ۱۵۸].

ترجمه: «اي خلکو ! یقیناً زه تاسو ټولو ته د الله لخوا پیغمبر او استاذې یم ، هغه الله تعالی چه د هغه په اختیار او ملکیت کښی د اسمانونو او ځمکی پاچاهي ده، نو نشته لایق د عبادت او بندګۍ مګر همغه یو الله تعالی دې چه ژوندي کول او مړه کول کوي، نو تاسو ایمان راوړۍ په الله تعالی او د هغه په رسول باندی، داسی پیغمبر چه په اصل کښی امي او ناخوانه دې(خو

وحي ورته د الله تعالی لخوا راغلی ده)، او داسی پیغمبر چه هغه پخپله هم په الله تعالی او د هغه په کلماتو ایمان لري، ددي لپاره چه تاسو په سمه لار شی».

نو هغه څوک چه د رسول اللهﷺ اتباع او پیروي کوي همدې په سمه لار دي، او هرڅوک چه له ده څخه سرغړونه کوي نو همدې ګمراه او بی لاری دي، الله جل جلاله فرمایي:

﴿وَمَن يُشَاقِقِ ٱلرَّسُولَ مِنۢ بَعۡدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ ٱلۡهُدَىٰ وَيَتَّبِعۡ غَيۡرَ سَبِيلِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ نُوَلِّهِۦ مَا تَوَلَّىٰ وَنُصۡلِهِۦ جَهَنَّمَۖ وَسَآءَتۡ مَصِيرًا ١١٥﴾ [النساء: ۱۱۵].

ترجمه: «او هغه څوک چه مخالفت او سرغړونه وکړي له پیغمبرﷺ څخه وروسته له هغه چه ده ته ښکاره شو هدایت او لارښوونه د رسول اللهﷺ، او پیروي وکړي د مسلمانانو له لاری نه غیر د بلی لاری، نو مونږ به یي هغه خواته وګرزوو چه دې ورته ګرزیدلي دې، او جهنم ته به یي ننباسو، او ډیر بد ځاي د ورتللو دې».

نو هر څوک چه په هر کار کښی د الله تعالی او دهغه د رسولﷺ څخه سر غړونه کوي، هغه ددغه ګناه په سبب فاسق دې، او پخپل دغه کار کښی ګمراه او بی لاری دې، اګر که هغه ځان ته بانی لټوي چه یا یي کوم مصلحت لټولو، او یا هم د کومی مفسدی مخنیوې یي کولو؛ ځکه د الله

تعالی څخه په سرغړونه هیڅ ډول مصلحت لاس ته نه راځي، او همدارنګه د الله تعالی په قهر کولو باندي د هیڅ ډول مفاسدو مخه نه نیول کیږي.

او هرڅوک چه د الله تعالی او د هغه د رسولﷺ څخه په سرغړونه باندی امر کوي او دا کار خلکو ته ښه ښکاره کوي نو دا شخص شیطان دې، هغه که بشري شیطانان وي او که جنّي شیطانان وي؛ ځکه د اسلام څلورم خلیفه علي بن ابي طالبرضي الله عنه فرمایي:

«لَا طَاعَةَ لِمَخْلُوقٍ فِي مَعْصِيَةِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ». [رواه أحمد ومسلم].

ترجمه: «یعنی د الله تعالی په مخالفت او سرغړونه کښی د هیچا اطاعت او پیروي روا نه ده».

او په دی کښی ټول هغه څوك شامل دي چه په عقیده، عباداتو او معاملاتو او د ژوند په نورو اړخونو کښی د الله تعالی په مخالفت او سرغړونه امر کوي او دغی خوا ته خلك بلي.

همدارنګه هرڅوك چه د بدعت یا درسول اللهﷺ له طریقی څخه بلی طریقی ته بلنه ورکوي، نو دغه شخص پخپله هم ګمراه او بی لاری دې، او نور هم له سمی لاری بی لاری کوي، الله سبحانه وتعالی فرمایي:

﴿وَأَنَّ هَٰذَا صِرَٰطِي مُسۡتَقِيمٗا فَٱتَّبِعُوهُۖ وَلَا تَتَّبِعُواْ ٱلسُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمۡ عَن سَبِيلِهِۦۚ ذَٰلِكُمۡ وَصَّىٰكُم بِهِۦ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ ١٥٣﴾ [الأنعام: ١٥٣].

ترجمه: «او بیشکه دغه مخکښی بیان شوی شیان ځما خوا ته لار ده

سمه، نو پدغه لار پسی ورپسی شئ او پیروي يي وکړئ، او پیروي مه کوئ د نورو لارو؛ ځکه په دغه سبب به د الله تعالی لاری نه بي لاری شئ، او په همدی کار باندي الله تعالی تاسو ته وصیت او کلک امر کوي ددی لپاره چه تاسو د هغه د مخالفت او سرغړونی څخه ځان وساتئ».

څلورم درس: د توحيد فضيلت

د توحيد معنی: خپل دين او عبادت او بندګي يوائې يو الله تعالی لپاره خاص کول، او همدا توحيد په اسلام کښې د يو بنده دداخليدو لپاره لومړنې شرط دې.

او همدا توحيد د «لا إله إلاّ الله» د ګواهۍ معنی ده، نو هغه څوک چه پخپل عبادت او بندګۍ کښې همدا يو الله تعالی يو ونه ګڼي، داسې بنده مسلمان کيدې نشي، اګر که هغه د مسلمانۍ دعوا هم کوي، او په ژبه د «لا إله إلاّ الله محمد رسول الله» کلمه هم وايي، نو دده دا کلمه ويل تر هغه پورې نه صحيح کيږي چه ترڅو يي د هغې د غوښتنو موافق عمل نه وي کړې، او هغه دا چه خپل دين عبادت او بندګي يوائې يو الله تعالی ته خاص کړي، او د الله تعالی پرته د نورو معبودانو له بندګۍ او عبادت څخه ځان بلکل لرې وساتي، او د شرك او مشرکينو څخه خپله بيزاري اعلان کړي، لکه چه الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿لَآ إِكۡرَاهَ فِي ٱلدِّينِۖ قَد تَّبَيَّنَ ٱلرُّشۡدُ مِنَ ٱلۡغَيِّۚ فَمَن يَكۡفُرۡ بِٱلطَّٰغُوتِ وَيُؤۡمِنۢ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱسۡتَمۡسَكَ بِٱلۡعُرۡوَةِ ٱلۡوُثۡقَىٰ لَا ٱنفِصَامَ لَهَاۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ٢٥٦﴾ [البقرة: ٢٥٦].

ترجمه: «نشته زور زیاتې په دین کښی، ځکه واضح او ښکاره شوی ده سمه لار له کږی لاری څخه، نو که څوک کفر او انکار وکړي له منلو د طاغوت څخه، او ایمان راوړي په یو الله تعالی باندی، نو یقیناً ده منګولی لګولی په ټینګه رسی باندی چه هیڅ شکیدل نشته هغی لره، او الله تعالی اوریدونکې او پوهه دې».

همداشان الله په بل ځاي کښی د مؤمنانو په صفت کښی فرمايي:

﴿وَٱلَّذِينَ ٱجۡتَنَبُواْ ٱلطَّٰغُوتَ أَن يَعۡبُدُوهَا وَأَنَابُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ لَهُمُ ٱلۡبُشۡرَىٰۚ فَبَشِّرۡ عِبَادِ ١٧﴾ [الزمر: ١٧].

ترجمه: «او مؤمنان هغه کسان دي چه ځان ساتي له عبادت او بندګی د طاغوت څخه، او راوګرزي په عبادت او بندګی خپلی کښی یواځی الله تعالی ته، نو د همدوئ لپاره زیرې دې، نو اي پیغمبره زیرې ورکړه زما بندګانو ته».

او همدارنګه الله تعالی فرمايي: ﴿وَلَقَدۡ بَعَثۡنَا فِي كُلِّ أُمَّةٖ رَّسُولًا أَنِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱجۡتَنِبُواْ ٱلطَّٰغُوتَ﴾ [النحل: ٣٦].

ترجمه: «بیشکه مونږ لیږلې دې په هر امت کښی یو پیغمبر او استاذې په دې خبره چه عبادت او بندګي وکړئ یواځی د یو الله تعالی او ځان وساتی د عبادت او بندګی د طاغوت څخه».

او طاغوت هرهغه چا ته ویل کیږي چه د الله تعالی نه غیر یي عبادت اوبندګي کیږي، او هغه ورباندی راضي وي.

نو د توحید لوئ فضیلت دادې چه هغه د اسلام اصل، بنیاد او بنسټ

دي، او د يو بنده په اسلام کښې داخليدل پرته له توحيد منلو څخه نه صحيح کيږي.

د موحّد ثواب په ټولو ثوابونو کښې لوئ دي: او هغه د الله عز وجلّ رضامندي، له اوره خلاصې، او جنت ته ننوتل، او د الله تبارك وتعالی ليدل دي.

لکه چه معاذ بن جبلﷺ له رسول اللهﷺ څخه روايت کوي چه هغه فرمايلي دي:

«مَا مِنْ أَحَدٍ يَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ صِدْقًا مِنْ قَلْبِهِ إِلاَّ حَرَّمَهُ اللَّهُ عَلَى النَّارِ». [رواه البخاري].

ترجمه: «نشته داسې يوه بنده چه هغه د «**لا إله إلاّ الله وأن محمداً رسول الله**» ګواهي وکړي، او دا ګواهي يي په رښتيني او له زړه څخه وي، مګر خو الله تعالی يي په اور باندي حرام کړي».

همدارنګه عبادة بن صامتﷺ وايي چه رسول اللهﷺ فرمايلي دي:

«مَنْ شَهِدَ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، وَأَنَّ عِيسَى عَبْدُ اللهِ وَرَسُولُهُ وَكَلِمَتُهُ أَلْقَاهَا إِلَى مَرْيَمَ وَرُوحٌ مِنْهُ وَالْجَنَّةُ حَقٌّ وَالنَّارُ حَقٌّ أَدْخَلَهُ اللَّهُ الْجَنَّةَ عَلَى مَا كَانَ مِنَ الْعَمَلِ». [متفق عليه]

ترجمه: «هغه څوك چه ګواهي وكړي چه نشته لايق د عبادت او بندګۍ مګر يو الله تعالی دي، په داسې حال کښې چه يو دي او هيڅ ډول شريك او برخوال نلري، او دا ګواهي وكړي چه محمدﷺ د الله تعالی بنده او پيغمبر دي، او عيسیؑ د الله تعالی بنده او پيغمبر دي او(پيدا شوي دي په)

هغه کلمه چه مریم علیها السلام ته یي ورغورزولی وه، او د الله تعالی لخوا روح دی، او همدا ګواهي وکړي چه جنت حق دی، اور حق دی، نو الله تعالی به یي جنت ته داخل کړي، سره له هغه عمله چه ده کړي وي، یعنی اګر که ډیر ښه نه وي، او یا دا معنی چه داخل به کړي الله ده لره جنت ته په هغه درجه چه ده یي عمل کړي وي، یعنی ننوتل جنت ته په توحید دي، او تفاوت ددرجاتو بیا په اعتبار د عمل سره دی».

نو د موحد مؤمن سره الله تعالی د جنت وعده کړی ده اګر که ده ځینی ګناهونه هم کړي وي، ځکه کیدی شي دغه نور ګناهونه چه له شرکه راټیټ دي الله تعالی یي ورته وبخښي او عفو ورته وکړي، او یا به ورته د هغه ګناه په اندازه عذاب په دنیا کښی ورکړي، یا په قبر کښی او یا د قیامت په میدان کښی او یا په اور کښی، خو په آخر کښی دی د الله تعالی په حکم جنت ته ځي.

او هر چه مشرک دي نو دده خو په ټولو کښی لویه سزا ده، او هغه د الله عزّوَجَلّ قهر غصه او تل تر تله د جهنم په اور کښی پاتی کیدل او د الله عزّوَجَلّ له لیدلو څخه بی برخی کیدل، الله ﷻ فرمایي:

﴿إِنَّهُۥ مَن يُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ فَقَدۡ حَرَّمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِ ٱلۡجَنَّةَ وَمَأۡوَىٰهُ ٱلنَّارُۖ وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنۡ أَنصَارٖ ٧٢﴾ [المائدة: ۷۲].

ترجمه: «بیشکه شان دادی هغه څوک چه شریکوال او برخوال ومني د الله تعالی سره نو یقیناً حرام کړ الله پر ده باندي جنت، او ځاي د ورتللو دده اور دی، او نشته د ظالمانو لپاره هیڅوک مددګار».

همداراز په بل ځاي کښی الله ﷻ فرمایي: ﴿كَلَّآ إِنَّهُمۡ عَن رَّبِّهِمۡ يَوۡمَئِذٖ

لَّمَحۡجُوبُونَ ١٥ ثُمَّ إِنَّهُمۡ لَصَالُواْ ٱلۡجَحِيمِ ١٦﴾ [المطففين: ١٥-١٦].

ترجمه: «هیڅکله داسی نه ده لکه چه دا کافر یي وایي، بیشکه دوئ به په دغه ورځ د قیامت له خپل رب او پروردګار څخه پناه او په پرده کښی وي(یعنی د الله تعالی د دیدار او لیدنی له نعمت څخه به بي برخی وي)، او بیا به بیشکه دوئ جهنم ته داخلیدونکي وي».

او شرک داسی ګناه ده چه الله عزّوَجَلّ یي نه بخښي، او نه له مشرکینو څخه عفو کوي، بلکه دوئ که په شرک باندی مړه شي او توبه ورڅخه ونه باسي، نو ددوئ لپاره یي د تل لپاره دردناک عذاب واجب او فرض کړی دي، چه خامخا به ورته رسیږي، لکه چه الله ﷻ فرمایي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغۡفِرُ أَن يُشۡرَكَ بِهِۦ وَيَغۡفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُۚ وَمَن يُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ فَقَدۡ ضَلَّ ضَلَٰلَۢا بَعِيدًا ١١٦﴾ [النساء: ١١٦].

ترجمه: «بیشکه الله عزّوَجَلّ بخښنه نه کوي د شرک د ګناه، او بخښي هغه ګناه چه له شرک پرته وي هغه چا ته چه د الله عزّوَجَلّ ورته خوښه شي، او هغه څوک چه د الله ﷻ سره شریک او برخَوال ومني نو یقیناً دي ګمراه او بی لاری شو په ګمراهی لری سره له حق نه».

او عبد الله بن مسعود رضي الله عنه له رسول الله ﷺ څخه روایت کوي چه هغه فرمایلي دي: «مَنْ مَاتَ وَهْوَ يَدْعُو مِنْ دُونِ اللهِ نِدًّا دَخَلَ النَّارَ وَقُلْتُ أَنَا مَنْ مَاتَ وَهْوَ لاَ يَدْعُو لِلَّهِ نِدًّا دَخَلَ الْجَنَّةَ». [رواه البخاري].

ترجمه: «هغه څوک چه مړ شو په داسی حال کښی چه هغه د الله عزّوَجَلّ څخه پرته بل څوک رابللو او چیغه یي ورته وهله نو هغه به اور ته

ننوځي».

ابن مسعودؓ وایي: او ما ورسره وویل: هغه څوک چه مړ شو او هغه له الله تعالی سره شریک نه رابلي نو هغه به جنت ته داخل شي.

د شرک معنی دا ده چه د الله عزّوَجَلّ د عبادت او بندګۍ ترڅنګ د بل چا عبادت او بندګي هم وشي، او دغه غیر الله د الله عزّوَجَلّ سره په عبادت او بندګۍ کښې شریکوال او برخَوال وګڼل شي، خو څوک چه د الله تعالی سره بل څوک شریکوال او برخَوال ومني نو دده مخکنۍ نیک عمل تباه او برباد او دې له تاوانیانو څخه کیږي؛ لکه چه الله ﷻ فرمایي: ﴿وَلَقَدۡ أُوحِيَ إِلَيۡكَ وَإِلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكَ لَئِنۡ أَشۡرَكۡتَ لَيَحۡبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ۝٦٥ بَلِ ٱللَّهَ فَٱعۡبُدۡ وَكُن مِّنَ ٱلشَّٰكِرِينَ ۝٦٦﴾ [الزمر:٦٥-٦٦].

ترجمه: «او بیشکه وحیې شوی ده تاته - اي محمدﷺ -، او هم وحیې شوی ده هغه پیغمبرانو ته چه له تا څخه مخکښې وو، وحیې شوی ده ددی خبری چه که تا شرک وکړ د الله تعالی سره نو خامخا برباد به شي ستا نیک عمل او خامخا ته به د تاوانیانو له جملی څخه شی، بلکه ته عبادت او بندګي وکړه یواځی د یو الله عزّوَجَلّ، او ته د شکرګزارو له جملی څخه شه».

۲/ دتوحید دوهم فضیلت: او هغه دا چه توحید د هر عمل د قبول لپاره اساسي شرط دې، نو د مشرک ټول اعمال الله ﷻ ته د منلو او قبلولو وړ نه دي، بلکه د اسلام دین څخه بل هر دین د الله ﷻ په وړاندی د منلو او قبلولو وړ نه دې، لکه چه الله عزّوَجَلّ فرمایي:

﴿وَمَن يَبۡتَغِ غَيۡرَ ٱلۡإِسۡلَٰمِ دِينٗا فَلَن يُقۡبَلَ مِنۡهُ وَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنَ

ٱلۡخَٰسِرِينَ ۝٨٥﴾ [آل عمران: ۸۵].

همدارنګه الله جل جلاله د ډېرو انبیاؤ له یادونې وروسته فرمایي:

﴿وَلَوۡ أَشۡرَكُواْ لَحَبِطَ عَنۡهُم مَّا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ۝٨٨﴾ [الأنعام: ۸۸].

ترجمه: «او کچیرې بالفرض دغه انبیاء -علیهم السلام- هم شرک وکړي نو ددوئ کړي نیک عملونه به برباد او ابته شي».

او د کفارو په هکله الله ﷻ فرمایي:

﴿وَقَدِمۡنَآ إِلَىٰ مَا عَمِلُواْ مِنۡ عَمَلٖ فَجَعَلۡنَٰهُ هَبَآءٗ مَّنثُورًا ۝٢٣﴾ [الفرقان: ۲۳].

ترجمه: «او قصد کړي دي مونږ هغه عمله ته چه دوئ کړې وي، نو وګرزوو مونږ هغه لره ګرد او غبار او دوړه الوزولی شوی».

نو د مشرک عمل برباد او نامنل شوې دي؛ ځکه الله عزّوَجَلّ د هیڅ مشرک څخه هیڅ یو عمل نه قبلوي.

او ددی پر عکس د مؤمن موحد عمل د الله تعالی په وړاندې مقبول او منظور دي اګر که لږ هم وي، بلکه دغه لږ عمل ورته الله ﷻ څو چنده زیاتوي.

۳/ د توحید بل فضیلت دادې چه د مؤمن موحد په زړه کښې آرام، قلبي سکون، او زړه یي مطمئن وي؛ ځکه چه موحد یواځې یو پروردګار رابلي، چه هغه اوریدونکې لیدونکې او په هر څه پوهه، توان لرونکې مهربان او رحم کونکې دې، ټول اختیارات د هغه په لاس کښې دي، ګټه او تاوان رسَوَل د هغه په لاس کښې دي.

نو نشته لایق د عبادت اوبندګۍ مګر همدغه یواځې یو الله ﷻ دې، او

مؤمن د همدغه یو الله عزّوَجَلّ عبادت او بندګي کوي، په همغه باندي توکل او اعتماد کوي، او د هغه د رحمت او مهرباني امید لري او د همغه د عذاب څخه ویرېږي، او د همغه په خوشحالی او رضامندۍ پسی ورپسی وي، او د هغه فضل اورحم پسی اوړي راوړي، او دهغه زړه د الله تعالی په ذکر باندي مطمئن وي، په الله تعالی باندي د اعتماد له کبله له بل هرچا څخه بی پروا وي، او له همدی سببه عزتمند او قوي وي، په یو الله توکل کوي، له بل چا څخه نه ویرېږي او نه هم خفه کیږي، او نه ګمراه او بی لاری کیږي او نه به بدبخته وي.

خو په مقابل کښی مشرک د الله پرته خپل مشکل ته هغه څوک رابلي چه نه ورته ګټه رسولې شي او نه ورڅخه ضرر دفع کولې شي، د الله تعالی پرته د نورو ډیرو معبودانو ترمنځ دده زړه حیران وي، حال دا چه هغوئ ټول دده له بلنو او چیغو څخه ناخبره وي.

الله تَعَالَی د یوسف عليه السلام دعوت رانقلوي چه فرمايي:

﴿ءَأَرۡبَابٞ مُّتَفَرِّقُونَ خَيۡرٌ أَمِ ٱللَّهُ ٱلۡوَٰحِدُ ٱلۡقَهَّارُ ٣٩﴾ [يوسف: ٣٩].

ترجمه: «آیا ډیر معبودان چه سره مختلف وي غوره او بهتر دي او که یواځی یو الله تعالی چه یو او زورور دې».

همدارنګه الله تعالی فرمایي:

﴿ضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلٗا رَّجُلٗا فِيهِ شُرَكَآءُ مُتَشَٰكِسُونَ وَرَجُلٗا سَلَمٗا لِّرَجُلٍ هَلۡ يَسۡتَوِيَانِ مَثَلًاۚ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِۚ بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ٢٩﴾ [الزمر: ٢٩].

ترجمه: «مثال بیانوي الله تعالی د یو غلام (مریي)سړي چه په هغه کښی

شریکان وي یو له بل سره مخالف، او د بل غلام(مریي) سړي چه هغه ځانته د یو سړي وي، آیا دوي دواړه سره په صفت د ژوند او راحت کښی سره برابر دي؟(بلکه نه دي برابر) نو ټول د کمال صفتونه خاص یو الله تعالی لره دي خو ډیر له دوي څخه نه پوهیږي».

همداراز فرمایي:

﴿وَمَنۡ أَضَلُّ مِمَّن يَدۡعُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَن لَّا يَسۡتَجِيبُ لَهُۥٓ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَهُمۡ عَن دُعَآئِهِمۡ غَٰفِلُونَ ۝٥ وَإِذَا حُشِرَ ٱلنَّاسُ كَانُواْ لَهُمۡ أَعۡدَآءٗ وَكَانُواْ بِعِبَادَتِهِمۡ كَٰفِرِينَ ۝٦﴾ [الأحقاف:٥-٦].

ترجمه: «او څوک دي ډیر ګمراه او بی لاری له هغه چا څخه چه رابلي د الله تعالی پرته هغه څوک چه که دې ورته اواز کوي او رابلي یي نو تر قیامته پوری دده اواز نه اوري، او نه ورسره کومک او مرسته کولې شي، بلکه هغوئ دده له رابللو څخه ناخبره دي، او کله چه خلك د قیامت په ورځ راژوندي او راغونډ کړل شي نو دا معبودان به له دغه عابدانو سره دښمني کونکي وي، او ددوئ په عبادت او بندګی به کفر کونکي او انکار کونکي وي».

همدارنګه الله عزّوَجَلّ په بل ځاي کښی فرمایي:

﴿ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَلَمۡ يَلۡبِسُوٓاْ إِيمَٰنَهُم بِظُلۡمٍ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمُ ٱلۡأَمۡنُ وَهُم مُّهۡتَدُونَ ۝٨٢﴾ [الأنعام: ٨٢].

ترجمه: «هغه کسان چه مؤمنان دي او ګډ کړې یي نه دې د خپل ایمان سره شرك، نو همدغه خلك ددوي لپاره امن دې او همدوئ په سمه لار

دي».

رسول اللهﷺ دلته په دي آيت شريف کښې د «ظلم» معنی په شرک سره کړې ده، او په دليل کښې يي د سورت لقمان هغه آيت شريف پيش کړې دې چه پکښې راځي:

﴿إِنَّ ٱلشِّرۡكَ لَظُلۡمٌ عَظِيمٞ ١٣﴾ [لقمان: ۱۳].

ترجمه: «بيشکه شرک ډير لوئ ظلم دې».

۴/ د توحيد له فضايلو څخه څلورم فضيلت دادې چه توحيد د الله عزَّوَجَلَّ د محبت لپاره ډير لوئ سبب دې چه لدي کبله الله تعالی له بنده سره محبت کوي، او همدارنګه ډير برکتونه د الله ﷻ له محبت څخه لاس ته راځي لکه: د ګناهونو بخشش، له سختو سختيو څخه خلاصې، د نيکيو دوچنده کيدل، ددرجاتو پورته کيدل، د شرونو او آفتونو څخه د الله تعالی حفاظت، د دښمنانو د پلمو شنډول، او د سوچونو او غمونو ختمول، د نعمتونو او برکتونو لاس ته راتلل، د عذابونو او عقوبتونو څخه بچ کيدل، او د نفس او شيطان له غلامۍ او مريبتوبه، او د بنده له بندګۍ څخه آزادي، د ايمان او اخلاص خوږوالې او خوند څکل، او د الله تعالی ملاقات ته شوق او له تورو تيارو څخه رڼاګانو ته وتل، چه د شرک له تورو تيارو څخه د توحيد سپينې رڼا ته ووځي، او د ګناه له ذلت او خوارۍ څخه د الله اطاعت او پيروۍ عزت ته ووځي، او د جهل او ناپوهۍ څخه د علم او پوهې رڼا ته ووځي، او د شک او حيرانتيا څخه يقين ته ورشي، او دګمراهۍ له ډيرو لارو څخه د الله ﷻ يوې سمې لارې ته برابر شي.

د موحدينو تر منځ تفاضل:

مسلمانان د توحید په تحقیق کښې سره یو شان نه دي، بلکه ددوئ تر منځ سره په درجو کښې ډیر توپیر وي، او هر څومره چه یو بنده کښې د الله تعالی لپاره اخلاص ډیر وي، نو هومره یي د توحید له فضایلو څخه برخه لویه وي، او په همدغه اندازه یي د الله تعالی د رضامندۍ ولایت مهربانۍ رحمت او برکتونو او په دنیا او آخرت کښې د ثوابونو برخه لویه وي.

او دده د اخلاص په اندازه د شیطان له سلطی او ضررونو څخه دده خلاصیدل هم وي، لکه چه الله تعالی د شیطان د قسم او سوګند په هکله چه هغه به بنیادمان بې لارې کوي، نو الله تعالی وفرمایل: ﴿قَالَ رَبِّ بِمَآ أَغۡوَيۡتَنِي لَأُزَيِّنَنَّ لَهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَأُغۡوِيَنَّهُمۡ أَجۡمَعِينَ ۝٣٩ إِلَّا عِبَادَكَ مِنۡهُمُ ٱلۡمُخۡلَصِينَ ۝٤٠ قَالَ هَٰذَا صِرَٰطٌ عَلَيَّ مُسۡتَقِيمٌ ۝٤١ إِنَّ عِبَادِي لَيۡسَ لَكَ عَلَيۡهِمۡ سُلۡطَٰنٌ إِلَّا مَنِ ٱتَّبَعَكَ مِنَ ٱلۡغَاوِينَ ۝٤٢﴾ [الحجر: ۳۹-۴۲].

ترجمه: «وویل شیطان: اي پروردګاره! لدي کبله چه زه دې بې لارې کړم، نو خامخا به ښایسته ښکاره کوم دې بنیادمانو ته ددنیا څیزونه او ژوند، او ګمراه او بې لارې به کړم دوئ ټول، مګر خو به ګمراه او بې لارې نشي، بلکه بچ به شي هغه ځینې خاص بندګان ستا، نو وویل ورته الله ﷻ: دغه ځما لار ده ما طرف ته سمه، بیشکه نشته تا لره ځما پر بندګانو باندې کوم زور، مګر هغه څوک چه ستا پیروي کوي د ځینو بې لارو او ګمراهانو او سرکښانو او سرغړوونکو څخه».

او په بل ځاي کښې الله عزّوَجَلّ فرمایي:

﴿فَإِذَا قَرَأۡتَ ٱلۡقُرۡءَانَ فَٱسۡتَعِذۡ بِٱللَّهِ مِنَ ٱلشَّيۡطَٰنِ ٱلرَّجِيمِ ۝٩٨ إِنَّهُۥ

لَيۡسَ لَهُۥ سُلۡطَٰنٌ عَلَى ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَلَىٰ رَبِّهِمۡ يَتَوَكَّلُونَ ﴿٩٩﴾ إِنَّمَا سُلۡطَٰنُهُۥ عَلَى ٱلَّذِينَ يَتَوَلَّوۡنَهُۥ وَٱلَّذِينَ هُم بِهِۦ مُشۡرِكُونَ ﴿١٠٠﴾﴾ [النحل: ٩٨-١٠٠].

ترجمه: «کله چه ته قرآنکریم لولی نو پناه وغواړه په الله تعالی پورې له رټلي شوي شیطان څخه؛ بیشکه نشته شیطان لره زور او توان په هغه کسانو چه کامل ایمان لرونکي دي، او په خپل رب او پروردګار باندي توکل او اعتماد کوي، بیشکه دهغه زور او توان په هغه چا بَر دي چه له شیطان سره دوستي کوي، او په هغه کسانو چه شیطان د الله تعالی سره شریکوي په عبادت او بندګۍ کښې».

نو هغه څوک چه په توحید او اخلاص کښې د احسان درجې ته ورسیږي، او د شرک اکبر او شرک اصغر له شبهو څخه خلاص وي، او د الله عزّوَجَلّ داسی عبادت او بندګي کوي لکه دې چه الله تعالیویني، نو داسی کسان جنت ته پرته له کوم حساب کتاب څخه داخلیږي، او هلته هم د جنت لوړې لوړې درجې لاس ته راوړي، الله دې په خپل فضل او مهربانۍ زمونږ برخه هم پکښې وکړي.

پنځم درس: د دين اسلام معنی

الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿إِنَّ ٱلدِّينَ عِندَ ٱللَّهِ ٱلۡإِسۡلَٰمُ﴾ [آل عمران: ١٩].

ترجمه: «بيشكه صحيح او قبول دين د الله عزّوَجَلّ په وړاندی يوائحی د اسلام مقدّس دين دې».

همدارنګه يي فرمايلي دي:

﴿وَمَن يَبۡتَغِ غَيۡرَ ٱلۡإِسۡلَٰمِ دِينٗا فَلَن يُقۡبَلَ مِنۡهُ وَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ٨٥﴾ [آل عمران: ٨٥].

ترجمه: «او هغه څوک چه لټوي د اسلام مقدس دين څخه پرته بل دين، نو هيڅکله به ورڅخه ونه منل شي، او حال دا چه داسی بنده به په آخرت کښی له تاوانيانو څخه وي».

همداراز فرمايي:

﴿فَإِلَٰهُكُمۡ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞ فَلَهُۥٓ أَسۡلِمُواْۗ وَبَشِّرِ ٱلۡمُخۡبِتِينَ ٣٤﴾ [الحج: ٣٤].

ترجمه: «نو معبود برحق ستاسو يو معبود دې (چه الله عزّوَجَلّ دې)، نو همدغه الله تعالی ته تسليم او غاړه اېښودونکي شی، او زيرې ورکړه اي پيغمبره عاجزي کونکو ته».

او په بل ځاي کښی فرمايي:

﴿وَقُل لِّلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡأُمِّيِّـۧنَ ءَأَسۡلَمۡتُمۡۚ فَإِنۡ أَسۡلَمُواْ فَقَدِ ٱهۡتَدَواْۖ وَّإِن تَوَلَّوۡاْ فَإِنَّمَا عَلَيۡكَ ٱلۡبَلَٰغُۗ وَٱللَّهُ بَصِيرُۢ بِٱلۡعِبَادِ ٢٠﴾ [آل عمران:۲۰].

ترجمه: «او ووايه اي پيغمبره اهل کتابو او اميانو (يعنی مشرکينو)ته: آيا تاسو اسلام راوړئ؟ نو که دوئ اسلام راوړ نو دوئ هم په سمه لار شو، او که يي له اسلام څخه مخ وګرزولو، (نو ته غم مه کوه)په تا باندی فقط رسوَل د حق دي، او نور نو الله ﷻ ښه ليدونکي دې خپلو بندګانو لره او د هغوئ عملونو لره».

همدا ډول الله ﷻ په بل ځاي کښی فرمايي:

﴿وَمَنۡ أَحۡسَنُ دِينٗا مِّمَّنۡ أَسۡلَمَ وَجۡهَهُۥ لِلَّهِ وَهُوَ مُحۡسِنٞ﴾ [النساء: ۱۲۵].

ترجمه: «او څوک دي ډېر ښايسته په دين کښی له هغه چا نه چه تابع کړې او تسليم کړې يي دې مخ خپل يو الله عزّوَجَلّ ته، په داسی حال کښی چه دی نيک عمل کونکې هم وي».

نو د اسلام معنی: په دين او عبادت او بندګئ کښی يو الله خاص کول، او د الله تعالی اوامر او احکامو ته غاړه ايښودل.

او اسلام د عقيدی او شريعت دواړو نوم دې، نو د عقيدی اساس صحيح علم دې، او شريعت نه مراد هغه احکام دي چه په بنده باندي يي منل او عملی کول فرض دي، الله عزّوَجَلّ فرمايي:

﴿وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ حُنَفَآءَ وَيُقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ

﴿وَيُؤۡتُواْ ٱلزَّكَوٰةَۚ وَذَٰلِكَ دِينُ ٱلۡقَيِّمَةِ ۝٥﴾ [البينة:٥].

ترجمه: «دی خلکو ته امر نه دې شوې مګر ددی خبری چه عبادت او بندګي وکړي د يو الله عزّوَجَلّ په داسی حال کښی چه خالص کونکي وي الله لپاره ددين او عبادت خپل، او په داسی حال کښی چه کلك ولاړ وي پر حق او مايل نه وي باطل خوا ته، او پوره پر وخت له آدابو سره ادا کوي لمونځ، او ورکوي زکات او همدا کارونه محکم دين دې چه مستقيم دې او هيڅ کوږوالې پکښی نشته».

نو يو بنده تر هغه پورى مسلمان کيدې نشي تر څو چه دوه شرطونه پوره نکړي:

لومړي: د دين، عبادت اوبندګۍ يواځی يو الله تعالى لپاره خاص کول، نو الله عزّوَجَلّ به په عبادت او بندګۍ يو ګڼي، او له شرك څخه به ځان ساتي.

دوهم: الله عزّوَجَلّ ته غاړه ايښودل، چه د هغه اوامر به مني او پر ځان به يي عملي کوي او له منع شوو شيانو څخه به اجتناب او ځان ساتي.

نو هغه څوك چه په عبادت او بندګۍ کښی يواځی يو الله خاص کوي، او د هغه اوامر ته غاړه ږدي همدا بنده مسلمان او رښتيني مؤمن دې.

له دی تفصيل څخه ښکاره شوه چه مشرك مسلمان کيدې نشي؛ ځکه ده خپل دين او عبادت يو الله عزّوَجَلّ ته خاص کړي نه دي، همداړول د الله تعالى له عبادت او بندګۍ څخه تکبر کوونکې هم مسلمان کيدې نشي؛

ځکه هغه د الله تعالی اوامر ته غاړه ایښی نه ده، لکه چه الله ﷻ فرمایي:

﴿لَّن يَسۡتَنكِفَ ٱلۡمَسِيحُ أَن يَكُونَ عَبۡدٗا لِّلَّهِ وَلَا ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ ٱلۡمُقَرَّبُونَۚ وَمَن يَسۡتَنكِفۡ عَنۡ عِبَادَتِهِۦ وَيَسۡتَكۡبِرۡ فَسَيَحۡشُرُهُمۡ إِلَيۡهِ جَمِيعٗا ١٧٢ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَيُوَفِّيهِمۡ أُجُورَهُمۡ وَيَزِيدُهُم مِّن فَضۡلِهِۦۖ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ ٱسۡتَنكَفُواْ وَٱسۡتَكۡبَرُواْ فَيُعَذِّبُهُمۡ عَذَابًا أَلِيمٗا وَلَا يَجِدُونَ لَهُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ وَلِيّٗا وَلَا نَصِيرٗا ١٧٣﴾ [النساء: ۱۷۲-۱۷۳].

ترجمه: «هیڅکله بد نه ګڼي مسیح عیسی علیه السلام چه هغه دی د الله تعالی بنده وي، او نه بد ګڼي دا کار الله تعالی ته نزدی او مقرب ملایکی، او هغه څوک چه بد وګڼي بندګي د الله تعالی او ځان لوئ وګڼي، زر دې چه الله عزّوَجَلّ به يي خپل ځان طرف ته راغونډ کړي، نو هغه کسان چه مؤمنان دي او نیک عملونه کوي نو پوره به ورکوي هغوي ته د هغوئ اجرونه، او ورزیاتوي ورته فضل او مهرباني خپله، او هر چه هغه کسان دي چه بد ګڼي بندګي د الله تعالی او ځان لوئ ګڼي نو عذاب به ورکړي هغوئ ته دردناک عذاب، او نه به مومي دوئ پرته له الله تعالی څخه څوک دوست او نه مرسته کونکې».

او مسلمانان د اسلام په ښایست او ښه والي کښی سره يو شان نه دي، بلکه دوئ يو له بل سره په بهترئ کښی توپیر او فرق لري، څومره چه د چا اخلاص بهتر وي، د الله تعالی تابعداري او پیروي يي کامله وي نو هومره هغوئ له نورو څخه بهتر او په درجو کښی لوړ وي.

نو دوئ هم د دین په هغه دری درجو باندي ویشل شوي دي چه رسول

الله ﷺ د جبریل علیه السلام په هغه اوږد حدیث شریف کښې بیان کړي دي، او هغه دا چه: ۱/ مرتبه د اسلام، ۲/ مرتبه د ایمان. ۳/ مرتبه د احسان.

او په ټولو مرتبو کښې بهتره او غوره مرتبه د احسان مرتبه ده، او ورپسی د ایمان مرتبه او آخرنی یي د اسلام مرتبه ده، نو هر مؤمن مسلمان دې، خو هر مسلمان د مؤمن مرتبی ته نشي رسیدې.

او د اسلام ارکان پنځه دي لکه چه د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما په حدیث شریف کښې راغلي دي چه رسول الله ﷺ فرمایلي دي:

«بُنِيَ الإِسْلاَمُ عَلَى خَمْسٍ شَهَادَةِ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ، وَإِقَامِ الصَّلاَةِ، وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ وَالْحَجِّ، وَصَوْمِ رَمَضَانَ» [متفق علیه].

ترجمه: «اسلام پر پنځه بنسټونو باندي جوړ دې:

۱/ د «أشهد أن لا إله إلا الله وأشهد أن محمداً رسول الله» ګواهي کول، چه معنی یي مخکښې تیره شوه.

۲/ د لمونځ پوره په خپل وخت کښې له ټولو حقوق سره ادا کول.

۳/ د زکات ورکول.

۴/ د بیت الله شریف حج کول.

۵/ او د رمضان د مبارکی میاشتی روژه نیول».

داحدیث شریف په صحیح بخاري او صحیح مسلم شریف کښې دې.

همدارنګه د معاذ بن جبل رضي الله عنه په روایت کښې رسول الله ﷺ فرمایي:

«رَأْسُ الْأَمْرِ الْإِسْلَامُ، وَعَمُودُهُ الصَّلَاةُ، وَذِرْوَةُ سَنَامِهِ الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ

اللّٰهِ». [رواه أحمد من حديث مُعاذِ بن جَبَلٍ‌رضي الله عنه].

ترجمه: «د ټولو کارونو سر او مهم کار اسلام دی، او د اسلام ستن بیا لمونځ کول دي، او د کوپي سر يي د الله تعالی په لار کښې جهاد کول دي».

مؤمنان سره په ایمان کښې هم یو شان نه دي، بلکه دوئ په ایمانونو کښې سره توپیر لري: نو ځینی يي په ایمان کښې له ځینی نورو څخه زیات وي؛ ځکه ایمان په اصل کښې د زړه تصدیق او په ژبه وینا او په اندامونو باندي عمل کولو ته وايي، چه نیکو اعمالو باندی زیاتیږي او په ګناهونو باندی کمیږي.

او هر څومره چه دیو بنده د زړه تصدیق قوي او مضبوط وي او وینا او عمل يي له نورو ښایسته وي، نو د هغه د هغه ایمان هم له هغوئ څخه لوئ وي.

او کله چه یو بنده ګناه وکړي نو دده ایمان کم شي، خو کله چه بیرته توبه وباسي او خپل ځان او عمل اصلاح کړي نو الله ورله توبه قبوله کړي، او بیرته ورله ایمان زیات کړي.

د ایمان پوره کیدل او کمال په هغه څه راځي چه رسول الله ﷺ پری د ایمان پوره والی فرمایلي دي لکه چه فرمایي:

«مَنْ أَحَبَّ لِلَّهِ وَأَبْغَضَ لِلَّهِ وَأَعْطَى لِلَّهِ وَمَنَعَ لِلَّهِ فَقَدِ اسْتَكْمَلَ الإِيمَانَ».
[رواه أبو دَاوُدَ وغيرُه من حديثِ أبي أُمامة البَاهِلِيِّ‌رضي الله عنه].

ترجمه: «هغه څوک چه د یو چا سره محبت او مینه د الله تعالی د رضامندئ لپاره کوي، او د بل سره بغض او کینه هم د الله تعالی لپاره کوي،

او ورکړه او منع هم د الله تعالی لپاره کوي، نو داسی بنده ایمان پوره کړې دې».

د الله لپاره خوښول د الله لپاره له چا سره محبت کولو څخه عام دې؛ ځکه د الله لپاره خوښول د ټولو هغه شیانو خوښولو ته شامل دې چه د الله عزّوَجَلّ له کبله خوښول کیږي: لکه اشخاص، کارونه عملونه اقوال او ویناوی، احوال اومقصدونه، اخلاق، او ځایونه او وختونه او داسی نور.

همدارنګه د الله عزّوَجَلّ لپاره ورکړه د مال له ورکړی څخه عامه ده، ځکه د الله تعالی لپاره ورکړه ټولو هغه شیانو ته شامله ده چه د الله تعالی د رضامندئ لپاره ورکول کیږي، لکه: مال، جاه او اثر او رسوخ، علم، کوښښ او وخت، او همدارنګه منع هم دغه شان ده.

نو هغه څوک چه محبت او بغض او کینه یي د الله تعالی لپاره وي، ورکړه او منع یي د الله تعالی لپاره وي، نو همدغه مؤمن بنده دکامل ایمان خاوند دې، الله تعالی دی پخپل فضل زمونږ ایمانونه کامل کړي. آمین.

دایمان اصول او بنسټونه:

د ایمان اصول او بنسټونه شپږ دي، لکه چه رسول اللهﷺ بیان کړي دي چه فرمایي: «أَنْ تُؤْمِنَ بِاللَّهِ وَمَلاَئِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ وَتُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ».

ترجمه: «ایمان دادې چه ته ایمان ولری په الله ﷻ باندي، او ایمان ولری د هغه په ملایکو، کتابونو، پیغمبرانو، او ایمان ولری په ورځ

وروستنی(قیامت)، او ایمان ولری په تقدیر باندی چه خیر وي او که شر وي نو دا ټول د الله تعالی لخوا مقدّر او لیکل شوي دي».

نو په هر مسلمان باندي فرض دي چه دا شپږ بنسټونه او اصول ومني او ایمان پری ولري، او هر څوک چه له دوئ څخه له یوه نه هم منکر شي هغه کافر او نا مسلمانه دي.

د ایمان نوری ډیری څانګی دي چه له دغه بنسټونو څخه سرچینه اخلي، لکه د ونو څانګی چه له ونی څخه سرچینه اخلي، نو څومره چه یو بنده په ایماني کارونو او خصلتونو باندی عمل ډیر کوي هومره دهغه ایمان زیاتیږي؛ لکه چه ابو هریرهﷺ له رسول اللهﷺ څخه روایت کوي چه هغه فرمایلي دي: «الإِيمَانُ بِضْعٌ وَسَبْعُونَ أَوْ بِضْعٌ وَسِتُّونَ شُعْبَةً فَأَفْضَلُهَا قَوْلُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَأَدْنَاهَا إِمَاطَةُ الأَذَى عَنِ الطَّرِيقِ وَالْحَيَاءُ شُعْبَةٌ مِنَ الإِيمَانِ». [صحیح مسلم].

ترجمه: «ایمان څه دپاسه اویا، یا څه د پاسه شپیته څانګی لري، چه بهتره يي د «لا إله إلاّ الله» ویل دي، او ټیټه درجه يي له لاری څخه د ضرري شیانو لری کول دي، او حیا کول هم د ایمان یوه څانګه ده».

نو د ایمان له څانګو څخه مراد د ایمان خصلتونه او اجزا دي، چه ځینی يي په زړه پوری اړه لري، ځینی يي په ژبه پوری، او ځینی نور يي بیا په عمل پوری اړه لري، لکه چه رسول اللهﷺ د هر یو لپاره مثال بیان کړې دي، نو «لا إله إلاّ الله» ویل په ژبه پوری اړه لري، او له لاری څخه د ضرري شیانو لری

کول عمل او په غړو پورې اړه لري، او حیا بیا د زړه عمل دې چه په زړه پورې اړه لري.

کله کله بیا داسې هم کیداي شي چه په یوه بنده کښې د ایمان د ځینې ښانګو تر څنګ د نفاق ځینې ښانګې هم وي، نو په ده کښې تر هغه د منافقت ځینې خصلتونه او عادتونه وي چه ترڅو یي پریښې نه وي، لکه چه رسول الله ﷺ فرمایي:

«أَرْبَعٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ كَانَ مُنَافِقًا، أَوْ كَانَتْ فِيهِ خَصْلَةٌ مِنْ أَرْبَعَةٍ كَانَتْ فِيهِ خَصْلَةٌ مِنَ النِّفَاقِ حَتَّى يَدَعَهَا: إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ، وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ، وَإِذَا عَاهَدَ غَدَرَ، وَإِذَا خَاصَمَ فَجَرَ» [متفق علیه].

ترجمه: «څلور عادتونه دي چه په چا کښې راټول شي نو هغه خالص منافق وي، او که په چا کښې له هغې څخه یو عادت وو نو په هغه کښې به یو عادت د منافقت وي تر دي چه یي پریږدي او دغه عادتونه په لاندې ډول دي:

۱/ کله چه امانتګر وګڼل شي نو په امانت کښې خیانت کوي.

۲/ او کله چه خبرې کوي نو دروغ به پکښې وایي.

۳/ او چه کله له چا سره عهد پیمان او لوظ کوي نو پکښې خیانت به کوي.

۴/ او کله چه له چا سره په جنګ شي نو ښکنځل به کوي».

د احسان معنی:

داحسان تفصیل رسول الله ﷺ داسی بیان کړې دې چه فرمایلي یي دي:

«أَنْ تَعْبُدَ اللَّهَ كَأَنَّكَ تَرَاهُ، فَإِنْ لَمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَإِنَّهُ يَرَاكَ».

ترجمه: «احسان دادې چه ته د الله ﷻ داسې عبادت او بندګي (په تواضع خشوع خضوع او حضور سره) وکړې لکه چه ته هغه وینې او ګورې یي، خو که ته هغه نه ويني نو هغه خو دي ګوري او ويني؛ ځکه له هغه څخه هيڅ پټ نه دي».

الله ﷻ هم مونږ ددي لپاره پیدا کړي یو چه مونږ وازمايي چه په مونږ کښې څوک ښه او ښايسته عمل کوي او څوک يي نه کوي، او الله تعالی مونږ پدې ازميښت او امتحان خبر کړي یو چه زمونږ د پیدایښت یو مقصد همدا دې لکه چه الله ﷻ فرمايي:

﴿وَهُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ وَكَانَ عَرْشُهُۥ عَلَى ٱلْمَآءِ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا﴾ [هود: ۷].

ترجمه: «الله هغه ذات دې چه اسمانونه او ځمکه يي په شپږو ورځو کښې پیدا کړل، او عرش يي پر اوبو د پاسه وو، (او ددې لپاره يي پيدا کړل چه) تاسو وازمايي چه کوم يو په تاسو کښې ښه او ښايسته عمل کوي».

همدارنګه په ځاي کښې الله عزّوَجلّ فرمايي:

﴿ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلْمَوْتَ وَٱلْحَيَوٰةَ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا ۚ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْغَفُورُ ۝٢﴾ [الملك: ۲]. قال فُضَيْلُ بنُ عِيَاض: «﴿أَحْسَنُ عَمَلًا﴾ أي أخلصه وأصوبه».

ترجمه: «الله تعالی هغه ذات دې چه مرګ او ژوند يي پيدا کړي دي ددي لپاره چه تاسو وازمايي چه کوم يو په تاسو کښی ښه او ښايسته عمل کوي، او همدغه الله ﷻ ډير غالب او بخښونکې دې».

فضيل بن عياض رحمه الله د ﴿أَحۡسَنُ عَمَلٗا﴾ (ښايسته عمل په)تفسير کښی وايي چه: «(ښايسته عمل) هغه عمل ته وايي چه خالص د الله تعالی درضامندئ لپاره وي، او بل د شريعت محمدي ﷺ سره برابر وي».

نو يو عمل تر هغه پوره ښه او ښايسته نه دې چه تر څو خالص د الله تعالی د رضامندئ لپاره نه وي، او بل د رسول الله ﷺ د سنتو سره برابر نه وي.

نو درسول الله ﷺ د لارښوونی پيروي کول بنده د هر ډول زياتی او کمي څخه بچ کوي، او په دي سره ښه څرګنديږي چه د احسان مرتبه په شرک بدعت او هم په افراط او تفريط او په دين کښی کمي او زياتي باندي ماتيږي.

نو مشرک محسن کيدې نشي؛ ځکه هغه بدعمله دې، همدا رنګه بدعتي او زياتي کوونکې او کمې کوونکې هم بدعمله دې نو دا يو هم هيڅکله محسن نه دې.

احسان هم دوه درجی لری:

لمړې واجب او فرضي احسان: او هغه دا چه د فرضي عبادتونو په ادا کولو کښی بايد پوره اخلاص او درسول الله ﷺ پيروي موجوده وي، او هيڅ ډول زياتې او کمې پکښی نه وي.

دوهم: مستحب احسان: او هغه دا چه بنده الله تعالی ته په نوافلو باندي ځان ورنژدی کړي، او د عباداتو د مستحباتو او آدابو د پوره کولو پوره خیال وساتي، او له هر ډول مشتبه او نا څرګندو شیانو او هم د مکروهاتو څخه ځان وساتي.

نو بنده به د الله تعالی داسی عبادت او بندګي کوي لکه چه الله تعالی ورته ګوري، او دي له دغه کتلو له خاطره د عبادت په ادا کولو کښی ښه کوښښ کوي چه په ډیر ښه شان سره یي ادا کړي، نو چه د کوم شي توان او طاقت نلري په هغه باندي ځان نه زوروي، او کوم هغه عبادت چه کولې شي چه دي الله عزّوَجَلّ ته ورنژدی کوي نو په هغه کښی کوتاهي نه کوي.

او احسان په هر عبادت او بندګۍ کښی د همغه عبادت په اندازه وي، خو یو جامعه ضابطه یي داده چه په عبادت او بندګۍ کښی د الله تعالی د رضامندۍ لپاره پوره اخلاص، او د رسول اللهﷺ د لارښووني پوره پیروي موجوده وي.

نو په اوداسه کښی احسان دادې چه ټول اندامونه پوره ووینځل شي، او ټول فرضونه او سنت او آداب د اوداسه په وخت کښی ادا شي، او د وینځلو په کراتو کښی د شریعت له حد څخه تیرې ونشي.

او په لمانځه کښی احسان دادې چه پخپل اول وخت کښی د ټولو فرضونو واجباتو سننو سره، او په پوره خشوع اطمینان او د زړه په حضور سره ادا شي، لکه چه یو بنده د خپل ژوند آخرنې لمونځ ادا کوي، نو داسی یي ادا کړي لکه چه الله عزّوَجَلّ ورته ګوري او دې یي ادا کوي.

او په زکات او خيرات کښې احسان دادې چه هغه څه چه يو مؤمن بنده يي ورکوي نو په دي نيت يي ورکړي چه الله عزّوَجَلّ ته پرې خپل ځان نژدي کوي، او د الله تعالی د رحمت اميد پرې کوي، او د الله تعالی له عذابه ويريږي او پدې سره له د الله تعالی له عذابه خپل ځان بچ کوي، او په عين وخت کښې هغه چا ته چه يي ورکوي له هغه څخه کومه بدله او شکرگزاري نه غواړي، او نه په دغه خيرات او زکات پسې وروسته ردی بدی وايي.

او بل دا چه د زکات او خيرات په وخت کښې د ښه مال د ورکولو کوښښ وکړي، اوله ردي او کم قيمته مال او هغه څه چه عموماً د انسان نفس يي ښه نه ګڼي له دغه ډول مال له ورکړې څخه دي ځان وساتي، او زکات او خيرات دي د خپل وخت څخه نه وروسته کوي، او يو محتاج او غريب باندي دی د هغه مال په اخيستلو کښې سختي نه کوي، او ځان دي پرې لوړ نه ګڼي، او نه دی په دغه ورکړه کښې سمعت او ريا کوي.

او همدارنګه په ټولو عبادتونو او معاملاتو کښې، يو مسلمان بنده ته مناسب دا دي چه په هغه کښې د توان مطابق د احسان مرتبه ولټوي، او په هغې کښې د رسول الله ﷺ د لارښوونی پيروي وکړي.

هر څوک چه د احسان مرتبه پسې ګرزي او په دغه باندي حرص کوي او د الله تعالی څخه يي غوښتنه هم کوي نو ډير اميد شته چه الله ﷻ د احسان د مرتبی توفيق هم ورکړي؛ ځکه ابو الدرداء رضي الله عنه فرمايي:

«إِنَّمَا الْعِلْمُ بِالتَّعَلُّمِ، وَإِنَّمَا الْحِلْمُ بِالتَّحَلُّمِ، مَنْ يَتَحَرَّى الْخَيْرَ يُعْطَهُ، وَمَنْ

يَتَّقِ الشَّرَّ يُوقَهُ». [رواه الطبراني في المعجم الكبير، الحديث (۱۷٦۳). قال الألباني: حديث حسن. انظر: صحيح الجامع، الحديث: (۲۳۲۸)].

ترجمه: «بیشکه علم او پوهه په زده کړه حاصلیږي، او حلم او صبر په صبر کولو او دخپل نفس واګی په لاس کښی نیولو سره حاصلیږي، او هغه څوک چه په خیر پسی ګرزي او لټوي یي نو ورته به ورکړ شي، او هغه څوک چه له شر څخه ځان ساتي او ځان ورڅخه بچ کوي نو ورڅخه به بچ کړل شي».

د احسان دروازی ډیری دي، لکه په صحیح مسلم شریف کښی چه د شداد بن اوس رضي الله عنهما روایت له رسول اللهﷺ څخه رانقل دې چه رسول اللهﷺ فرمايي:

«إِنَّ اللهَ كَتَبَ الإحسانَ على كلِّ شيءٍ؛ فإذا قَتَلْتُم فَأَحْسِنُوا القِتْلَةَ، وإذا ذَبَحْتُم فأَحْسِنوا الذِّبْحَةَ، وَلْيُحِدَّ أحدُكُم شَفْرَتَهُ وَلْيُرِحْ ذَبيحَتَهُ». [صحيح مسلم]

ترجمه: «بیشکه الله ﷻ په هر شي کښی احسان فرض کړې دې ، نو چه کله تاسو یو څوک وژلو(لکه په قصاص کښی مثلاً) نو په دغه وژنه کښی ورسره احسان وکړۍ (یعنی مه یي زوروۍ)، او کله مو چه حلالکه کوله(لکه د حلالو حیواناتو د ذبح او حلالونی په وخت کښی)، نو په حلالکه کښی احسان وکړۍ، نو حلالونکې دی د حلالکی لپاره خپله چوړکی تیره کړي، او خپل هغه حیوان چه حلالوي یي هغه ته دي راحت وروبخښي(او نه دی زوروَي)».

لنډه دا چه الله تعالی په هر څه کښی د هغه شي سره مناسب احسان فرض

کړې دې، لکه دلته چه رسول الله ﷺ د حلالکی احسان بیان کړې دې، نو هغه څوک چه د رسول الله ﷺ له لارښوونی څخه سرغړونه کوي او چوړکۍ نه تیره کوي، او د حلالکی د حیوان د راحت خیال نه ساتي نو هغه په حلالکه کښی احسان کونکې نه دې، او د رسول الله ﷺ پیرو نه دې.

په همدی سره په دین کښی د پوره تعمق او فقاهت اهمیت راڅرګندیږي، او له همدي نه احسان لټوونکې په عبادات او معاملاتو کښی د رسول الله ﷺ لارښوونه او د هغی اهمیت پیژني، نو کوښښ کوي چه د رسول الله ﷺ لارښوونه په اوداسه لمانځه خیرات زکات روژه حج جهاد، اخستلو (رانیولو) او خرڅولو، خوراک، څښاک، خوب، نکاح، واده، او عام ژوند، ښیګړه او د بیلابیلو ډولو خلکو سره تعامل کولو کښی، او همداسی په ټولو کارونو کښی درسول الله ﷺ لارښوونه پیژني او د هغی پیروي کوي.

او یو بنده د احسان مرتبی ته یوائی پخپل عمل نشي رسیدلاي، بلکه ددي لپاره د الله تعالی توفیق ډیر ضروري دې؛ نو له دي کبله بنده باید د هر لمانځه څخه وروسته دا دعا ووایي چه: «اللَّهُمَّ أَعِنِّيْ عَلَى ذِكْرِكَ وَشُكْرِكَ وَحُسْنِ عِبَادَتِكَ» [سنن أبي داود].

ترجمه: «یعنی اي الله له ماسره مرسته وکړی ستا په ذکر او یادونه کښی، او په شکر ادا کولو کښی، او د ښه او ښایسته عبادت په کولو کښی».

ځکه د بنده ضرورت او حاجت د الله تعالی مرستی او کومک ته او خاصةً د احسان مرتبی ته په رسیدلو کښی همیشه او بار بار پیښیږي.

شپږم درس: د «عبادت» معنی

د عبادت معنی: تذلل، خضوع، غاړه ایښودل، سره له ډېره محبت او تعظیم نه.

او هر عمل چه په هغه سره یو معبود ته پری نژدیکت حاصلولې شي عبادت بلل کیږي.

لدي کبله د اسلامي شرعی په اصطلاح کښی هم عبادت: یو جامع نوم دې چه ټولو هغه شیانو ته شامل دې چه الله عزّوَجَلّ یي خوښوي، که هغه وینا وي، او که ظاهر یا باطني اعمال وي.

او عبادت کله په زړه وي، کله په ژبه، او کله په غړو، خو الله عزّوَجَلّ خپلو بندګانو ته امر کړې دې چه د عبادت ټول انواع دي یواځی د یو الله ﷻ لپاره خاص کړل شي، او هیڅ ډول شریك او برخَوال دي ورسره پکښی نه وي، لکه چه الله ﷻ فرمایي:

﴿هُوَ ٱلۡحَيُّ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ فَٱدۡعُوهُ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَۗ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٦٥﴾ [المؤمن:٦٥].

ترجمه: «الله عزّوَجَلّ هغه ذات دې چه همیشه ابدي ژوندې دې، نشته لایق د عبادت او بندګی مګر همدغه الله تعالی دې، نو تاسو همدغه الله تعالی

راوبلی، په داسی حال کښی چه خالص کونکي یاست هغه ته د خپل دین او عبادت او بندګی، ټول د کمال صفتونه الله عزّوَجلّ لره دي چه پالونکې او پروردګار د عالمیانو دې».

همداشان الله ﷻ په بل ځای کښی فرمایي:

﴿قُلۡ إِنِّيٓ أُمِرۡتُ أَنۡ أَعۡبُدَ ٱللَّهَ مُخۡلِصٗا لَّهُ ٱلدِّينَ ١١﴾ [الزمر: ١١].

ترجمه: «اووایه اي پیغمبره ! بیشکه ماته حکم شوې دې چه زه بندګي وکړم یواځی د یو الله، په داسی حال کښی چه خالص کونکې یم هغه ته ددین او عبادت خپل».

همداراز الله ﷻ امر کړې دې چه د رسول الله ﷺ پیروي وشي او د الله تعالی عبادت د رسول الله ﷺ د لارښوونی موافق ادا او سر ته ورسول شي، لکه چه الله تعالی فرمایي:

﴿بِٱلۡبَيِّنَٰتِ وَٱلزُّبُرِۗ وَأَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلذِّكۡرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيۡهِمۡ وَلَعَلَّهُمۡ يَتَفَكَّرُونَ ٤٤﴾ [النحل: ٤٤].

ترجمه: «او اي پیغمبره ! تاته مو وحیي درلیږلی ده ددي لپاره چه ته بیان او واضح کړی خلکو ته هغه احکام چه دوئ ته ورلیږل شوي دي».

همداډول په بل ځای کښی فرمایي:

﴿وَمَآ ءَاتَىٰكُمُ ٱلرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَىٰكُمۡ عَنۡهُ فَٱنتَهُواْۚ﴾ [الحشر: ٧].

ترجمه: «او هغه څه چه رسول الله ﷺ یي تاسو ته درکوي او تاسو ته پری حکم کوي نو هغه واخلی عمل پری وکړی، او هغه څه چه تاسو ورڅخه

منع کوي، نو ورځخه ځان وساتی او منع شی».

الله عزّوَجَلّ هم له هيچا څخه هيڅ يو عمل تر هغه پوری نه قبلوي چه پکښی دغه دوه شرطونه پوره نه وي: يو اخلاص اوتوحيد، او بل متابعت او د رسول اللهﷺ پيروي کول.

بلکه بنده تر هغه مسلمان کيدې نشي چه په هغه کښی اخلاص او توحيد نه وی، يعنی چه دعبادت او بندګی ټول انواع يي خالص د يو الله تعالی لپاره نه وي، او هم د رسول اللهﷺ پيروي په عبادت او نورو احوالو کښی پکښی نه وي.

نو يوائی عبادت او بندګي د الله تعالی په وړاندی صحيح ده چه خالص د يو الله تعالی لپاره وي، او بل د رسول اللهﷺ له سنتو سره برابره وي، او همدي ته عمل صالح هم وايي.

الله عزّوَجَلّ مونږ ته په خپل کتاب قرآنکريم کښی بيان کړي دي چه مونږ يي د يو لوي او مهم هدف لپاره پيدا کړي يو، او هغه دا چه مونږ يوائی د هغه عبادت په داسی شان سره وکړو چه شريک او برخَوال ورسره ونه ګرزوو، لکه چه الله تعالی فرمايي: ﴿وَمَا خَلَقۡتُ ٱلۡجِنَّ وَٱلۡإِنسَ إِلَّا لِيَعۡبُدُونِ ٥٦﴾ [الذاريات: ٥٦].

ترجمه: «ما پيريان او انسانان نه دي پيدا کړي مګر ددی لپاره چه يوائی ځما عبادت او بندګي وکړي».

همدارنګه په بل ځاي کښی الله ﷻ فرمايي:

﴿وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ حُنَفَآءَ وَيُقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤۡتُواْ ٱلزَّكَوٰةَۚ وَذَٰلِكَ دِينُ ٱلۡقَيِّمَةِ ۝٥﴾ [البينة: ٥].

ترجمه: «دی خلکو ته امر نه دې شوې مګر خو امر شوې دوئ ته ددې خبری چه دوئ دی عبادت اوبندګي کوي یوائی د الله تعالی په داسی حال کښی چه خالص کونکي وي دوئ الله تعالی ته د عبادت خپل، او ولاړ وي په حق او مایل نه وي باطل خوا ته، او بل دوئ ته ددی امر شوې دې چه پوره په خپل وخت به أدا کوي د ټولو حقوقو سره لمونځ، او ورکوي به زکات، او همدا مضبوط دین دې».

نو هغه څوک چه له شرک ځینی ځان وساتي او خپل عبادت او بندګي یوائی یو الله تعالی ته خالص کړي، او هم د رسول الله ﷺ پیروي وکړي، نو دغه شخص مسلمان دې، له ده سره د الله تعالی لخوا د جنت ته دداخلیدو او له اور څخه د خلاصي وعده شوی ده.

او همداشان هغه څوک چه فرضي عبادات ادا کړي، او له محرماتو ځینی ځان ګوښه کړي، نو همدې د الله تعالی له هغه بندګانو څخه شمارل کیږي چه مؤمنان او متقیان ورته ویل کیږي، او ددوئ لپاره له عذاب څخه د امان وعده لیکل شوی ده، او هم په دنیا او آخرت کښی ورته د الله تعالی د لوئ مهربانۍ وعده ده.

خو هغه څوک چه د فرایضو د ادا او له محرماتو څخه د ګوښه کیدو تر څنګ مستحبات هم پرځاي کړي، او له مکروهاتو ځان هم وساتي، او د الله

تعالی عبادت او بندګي په داسی خشوع او خضوع سره وکړي لکه چه الله تعالی ورته ګوري نو دغه ډول بندګان د محسنینو بندګانو په شمار کښی راځي، د چا لپاره چه الله په جنت کښی د ډیرو لوړو درجو وعده کړی ده.

نو اوس به لوستونکي ته څرګنده شوي وي چه هغه څه چه د بنده په عبادت کښی کمې او نقصان راولي دری درجی لری:

لمړۍ درجه: شرک اکبر: او هغه دا چه یو څوک د الله تعالی پرته د بل چا عبادت او بندګي وکړي، نو که یو څوک د عبادت له انواعو څخه هره یوه یي د الله تعالی څخه پرته بل چا ته وکړي نو هغه مشرک او کافر کیږي، الله عزّوَجَلّ ورڅخه فرضي او نفلي عبادتونه نه قبلوي، لکه هغه خلك چه بتان، اولیاء، ونی، تیګی د خپل ضرورتونو او حاجتونو د پوره کولو لپاره رابلي، او د هغوئ لپاره حلالکی کوي، او خپل ضرورتونه پوره کول ورڅخه غواړي، او یا د کوم شر او مصیبت څخه بچ کول ورڅخه غواړي.

نو دغه ډول خلك کافر او مشرکین دي، د اسلام له مقدس دین څخه بهر دي، او که له دوئ څخه کوم یو پرته له توبی مړ شي، نو هغه به د جهنم په اور کښی تل ترتله وي. الله ﷻ دی مونږ ورڅخه وساتي.

دوهمه درجه: کوچنۍ شرك (شرك اصغر): لکه ریا، سمعت او په عبادت اوبندګی کښی ځان ښودنه، لکه چه یو بنده خپل کوم عبادت لکه لمونځ یا خیرات او داسی نور په ښه شان ادا کوي او ښایسته کوي یي؛ ددي

لپاره چه خلک يي په دغه کار باندي وستايي، نو که څوک داسی کار کوي ښکاره ده چه دي په دغه عبادت کښی الله عزّوَجَلّ ته هغه اخلاص نلري چه له عذاب څخه پری خلاصيدي شي، اګر که ده دلته حقيقةً د غير الله بندګي نه ده کړی، خو ده په دغه عبادت سره د خلکو او مخلوق ستايل او ثنا اراده کړی ده،ځکه ده ددغه عبادت ثواب له غير الله څخه غوښتلي چه هغوئ يي وستايي، نو په دي سره دغه بنده د شرک اصغر(وړوکي شرک) مرتکب کيږي، چه همدغه عبادت بربادوي او له منځه يي وړي؛ ځکه رسول اللهﷺ په يو حديث قدسي شريف کښی فرمايي چه الله سبحانه وتعالی فرمايلي دي:

«أنا أغنى الشُّرَكاءِ عَنِ الشِّركِ، مَنْ عَمِلَ عَمَلاً أَشْرَكَ فِيهِ مَعِيَ غَيرِيْ تَرَكْتُهُ وَشِرْكَهُ» [رواه مسلمٌ من حديثِ أبي هُريرةَ رضي الله عنه].

ترجمه: «په ټولو شريکانو او برخوالو کښی زه له خپلی برخی او شرک څخه ډير بی پروا يم، هر هغه چا چه يو عمل وکړ چه په هغی کښی يي له ما سره بل څوک شريک او برخمن کړ، نو زه دغه بنده او دغه د عمل خپله برخه دواړه پريږدم».

د شرک اصغر يو ډول دا هم دي چه دبنده زړه په دنيا پوری داسی ونښلي چه همدا دنيا يي لوي هدف او مقصد وګرزي، چه ددی دنيا په سبب ورڅخه ځينی فرضيات او واجبات پاتی کيږي او ضايع کيږي، او کله کله د محرماتو مرتکب کيږي، ځکه دده په زړه کښی ددنيا الوهيت او قداست دومره لوئ وي، چه له دي کبله ورڅخه ددنيا لپاره فرضيات اوواجبات پاتی

کیږي او د محرماتو مرتکب کیږي، حال دا چه رسول الله ﷺ فرمایي:

«تَعِسَ عَبْدُ الدِّينَارِ وَعَبْدُ الدِّرْهَمِ وَعَبْدُ الْخَمِيصَةِ إِنْ أُعْطِيَ رَضِيَ وَإِنْ لَمْ يُعْطَ سَخِطَ تَعِسَ وَانْتَكَسَ، وَإِذَا شِيْكَ فَلاَ انْتَقَشَ». [رواه البخاريُّ من حديثِ أبي هُريرةَ ﷺ].

ترجمه: «هلاک او رانسکور دی شي،او بدبخته دی شي ددینار او اشرفیو بنده، او هم ددرهمو او نقری بنده، او د شړۍ بنده، که څه ورته ورکړ شي، نو خوشحاله شي، او که ورنکړ شي، نو خفه کیږي، نو بدبخته او ذلیل دی شي، او که ازغې يې په پښه کښې ننوځی نو تری وه دي نه ایستل شي».

او دا هم بددعایي او خیری دي چه رسول الله ﷺ یي ورته په بدبختۍ او هلاکت باندی ګوي، نو هغه څوک چه درسول الله ﷺ د خیرو مستحق شي کله به یي د مخی سمه شي، بلکه هرکله چه پاڅیږي نو بیرته راغورزیږي، او که په کوم مصیبت اخته شي نو له هغی څخه د وتلو لار ورته نه معلومیږي، او دا ټول لدي کبله چه ده خپل ځان د دنیا بنده کړې دې، او دنیا د الله ﷻ څخه غافل او بي پروا کړې دې.

دلته رسول الله ﷺ یوه مهمه قاعده او ضابطه بیان کړی ده، او هغه دا چه «که څه ورته ورکړ شي نو خوشحالیږي، خو که ورته ورنکړ شي بیا خفه کیږي» یعنی خوشحالي او خفګان یي یواځی په دنیایي ګټو پوری تړلی وي.

نو د چا چه ټول کوښښ او خواري د دنیا لپاره وي، او همدا یي معیار وي، که ورته دنیایي ګټې په لاس ورغلی، نو خوشحاله به وي، ګنی د

الله عزّوَجَلّ په قضا او فیصله باندي به په قهر وي او ورځخه به بیزاره وي، او الله تعالی ته یي هم زړه پاک نه وي، نو دا خو د منافقینو صفت دې، لکه چه الله تعالی فرمایي:

﴿وَمِنۡهُم مَّن يَلۡمِزُكَ فِي ٱلصَّدَقَٰتِ فَإِنۡ أُعۡطُواْ مِنۡهَا رَضُواْ وَإِن لَّمۡ يُعۡطَوۡاْ مِنۡهَآ إِذَا هُمۡ يَسۡخَطُونَ ۝٥٨﴾ [التوبة: ۵۸].

ترجمه: «ځینی ددی منافقینو څخه هغه دي چه عیب او طعنی لګوي پر تا باندی په ویش د صدقاتو او خیراتو کښی، نو که له دغه صدقاتو څه شې ورته ورکړ شي، خوشحالیږي، او که ورنکړ شي بیا خفه او په غصه وي».

او ددوي خفګان او قهر او غصه د غیر الله لپاره وي، چه هغه دنیایي ګټی دي.

او د چا چه دا حال وي نو هغه عبادت هم یوائی یو الله تعالی ته نه خاص کوي، بلکه د هغه په زړه کښی د غیر الله الوهیت او عبودیت هم ننوتې وي.

او دا داسی کار دې چه نښی یي په هغه چا کښی لیدل کیږي چه زړه یي په مال، مشری، او یا هم په کوم معلوم معیّن شخص پوری تړلې وي، نو دومره محبت او مینه ورسره کوي چه د هغه له کبله د الله تعالی څخه په سرغړونه کښی هم واقع شي، نو دده په زړه کښی ددغه شخص محبوب غلامي وي چه د هغه زړه یي تړلې وي، او د هغه له کبله د الله تعالی سرغړونی ته هم تیار شي، او هغه څوک چه خپل زړه د الله تعالی پرته په بل

چا پورې وتړي نو الله تعالی به هم په هغه باندې عذاب ورکړي.

دریمه درجه: ګناهونه کول: او هغه داسې چه بنده ځینې حرامو شیانو ته لاس وراوږد کړي او یا هم په ځینې فرضیاتو کښې له سستۍ او لټۍ څخه کار واخلي، نو هرڅومره چه یو بنده د خپل پروردګار څخه سرغړونه کوي، په همدغه اندازه دې الله جل جلاله ته په خپله بندګۍ کښې نقصان او کمې راولي.

د الله ﷻ په بندګۍ کښې کاملترین او پوره بندګي کونکې هغه څوک دې چه د الله تعالی اوامر په ډیره ښه ډول سره ادا کوي، او د الله تعالی پر دین سم او ټینګ ولاړ وي، لکه چه الله عزّوَجَلّ فرمايي: ﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ قَالُواْ رَبُّنَا ٱللَّهُ ثُمَّ ٱسۡتَقَٰمُواْ فَلَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ۝١٣ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِ خَٰلِدِينَ فِيهَا جَزَآءَۢ بِمَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ۝١٤﴾ [الأحقاف:١٣-١٤].

ترجمه: «بیشکه هغه کسان چه ویلي یي دي: زمونږ پروردګار یوائې یو الله ﷻ دې، او بیا په دغه اقرار باندې ټینګ ولاړ دي، نو پر دوئ باندې ویره نشته له تیر وخته، او نه به دوي غمجن وي له راتلونکي عذاب څخه، همدغه ستایل شوي خلك د جنت خاوندان دي چه همیشه به وي په دغه جنت کښې، دا بدله ددوئ ده په سبب د هغه عمل چه دوئ به کولو».

همدارنګه په بل ځاي کښې الله تعالی فرمايي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ قَالُواْ رَبُّنَا ٱللَّهُ ثُمَّ ٱسۡتَقَٰمُواْ تَتَنَزَّلُ عَلَيۡهِمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ أَلَّا تَخَافُواْ وَلَا تَحۡزَنُواْ وَأَبۡشِرُواْ بِٱلۡجَنَّةِ ٱلَّتِي كُنتُمۡ تُوعَدُونَ ۝٣٠ نَحۡنُ أَوۡلِيَآؤُكُمۡ

فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِۖ وَلَكُمۡ فِيهَا مَا تَشۡتَهِيٓ أَنفُسُكُمۡ وَلَكُمۡ فِيهَا مَا تَدَّعُونَ ٣١ نُزُلٗا مِّنۡ غَفُورٖ رَّحِيمٖ ٣٢ وَمَنۡ أَحۡسَنُ قَوۡلٗا مِّمَّن دَعَآ إِلَى ٱللَّهِ وَعَمِلَ صَٰلِحٗا وَقَالَ إِنَّنِي مِنَ ٱلۡمُسۡلِمِينَ ٣٣﴾ [فصلت: ۳۰-۳۳].

ترجمه: «بیشکه هغه کسان چه ویلي یي دي: زمونږ پروردګار یواځی یو الله ﷻ دې، او بیا په دغه اقرار باندی ټینګ ولاړ دي نو دوئ ته به ملایکی رازي او ورته به وایي چه: تاسو مه ویریږئ ددنیا په عمل، او مه غمجن کیږئ د آخرت د عذابونو له راتلو څخه، او بلکه تاسو خوشحاله شئ په هغه جنت چه له تاسو سره یي وعده شوی وه، مونږ ستاسو ملګري او دوستان یو په ژوند ددونیا کښی او په آخرت کښی، او شته ستاسو لپاره په آخرت کښی هغه نعمتونه چه ستاسو زړونه یي غواړي، او شته تاسو ته هغه نعمتونه چه تاسو یي غواړئ، دا نعمتونه میلمستیا ده ستاسو لپاره د الله تعالی لخوا چه بخښونکې او د مهربانۍ خاوند دې، او څوک ډیر ښایسته دې په وینا کښی له هغه چا څخه چه بلنه کوي د الله تعالی خوا ته او دهغه دین ته، او پخپله هم نیک عمل کوي، او په ژبه اقرار هم کوي چه زه له مسلمانانو څخه یم».

قلبي عبادتونه په درې اساسي بنسټونو باندی ولاړ دي: محبت، ویره، او امید، نو دا دریواړه عظیم الشان عبادتونه یو الله تعالی ته خاص کول پر بنده فرض دي.

او تر ټولو باید د الله تعالی سره ډیر محبت وکړي، او له هغه سره پدې محبت کښی هیڅ مخلوق شریک او برخمن نکړي، لکه چه الله تعالی

فرمايي:

﴿وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَشَدُّ حُبّٗا لِّلَّهِۗ﴾ [البقرة: ١٦٥].

ترجمه: «او هغه کسان چه مؤمنان دي هغوئ ډیر زیات محبت کونکي دي د الله تعالی سره».

او د الله تعالی له قهر او عذابه څخه به ویریږي، تر څو د الله تعالی له ویری له ګناهونو کولو څخه رابند شي.

او هم به د الله تعالی د رحمت، مغفرت، بخښنی فضل او احسان ډیر امید کوي.

او هغه څوک چه په یو وخت کښی دا دریواړه سره یو ځاي په زړه کښی ساتي نو هغه د الله تعالی له رحمت څخه نه ناامیده کیږي، او نه هم د الله تعالی له عذابه څخه په امن کښی کیږي، بلکه هغه په زړه کښی د الله د رحمت د امید ترڅنګ د الله تعالی د عذاب ویره هم ساتي، لکه چه الله عزّوَجَلّ فرمايي: ﴿وَٱدۡعُوهُ خَوۡفٗا وَطَمَعًاۚ إِنَّ رَحۡمَتَ ٱللَّهِ قَرِيبٞ مِّنَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ٥٦﴾ [الأعراف:٥٦].

ترجمه: «او وبلئ الله تعالی په داسی حال کښی چه تاسو د هغه له عذابه ویریږئ، او هم د هغه درحمت او بخښنی طمع او امید لرئ، بیشکه د الله عزّوَجَلّ رحمت نیکانو ته نژدی دې».

او دعا دلته دواړو نوعو ته شامله ده، که هغه عبادتي او ذکري دعا وي، او که یا هم دکوم حاجت د غوښتنی دعا وي.

په هغه بنده کښې چه د الله تعالی سره مینه او محبت وي، نو دغه محبت او مینه يي دی ته اړ کوي چه الله عزّوَجَلّ ته د ځان نژدي کولو کوښښ وکړي، او د الله تعالی سره د ملاقات او د هغه ليدو ته يي شوق پيدا شي، بلکه د هغه په يادولو او ذکر باندی ورته سکون او آرام حاصليږي، او دغه محبت يي ديته اړباسي چه هغه څه خوښ کړي چه الله تعالی يي خوښوي، او هغه څه بد وګڼي چه الله تعالی يي بد ګڼي، او پدي شان سره د ولاء او براء عبادت په وجود کښې راځي؛ ځکه دده محبت د الله تعالی سره ربښتينی دې.

همدارنګه د الله تعالی څخه ويره بنده لدي څخه ايساروي چه د محرماتو مرتکب شي، او يا هم فرايض پريږدي، او په همدي ډول دې د الله تعالی له متقينو بندګانو څخه شمار شي، هغه څوک چه د الله تعالی له ويری د هغه د قهر او عذاب له اسبابو څخه هم ځان ساتي.

او د الله تعالی د رحمت اميد بيا بنده کښې شوق پيدا کوي چه نيک عملونه وکړي؛ ځکه هغه اميد لري چه ددي په سبب به ورته لوئ لوئ ثوابونه او د الله تعالی د رضامندئ برکتونه په لاس ورشي، کوم چه الله تعالی خپلو نيکانو بندګانو ته ورکوي.

اووم درس: د کفر بالطاغوت معنی

د یو الله تعالی د منلو او هغه ته د عبادت او بندګۍ د خاص کولو یوه غوښتنه دا ده چه د الله تعالی پرته د نورو معبودانو او طواغیتو له عبادت او بندګۍ څخه به انکار کوي، لکه چه الله تَعَالَى فرمايي:

﴿لَآ إِكۡرَاهَ فِي ٱلدِّينِۖ قَد تَّبَيَّنَ ٱلرُّشۡدُ مِنَ ٱلۡغَيِّۚ فَمَن يَكۡفُرۡ بِٱلطَّٰغُوتِ وَيُؤۡمِنۢ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱسۡتَمۡسَكَ بِٱلۡعُرۡوَةِ ٱلۡوُثۡقَىٰ لَا ٱنفِصَامَ لَهَاۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ٢٥٦﴾ [البقرة: ٢٥٦].

ترجمه: «نشته زور او په زورمنل په اسلامي دین کښی؛ ځکه واضح او ښکاره شوی ده سمه لار له کږی لاری څخه، که چا کفر او انکار وکړ له طاغوت څخه او ایمان یي راوړ په الله ﷻ باندي، نو ده منګولی ولګولی په کلکه او ټینګه کړۍ باندی چه نشته هغی لره شکیدل، او الله تعالی اوریدونکي دې ستاسو د ټولو اقوالو، پوهه دې په ټولو اعمالو او احوالو».

همدارنګه الله ﷻ فرمايي: ﴿وَلَقَدۡ بَعَثۡنَا فِي كُلِّ أُمَّةٖ رَّسُولًا أَنِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱجۡتَنِبُواْ ٱلطَّٰغُوتَ﴾ [النحل: ٣٦].

ترجمه: «او خامخا بیشکه مونږ لیږلي دې په هر امت کښی یو پیغمبر په دي خبره چه یواځی د یو الله ﷻ عبادت او بندګي وکړۍ اود طواغیتو له

عبادت او بندګی څخه ځان وساتی».

همداشان په بل ځاي کښی فرمايي:

﴿وَٱلَّذِينَ ٱجۡتَنَبُواْ ٱلطَّٰغُوتَ أَن يَعۡبُدُوهَا وَأَنَابُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ لَهُمُ ٱلۡبُشۡرَىٰۚ فَبَشِّرۡ عِبَادِ ١٧﴾ [الزمر: ۱۷].

ترجمه: «او هغه کسان چه ځان وساتي له عبادت او بندګی د طاغوت څخه، او راوګرزي په عبادت او بندګی کښی يواځی يو الله تعالی ته، نو د همدوئ لپاره زيرې دي(په جنتونو او ډول ډول نعمتونو)».

نو د توحيد معنی همدا ده چه د الله تعالی پرته د نورو معبودانو له عبادت او بندګی څخه ځان وساتل شي، او يواځی د يو الله تعالی عبادت او بندګي وشي، بلکه يو بنده تر هغه مسلمان او موحد کيدې نشي ترڅو چه د الله تعالی پرته د نورومعبودانو په عبادت او بندګی باندی کفر او له هغی څخه انکار ونکړي.

او «طاغوت» دی ته وايي چه له الله تعالی پرته يي عبادت او بندګي کيږي، هر ډول عبادت او بندګي چه وي، که دعا او غوښتنه وي، يا ورڅخه مرسته او کومک غوښتل وي، يا اعتماد او بروسه کول وي، يا د هغه لپاره حلالکه کول وي، او که د هغه لپاره نذر او منښته منل وي، او ياهم په تحليل او تحريم کښی د هغه پيروي او اتباع کول وي، او يا ورته دخلافونو دحل او فصل کولو لپاره فيصلی وروړل وي، او يا د الله تعالی له شريعت پرته په بل قانون باندي فيصله کولو باندي رضا او خوشحاله کيدل وي.

مشهور مفسّر ابن جریر طبري رحمه الله د «طاغوت» په تفسیر کښې فرمایي:

«والصَّوابُ من القولِ عندِي في «الطَّاغُوتَ» أنه كُلُّ ذِي طُغْيانٍ على الله، فعُبِدَ من دونِه، إما بقَهْرٍ منه لِمَن عَبَدَه، وإما بطَاعةٍ مِمَّن عبده له، وإنسانًا كان ذلك المَعْبودُ، أو شَيْطانًا، أو وَثَناً، أو صَنَمًا، أو كائِنًا ما كانَ من شيءٍ».

ترجمه: د «طاغوت» په تفسیر کښې زما په نظر صحیح خبره دا ده چه «طاغوت» هرهغه سر کښه او له الله تعالی څخه سرغړوونکي ته وایي چه د سر کشۍ سره سره یي د الله تعالی پرته عبادت او بندګي هم کیږي، که هغه په زور پر خلکو دا خپل عبادت او بندګي منلي وي، او که عابدینو په خوښه وي، او دغه معبود انسان وي که شیطان وي یا بُت وي، او یا بل کوم شې وي.

نو «طاغوت» هر هغه شې دې چه په سرکښۍ او سرغړونه کښې انتها ته رسیدلې وي، او خلك د الله تعالی له لارې بندوي، او په لویه بې لارۍ یي بې لارې کوي.

داسې طواغیت چه د الله تعالی پرته یي بندګي کیږي

او داسې طواغیت چه د الله تعالی پرته یي بندګي کیږي ډیر ډولونه لري، خو د ټولو څخه ډیر سرکښه یي درې دي: شیطان، هغه بتان او معبودان چه د الله عزّوَجَلّ څخه پرته یي بندګي کیږي، او هغه مشران او حاکما چه د الله تعالی له رالیږلي شریعت څخه پرته په نورو قوانینو او نظامونو باندې فیصلې

کوي.

لومړنۍ ډول طاغوت: شیطان:

چه د هر ډول شرک او سرکښۍ اساس او بنیاد دې، بلکه د الله تعالی پرته چه د هرچا عبادت او بندګي کیږي نو هغه په اصل او حقیقت کښې د شیطان عبادت او بندګي ده؛ ځکه همدا شیطان یي سبب او دغه کار ته بلونکې دې، لکه چه الله ﷻ فرمايي: ﴿۞أَلَمۡ أَعۡهَدۡ إِلَيۡكُمۡ يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ أَن لَّا تَعۡبُدُواْ ٱلشَّيۡطَٰنَۖ إِنَّهُۥ لَكُمۡ عَدُوّٞ مُّبِينٞ ۝٦٠ وَأَنِ ٱعۡبُدُونِيۚ هَٰذَا صِرَٰطٞ مُّسۡتَقِيمٞ ۝٦١﴾ [یس: ٦٠-٦١].

ترجمه: «آیا وصیت او حکم مې نه دې کړې تاسو ته أي بنیادمانو ! چه عبادت او بندګي به نه کوئ د شیطان؛ بیشکه هغه ستاسو ښکاره دښمن دې، او زما بندګي وکړئ همدا سمه لار ده».

همدارنګه الله عزّوَجلّ فرمايي: ﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغۡفِرُ أَن يُشۡرَكَ بِهِۦ وَيَغۡفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُۚ وَمَن يُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ فَقَدۡ ضَلَّ ضَلَٰلَۢا بَعِيدًا ۝١١٦ إِن يَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦٓ إِلَّآ إِنَٰثٗا وَإِن يَدۡعُونَ إِلَّا شَيۡطَٰنٗا مَّرِيدٗا ۝١١٧ لَّعَنَهُ ٱللَّهُۘ وَقَالَ لَأَتَّخِذَنَّ مِنۡ عِبَادِكَ نَصِيبٗا مَّفۡرُوضٗا ۝١١٨ وَلَأُضِلَّنَّهُمۡ وَلَأُمَنِّيَنَّهُمۡ وَلَأٓمُرَنَّهُمۡ فَلَيُبَتِّكُنَّ ءَاذَانَ ٱلۡأَنۡعَٰمِ وَلَأٓمُرَنَّهُمۡ فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلۡقَ ٱللَّهِۚ وَمَن يَتَّخِذِ ٱلشَّيۡطَٰنَ وَلِيّٗا مِّن دُونِ ٱللَّهِ فَقَدۡ خَسِرَ خُسۡرَانٗا مُّبِينٗا ۝١١٩ يَعِدُهُمۡ وَيُمَنِّيهِمۡۖ وَمَا يَعِدُهُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ إِلَّا غُرُورًا ۝١٢٠ أُوْلَٰٓئِكَ مَأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُ وَلَا

يَجِدُونَ عَنۡهَا مَحِيصٗا ﴿١٢١﴾ [النساء: ۱۱۶-۱۲۱].

ترجمه: «بيشکه الله نه بخښي شرک له الله تعالی سره، او بخښنه کوي د هغه ګناهونو چه پرته له شرکه څخه وي هغه چاته چه د الله تعالی خوښه شي، او هغه چا چه شرک وکړ دالله تعالی سره نو يقيناً هغه ګمراه شو په ګمراهی لری سره له حق نه، دا مشرکان نه رابلي پرته له الله عزّوَجَلّ نه مګر خو رابلي ښځينه بتان، او نه رابلي مګر سرکښه شيطان، الله تعالی لعنتي کړې دې دغه شيطان، ويلي دي شيطان چه خامخا به ونيسم ستا له بندګانو څخه ځان ته يوه معينه معلومه برخه، او خامخا به ګمراه کړم دغه خپله برخه بنيادمان او ددي لپاره به اميدونه ورته ورکړم، او امر به ورته وکړم چه غوځ کړي د چارپايانو غوږونه، او امر به ورته وکړم چه بدل کړي د الله تعالی پيدايښت، او هرڅوک چه شيطان په دوستی ونيسي، او د الله تعالی دوستي پريږدي، نو يقيناً تاواني شو په ښکاره تاوان سره، شيطان ورته وعدی ورکوي، او هم ورته اميدونه ورکوي، او شيطان وعده نه ورکوي مګر دغولونی او د فريب، نو همدغسی خلک چه د شيطان په دوکه او فريب کښی راشي ځاي دورتللو د هغوئ اور د جهنم دې چه وبه نه مومي له دغه جهنم څخه خلاصي».

ځکه خو الله تعالی هم د هغه چا سزا چه د الله تعالی له قرآن او يادونی څخه مخ اړوي نو سزا يي دا ده چه شيطان ورباند مسلط کړي، لکه چه فرمايي:

﴿وَمَن يَعۡشُ عَن ذِكۡرِ ٱلرَّحۡمَٰنِ نُقَيِّضۡ لَهُۥ شَيۡطَٰنٗا فَهُوَ لَهُۥ قَرِينٞ ٣٦ وَإِنَّهُمۡ لَيَصُدُّونَهُمۡ عَنِ ٱلسَّبِيلِ وَيَحۡسَبُونَ أَنَّهُم مُّهۡتَدُونَ ٣٧ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَنَا قَالَ يَٰلَيۡتَ بَيۡنِي وَبَيۡنَكَ بُعۡدَ ٱلۡمَشۡرِقَيۡنِ فَبِئۡسَ ٱلۡقَرِينُ ٣٨ وَلَن يَنفَعَكُمُ ٱلۡيَوۡمَ إِذ ظَّلَمۡتُمۡ أَنَّكُمۡ فِي ٱلۡعَذَابِ مُشۡتَرِكُونَ ٣٩﴾ [الزخرف:٣٦-٣٩].

ترجمه: «او هغه څوک چه سترګی پټی کړي او ځان ناخبره ونيسي د الله تعالی له ياد او قرآنکريم څخه نو ورپسی به کړو، او مسلّط به کړو په ده باندی شيطان، نو همدا شيطان به يي ملګرې وي، او بيشکه دوئ خامخا اړوي دوئ لره د لاری حقی څخه، او سره له دی ګومان هم کوي چه دوئ ګنی په سمه لار دي، تر دي چه کله راشي ځمونږ خواته دغه سرغړوونکې له قرآنکريم څخه، نو وايي به هغه خپل ملګري ته: هائ ارمان چه وی زما او ستا په منځ کښی لريوالې په اندازه د لريوالي د مشرق له مغرب څخه، نو ته ډير بد ملګرې يي، او هيڅ ګټه به ونه رسوي تاسو ته نن ورځ، ځکه چه تاسو ظلم او شرک کړې دې، فايده به ونه رسوي دا خبره چه تاسو په عذاب کښی سره شريکان ياست».

نو ددغه ډول طاغوت څخه ځان ساتنه کله په دي کيږي چه په الله تعالی باندي ورڅخه پنا وغواړي او «أعوذ بالله من الشيطان الرجيم» ووايي، او د هغه له پلمو څخه ځان وساتي، او د شيطان په پلونو پسی ورپسی نشي؛ ځکه هغه ښکاره بي لاری کونکې دښمن دې، لکه چه الله تعالی فرمايي: ﴿كُتِبَ عَلَيۡهِ أَنَّهُۥ مَن تَوَلَّاهُ فَأَنَّهُۥ يُضِلُّهُۥ وَيَهۡدِيهِ إِلَىٰ عَذَابِ ٱلسَّعِيرِ ٤﴾ [الحج: ٤].

ترجمه: «مقرر شوی دي ددی شیطان په حق چه بیشکه هرچا له دغه شیطان سره دوستي وکړه نو همدا شیطان به یي ګمراه کوي له سمی لاری څخه، او لار ښوونه به ورته کوي ګرم اور ته».

د شیطان دوستي داده چه د هغه په پلونو پَل کیږدي، او د هغه د وعدو تصدیق وکړي، او د هغه وروراندی کړی ارزوګانو ته امیدوار شي، او چه شیطان ورته کوم ګناهونه ښایسته کوي نو دا دوست یي کوي، او د الله تعالی له هدایت او لارښوونی څخه سرغړونه کوي، او څوك چه دغه کارونه کوی هغه د شیطان دوست دی.

شیطان د بنیادم سره په هر کار کښی ورسره وي، او ورپسی وي، لکه چه دا معنی د رسول اللهﷺ څخه د جابر بن عبد الله رضي الله عنهما په حدیث شریف کښی ثابت دي کوم چه په صحیح مسلم شریف کښی دی.

نو د شیطان له شر او فتنی څخه د خلاصی لپاره الله تعالی مونږ ته ښوونه کړی ده چه همیشه په الله عزّوَجَلّ باندی له شیطان څخه پنا وغواړو، او په الله تعالی باندی خپل ایمان پوخ کړو، او توکل او اعتمادورباندی وکړو، او خپل عبادت او بندګي الله تعالی ته خالصه کړو، او د الله تعالی یادونه او ذکر له یاده ونه باسو.

ځکه د ایمان کمزوري، د توکل او اخلاص کمزوري هغه اسباب دي چه شیطان پر انسان باندی مسلط کوي.

همداراز د شیطان لاری هغه هم دي چه د هغی له لاری پر انسان خپل تسلط پلې کوي: لکه د ډیری غصی او قهر وخت، د ډیری خوشحالی

وخت، په شهواتو کښې غرقیدل، له جماعت او ټولنې څخه ځانته کیدل، یواځیوالې په ځانګړې ډول په سفر کښې، او د خلکو تر منځ د خبرو ورو راوړو په وخت کښې، او همدارنګه سرې له پردۍ ښځې سره یواځې کیدلو وخت کښې، بد ګوماني، او د شك او تهمت ځایونو ته ورتلل.

ځکه خو د انسان د هر کار په پیل کښې بسم الله ویلو باندې رسول اللهﷺ امر کړې دې، تر څو چه یو خو په دغه کار کښې برکت وي، اوبل د شیطان له پلمو څخه وساتل شي، نو بنده به د خوراك، څښاك، کور ته د ننوتلو په وخت، له کوره د وتلو په وخت، سبا، بیګا، او کله چه په سورلۍ سپریږي، یا له خپلې میرمنې سره کوروالې کوي، یا هم قضاء حاجت کوي او که ویده کیږي، نو په دې ټولو کښې باید «بسم الله» ووايي.

همدارنګه په صحیح مسلم شریف کښې د ابو سعید خدريﷺ په حدیث شریف کښې رسول اللهﷺ فرمایي:

«إِذَا تَثَاءَبَ أَحَدُكُمْ فَلْيُمْسِكْ بِيَدِهِ، فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَدْخُلُ».

ترجمه: «کله چه یو له تاسو څخه ارګمې کوئ نو تر خپل توانه دې خوله پخپل لاس بنده کړي؛ ځکه که خوله خلاصه او وازه پریږدي نو شیطان پکښې ننوځي».

د مسند احمد او مصنف عبد الرزاق په روایت کښې راغلي دي چه: عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ ﷺ: «إِذَا تَثَاءَبَ أَحَدُكُمْ، فَلْيَضَعْ يَدَهُ عَلَى فِيهِ، فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَدْخُلُ مَعَ التَّثَاؤُبِ».

ترجمه: «کله چه یو له تاسو ارګمې کوي نو په خپله خوله باندي دي لاس کیږدي؛ ځکه شیطان د ارګمي په وخت کښی په خوله کښی ننوځي».

نو څوک چه د الله تعالی او د هغه د رسولﷺ د لارښوونی پیروي ګوي هغه به د شیطان له پلمو څخه په امن او امان کښی وي، خو که څوک په دغه پیروۍ کښی کوتاهي کوي نو د شیطان له پلمو څخه نشي بچ کیدې، او کیدې شي د شیطان له پلمو او ضرر او ګمراهۍ څخه ورته ډیر ضرر ورسیږي.

دوهم ډول طاغوت: هغه بتان او معبودان چه د الله تعالی پرته یي عبادت او بندګي کیږي.

او طواغیت هم څو ډوله دي:

– ځینی یي بتان او څیري دي چه د یو چا په شکل باندي کښل شوي او کنستل شوی وي، یا د انسانانو په شکل او یا هم د ځینو حیواناتو په شکل، او یا په بل کوم شکل، بیا د ځینو مشرکانو عقیده دا وي چه دغه بتان ګنی یو چا ته ګټه او نقصان رسولې شي، او ځینی نور یي بیا دا عقیده نلري، خو داسی ګومان کوي چه دوئ د خپلو معتقدینو لپاره سفارښت کوي، نو له دي کبله هغوئ ته په حلالکو منښتو منلو او د خپلو ضرورتونو په غوښتلو هغوئ ته تقرب او نژدیکت حاصلوي، الله جل جلاله فرمایي: ﴿قَالَ أَتَعۡبُدُونَ مَا تَنۡحِتُونَ ۝٩٥ وَٱللَّهُ خَلَقَكُمۡ وَمَا تَعۡمَلُونَ ۝٩٦﴾ [الصافات: ٩٥-٩٦].

ترجمه: «آیا تاسو بندګي کوئ د هغه بتانو چه تاسو یي پخپله تراشی، ا و

پخپله مو کنستلي دي، او الله عزّوَجَلّ تاسو هم پیدا کړي یاست او هم یې ستاسو کښل شوي او کنستل شوي بتان پیدا کړې دې، یا هغه څه یې هم پیدا کړي دي چه تاسو یې کوئ».

همدارنګه په بل ځاي کښې الله عزّوَجَلّ فرمایي:

﴿وَٱتۡلُ عَلَيۡهِمۡ نَبَأَ إِبۡرَٰهِيمَ ۝٦٩ إِذۡ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوۡمِهِۦ مَا تَعۡبُدُونَ ۝٧٠ قَالُواْ نَعۡبُدُ أَصۡنَامٗا فَنَظَلُّ لَهَا عَٰكِفِينَ ۝٧١ قَالَ هَلۡ يَسۡمَعُونَكُمۡ إِذۡ تَدۡعُونَ ۝٧٢ أَوۡ يَنفَعُونَكُمۡ أَوۡ يَضُرُّونَ ۝٧٣ قَالُواْ بَلۡ وَجَدۡنَآ ءَابَآءَنَا كَذَٰلِكَ يَفۡعَلُونَ ۝٧٤ قَالَ أَفَرَءَيۡتُم مَّا كُنتُمۡ تَعۡبُدُونَ ۝٧٥ أَنتُمۡ وَءَابَآؤُكُمُ ٱلۡأَقۡدَمُونَ ۝٧٦ فَإِنَّهُمۡ عَدُوّٞ لِّيٓ إِلَّا رَبَّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ۝٧٧ ٱلَّذِي خَلَقَنِي فَهُوَ يَهۡدِينِ ۝٧٨ وَٱلَّذِي هُوَ يُطۡعِمُنِي وَيَسۡقِينِ ۝٧٩ وَإِذَا مَرِضۡتُ فَهُوَ يَشۡفِينِ ۝٨٠ وَٱلَّذِي يُمِيتُنِي ثُمَّ يُحۡيِينِ ۝٨١ وَٱلَّذِيٓ أَطۡمَعُ أَن يَغۡفِرَ لِي خَطِيٓـَٔتِي يَوۡمَ ٱلدِّينِ ۝٨٢﴾ [الشعراء: ۶۹-۸۲].

ترجمه: «او ولوله په دوئ باندی قیصه او احوال د ابراهیم عليه السلام، کله چه یې خپل پلار او قوم ته وویل: تاسو د چا بندګي کوئ؟

هغوئ په ځواب کښې ورته وویل: مونږ د ځینو بتانو بندګي کوو، چه همیشه یو مونږ هغوئ ته عبادت او بندګي کونکي.

نو ابراهیم عليه السلام ورته وویل: آیا دوئ ستاسو اواز اوري چه کله یې رابلی او رامددشه ورته وایي؟ او یا درته څه ګټه او یا ضرر رسولې شي؟

هغوئ ورته وویل: (نه دا یو کار هم نشي کولې)خو مونږ خپل مشران دغسی لیدلي دي چه ددوئ عبادت او بندګي به یې کوله.

نو ابراهیمعليه السلام ورته وویل: آیا تاسو په دي پوهیږئ چه هغه څه چه تاسو یي یي عبادت او بندګي کوئ، تاسو او ستاسو پلرونو، نو دوئ زما دښمنان دي، پرته د پروردګار د عالمیانو څخه، هغه رب چه زه یي پیدا کړې یم نو همغه به راته سمه لار هم وښایي، او هغه رب چه ما ته خوراک راکوي، او څښاک راکوي، او کله چه زه مریض او رنځور شم نو هغه راته شفا راکوي، او هغه رب چه ما مړ کوي او بیا می بیرته ژوندې کوي، او هغه رب چه زه امید لرم چه ما ته زما خطایي راوبخښي د قیامت په ورځ».

همداراز په بل ځاي کښې فرمایي:

﴿وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَآ إِبۡرَٰهِيمَ رُشۡدَهُۥ مِن قَبۡلُ وَكُنَّا بِهِۦ عَٰلِمِينَ ٥١ إِذۡ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوۡمِهِۦ مَا هَٰذِهِ ٱلتَّمَاثِيلُ ٱلَّتِيٓ أَنتُمۡ لَهَا عَٰكِفُونَ ٥٢ قَالُواْ وَجَدۡنَآ ءَابَآءَنَا لَهَا عَٰبِدِينَ ٥٣ قَالَ لَقَدۡ كُنتُمۡ أَنتُمۡ وَءَابَآؤُكُمۡ فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ٥٤ قَالُوٓاْ أَجِئۡتَنَا بِٱلۡحَقِّ أَمۡ أَنتَ مِنَ ٱللَّٰعِبِينَ ٥٥ قَالَ بَل رَّبُّكُمۡ رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ ٱلَّذِي فَطَرَهُنَّ وَأَنَا۠ عَلَىٰ ذَٰلِكُم مِّنَ ٱلشَّٰهِدِينَ ٥٦ وَتَٱللَّهِ لَأَكِيدَنَّ أَصۡنَٰمَكُم بَعۡدَ أَن تُوَلُّواْ مُدۡبِرِينَ ٥٧﴾ [الأنبياء: ٥١-٥٧].

ترجمه: «او خامخا یقیناً ورکړې وو ابراهیمعليه السلام ته پوهه ددین او حقه نیکه لاره په عقایدو او اعمالو کښې پخوا له دي نه، او وو مونږ په ده باندي خبردار، کله چه یي وویل خپل پلار او قوم ته: څه دي دغه بتان چه تاسو یي عبادت او بندګي کوئ، او په دي څه دلیل دې؟

هغوئ ورته وویل: (دلیل نشته خو) موندلي دي مونږ خپل پلرونه او

مشران چه ددوئ عبادت او بندګي یي کوله.

نو ابراهیم‌ عليه السلام ورته وویل: بیشکه خامخا تاسو او ستاسو مشران په ښکاره ګمراهۍ کښی یاست.

نو هغوئ ورته وویل: آیا ته رښتیا وایي که ټوقی مسخری کوي؟

نو ابراهیم عليه السلام ورته وویل: بلکه رب ستاسو هغه څوک دې چه رب د اسمانونو او د ځمکی دې، هغه رب چه دغه ټول یي پیدا کړي دي، او زه په دغه خبره له ګواهانو څخه یم، او قسم په الله چه خامخا به څه چل تدبیر جوړ کړم ستاسو بتانو ته وروسته له هغه چه تاسو وګرځئ شاکونکي دوئ ته.

او له معبودانو څخه ځینی یي هغه ونی او تیګی دي چه خلك یي تعظیم او تجلیل کوي، او ځینی مشرکان په هغوئ کښی کفري عقیدي لري، لکه دا عقیده چه دغه ونی بوټي چا ته ګټه او نقصان رسولې شي، او یا د چا لپاره د الله سبحانه وتعالی په وړاندي سفارښت کولې شي، چه څوك یي عبادت او بندګي وکړي او د عبادت په انواعو ورته ځان ورنژدي کړي».

په جاهلیت کښی چه د کومو بتانو ونو او تیګو عبادت او بندګي کیدله هغه ډیر دي، تردي چه یواځی د کعبی شریفی ګرد چاپیر دری سوه شپیته بتان وو، بیا کله چه رسول الله ﷺ مکه مکرمه فتحه کړه هغه ټول یي مات کړل.

د عربو په ځینو کلیو کښی ډیری ونی او تیګی وي چه خلکو به یي د الله تعالی پرته د هغی عبادت او تعظیم کولو.

د باطلو معبودانو څخه ځینی یي قبرونه زیارتونه او درګاهونه دي چه د

الله تعالی پرته یي عبادت او بندګي کیږي، نو ځینی ورڅخه طواف کوي، او څوک ورلره حلالکی کوي، او څوک ورته نذرونه منښتی او مالونه وړاندی کوي، او د ځینو بیا منجوران او خادمان وي چه خلک د الله تعالی له لاری بندوي، او پدغه ډول د خلکو مالونه په باطله طریقه خوري، او خلکو ته په یوه او بله طریقه او درواغو باندي ددغه قبرونو او د مړو څخه سوال، د ضرورتونو غوښتنی او د مصیبتونو ددفع لپاره ددوئ رابلنه ښایسته کوي، حال دا چه رسول اللهﷺ فرمایلي دي:

«اللَّهُمَّ لَا تَجْعَلْ قَبْرِي وَثَنًا يُعْبَدُ» [رواه مالك].

ترجمه: «اي الله ځما له قبر څخه بت او باطل معبود مه جوړوه چه عبادت او بندګي یي کیږي».

بلکه رسول اللهﷺ منع فرمایلی ده چه له قبرونو څخه مسجدونه جوړ شي؛ ددي لپاره چه خلک د قبرونو او مړو بندګی کښی اخته نشي.

د جندب بن عبد اللهؓ څخه روایت دي چه بیشکه رسول اللهﷺ فرمایلي دي:

«إِنَّ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ كَانُوا يَتَّخِذُونَ قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ وَصَالِحِيهِمْ مَسَاجِدَ، أَلاَ فَلاَ تَتَّخِذُوا الْقُبُورَ مَسَاجِدَ، إِنِّي أَنْهَاكُمْ عَنْ ذَلِكَ». [رواه مسلم]

ترجمه: «بیشکه هغه څوک چه له تاسو څخه مخکښی وو- یعنی بنی اسراییل - نو هغوئ به د خپلو پیغمبرانو او نیکانو قبرونو څخه مسجدونه جوړول، نو خبردار ! چه تاسو له قبرونو څخه مسجدونه جوړ نکړی، بیشکه

زه تاسو له دغه کار څخه منع کوم».

او ابو عبیدة بن عامر بن الجرّاح رضي الله عنه فرمايي: «كَانَ آخِرُ مَا تَكَلَّمَ بِهِ نَبِيُّ اللّٰهِ ﷺ: أَنْ أَخْرِجُوا يَهُودَ الْحِجَازِ مِنْ جَزِيرَةِ الْعَرَبِ، وَاعْلَمُوا أَنَّ شِرَارَ النَّاسِ الَّذِينَ يَتَّخِذُونَ الْقُبُورَ مَسَاجِدَ». [مسند الإمام أحمد]

ترجمه: «د رسول الله ﷺ په ژوند کښې آخري خبرې دا وې چه: د حجاز يهود د عربي جزيرې څخه وباسئ، او ښه پوهه شئ چه بدترين له خلکو څخه هغه څوک دي چه له قبرونو څخه مسجدونه جوړوي».

د قبرونو څخه مسجدونه جوړولو معنی دا ده چه هلته لمونځونه وشي، او يا د هغې طرف ته لمونځ وشي، او يا ورباندي حقيقةً مسجد جوړ شي چه لمونځونه پکښې ادا کيږي، نو که څوک له دې دريو څخه هر يو کار وکړي هغه په دغه ګناه، منهي عنه او منع شوي کار کښې واقع شو.

د باطلو معبودانو له جملې څخه ځينې هغه شيان دي چه په هغه کښې د شرک او د غير الله د عبادت او بندګۍ نښه او علامه وي، لکه په سنن ترمذي کښې چه د رسول الله ﷺ څخه روايت دې چه هغه د عدي بن حاتم رضي الله عنه په غاړه کښې طلايي صليب وليده نو ورته يې وويل: «يَا عَدِيُّ اطْرَحْ عَنْكَ هَذَا الْوَثَنَ»، «يعنی اي عدي ! دا بت دي له غاړې څخه لرې کړه».

مقصد دا چه هر هغه شئ چه د الله تعالی پرته يې بندګي کيږي نو هغه طاغوت دې، که هغه بت وی يا ونه وي، يا تيګه وي،يا قبر يا هم بل کوم شئ وي.

ابو هريره﵁ له رسول الله ﷺ څخه نقل کوي چه هغه فرمايلي دي: «يَجْمَعُ اللَّهُ النَّاسَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيَقُولُ: مَنْ كَانَ يَعْبُدُ شَيْئًا فَلْيَتَّبِعْهُ، فَيَتْبَعُ مَنْ كَانَ يَعْبُدُ الشَّمْسَ الشَّمْسَ، وَيَتْبَعُ مَنْ كَانَ يَعْبُدُ الْقَمَرَ الْقَمَرَ، وَيَتْبَعُ مَنْ كَانَ يَعْبُدُ الطَّوَاغِيتَ الطَّوَاغِيتَ». [متفق عليه]

ترجمه: «د قيامت په ورځ به الله عزّوَجَلّ خلك راټول کړي بيا به ورته ووايي: هرچا چه د کوم شي عبادت کړې وي په هغه پسی دي ورپسی شي، نو چا چه د لمر عبادت کړې وي هغه به په لمر پسی لاړ شي، او چا چه د سپوږمۍ عبادت کړې وي هغه به په سپوږمۍ پسی لاړ شي، او هر چا چه د هر طاغوت عبادت کړې وي هغه به په همغه طاغوت پسی لاړ شي».

او دا ورپسی کيدل به د جهنم د اور طرف ته وي الله دي مونږ ټول ترې وساتي، لکه چه الله ﷻ فرمايي:

﴿إِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ أَنتُمْ لَهَا وَٰرِدُونَ ۝٩٨ لَوْ كَانَ هَٰٓؤُلَآءِ ءَالِهَةً مَّا وَرَدُوهَا ۖ وَكُلٌّ فِيهَا خَٰلِدُونَ ۝٩٩ لَهُمْ فِيهَا زَفِيرٌ وَهُمْ فِيهَا لَا يَسْمَعُونَ ۝١٠٠﴾ [الأنبياء: ٩٨-١٠٠].

ترجمه: «بيشکه تاسو او هغه څه چه تاسو يي د الله تعالی پرته عبادت او بندګي کوئ خس او خشاك د جهنم به ياست، تاسو به دغه جهنم ته ننوتونکي ياست، که ستاسو دغه معبودان په حقه وې نو جهنم ته به نه وو ننوتلي، او تاسو ټول به په دغه جهنم کښی هميشه لپاره ياست، ددي جهنميانو به هلته په جهنم کښی چغی سوری وي، او دوئ به په جهنم کښی

هیڅ نه اوري».

نو دا آیتونه په دي دلالت کوي چه دغه باطل معبودان خپلو عابدانو ته هیڅ ډول ګټه نشي رسولاي، بلکه دغه معبودان او عابدان به يي ټول په قیامت کښې په اور کښې غورزول کیږي.

هو، هغه څوک چه د هغوئ عبادت او بندګي ځینی مشرکان کوي او هغه معبودان پری رضا او خوشحاله نه دي، نو دوئ په دغه طاغوت کښې نه راځي، ځکه دوئ خو مشرکانو پخپله په الوهیت او خدايي نیولي دي او دغه باطله عقیده يي پکښې لرلی ده، حال دا چه هغوئ د دوئ له شرک او کفر څخه بیزاره دي، لکه چه الله عزّوَجَلّ فرمايي: ﴿ٱتَّخَذُوٓاْ أَحۡبَارَهُمۡ وَرُهۡبَٰنَهُمۡ أَرۡبَابٗا مِّن دُونِ ٱللَّهِ وَٱلۡمَسِيحَ ٱبۡنَ مَرۡيَمَ وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعۡبُدُوٓاْ إِلَٰهٗا وَٰحِدٗاۖ لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۚ سُبۡحَٰنَهُۥ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ٣١﴾ [التوبة: ٣١].

ترجمه: «دی اهل کتابو نیولي وو علماء او پیران خپل په الوهیت او خدايي سره پرته له الله تعالی څخه، او همدارنګه يي نیولې وو مسیح ﷺ په الوهیت سره، حال دا چه دوئ ته امر نه وو شوې مګر ددی خبری چه دوئ دي عبادت او بندګي یواځی د یو الله ﷻ وکړي؛ ځکه نشته لایق او مستحق د عبادت او بندګۍ مګر یواځی یو الله عزّوَجَلّ دې، پاک دې او پورته او لوي دې الله تعالی له هغه شرک څخه چه دا مشرکان يي کوي».

همدارنګه په بل ځاي کښې فرمايي: ﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ سَبَقَتۡ لَهُم مِّنَّا ٱلۡحُسۡنَىٰٓ أُوْلَٰٓئِكَ عَنۡهَا مُبۡعَدُونَ ١٠١ لَا يَسۡمَعُونَ حَسِيسَهَاۖ وَهُمۡ فِي مَا

ٱشۡتَهَتۡ أَنفُسُهُمۡ خَٰلِدُونَ ۝١٠٢ لَا يَحۡزُنُهُمُ ٱلۡفَزَعُ ٱلۡأَكۡبَرُ وَتَتَلَقَّىٰهُمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ هَٰذَا يَوۡمُكُمُ ٱلَّذِي كُنتُمۡ تُوعَدُونَ ۝١٠٣﴾ [الأنبياء: ۱۰۱-۱۰۳].

ترجمه: «بیشکه هغه کسان - چه عبادت اوبندګي یي کیږي - او د هغوئ په حق کښې نیکه فیصله شوی ده د نیکی مرتبی سعادت او د جنت، نو دوئ له اور او جهنم څخه لری کړې شوي دي، نه به اوري کشار او اواز د اور او د جهنم، بلکه دوئ به په هغه نعمتونو کښې چه ددوئ زړونه یي غواړي همیشه لپاره وي، نه به غمجن کوي دوئ لره هغه لویه ویره او هیبت، او ورسره مخامخ کیږي به ملایکی او ورته به وایي: دا مو هغه ورځ ده چه تاسو سره یي وعده شوی وه».

همدارنګه هغه نیکان بندګان او اولیاء چه ځینی مشرکان یي په ظلم او درواغو عبادت او بندګي کوي، نو دغه نیکان ددوئ له عبادت او شرک څخه بیزاره دي.

خوهغه څوک چه د الله تعالی پرته د ځان په عباد باندي رضا شي، او یا دی کار ته خلک رابلي، نو شک نشته چه هغه د «طاغوت»په معنی کښې شامل دې، لکه فرعون چه خپل قوم ته ویلي وو:

﴿مَا عَلِمۡتُ لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرِي﴾ [القصص: ۳۸].

ترجمه: «زه تاسو لپاره د خپل ځان پرته بل معبود نه پیژنم».

دریم ډول: هغه څوک چه دالله رالیږلي وحي پرته په نورو قوانینو فیصلی کوي

هرهغه څوک چه په یوه منطقه کښې په خلکو مشر وي، او د هغوئ تر منځ په فیصلو کښې د الله تعالی له رالیږل شوي شریعت څخه سرغړونه کوي، او د مخلوق لخوا په جوړ شوو قوانینو باندي پخپله خوښه د هغوئ ترمنځ فیصلې کوي، او د الله تعالی حرام کړي ورته حلالوي، او د الله تعالی حلال کړي ورته حراموي، نو دا هم یو ډول طاغوت دې، غواړي چه د الله تعالی پر ځاي دده عبادت او بندګي وشي.

او دلته دده عبادت او بندګي دا ده چه په تحلیل او تحریم کښې دده پیروي وشي، لکه کله چه عدي بن حاتمرضي الله عنه له رسول اللهﷺ څخه دا آیت کریمه واوریده:

﴿ٱتَّخَذُوٓاْ أَحۡبَارَهُمۡ وَرُهۡبَٰنَهُمۡ أَرۡبَابٗا مِّن دُونِ ٱللَّهِ﴾ [التوبة: ۳۱].

ترجمه: «دی اهل کتابو خپل ملایان او پیران په الوهیت او خدایي نیولي دي پرته له الله عزّوَجَلّ څخه».

نو عديرضي الله عنه ورته وویل: مونږ خو د هغوئ عبادت نه کولو؟

رسول اللهﷺ ورته وویل: آیا داسې نه وو چه هغوئ به د الله تعالی لخوا حلال شوې شې تاسو ته حرامولو نو تاسو به د هغوئ په دغه تحریم کښې پیروي کوله، او د الله لخوا یو حرام شوې شی به یي درته حلالولو نو تاسو به یي په تحلیل کښې پیروي کوله؟

عديرضي الله عنه ورته وویل: هو همداسې وه.

نو رسول اللهﷺ ورته وویل: همدغه ددوئ عبادت دې.

او حذيفه رضي الله عنه فرمايي: «أَمَا إِنَّهُمْ لَمْ يُصَلُّوا لَهُمْ، وَلَكِنَّهُمْ كَانُوا مَا أَحَلُّوا لَهُمْ مِنْ حَرَامٍ اسْتَحَلُّوهُ، وَمَا حَرَّمُوا عَلَيْهِمْ مِنَ الْحَلاَلِ حَرَّمُوهُ، فَتِلْكَ رُبُوبِيَّتُهُمْ». [رواه سعيدُ بن مَنصورٍ في تفسيره].

ترجمه: «خبردار ! چه اهل کتابو دغه ملايانو او پيرانو طرف ته لمونځونه نه کول، لکن دغه ملايانو او پيرانو چه به کوم حرام شي ته حلال ويل دوئ به هم حلال ګڼلو، او کوم حلال شي ته چه به يي حرام ويلو نو دوئ به هم هغه حرام ګڼلو، او هم دا يي ربوبيت او الوهيت وو».

د طواغيتو له جملې څخه غيب ګويان، فالګر کف شناس، او ګوډګران هم دي، څوک چه دا دعوه کوي چه په غيبو پوهيږي، او ځينې ناپوهان او ګمراهان هغوئ ته خپلې فيصلې وروړي، الله تعالى فرمايي:

﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ ءَامَنُواْ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُوٓاْ إِلَى ٱلطَّٰغُوتِ وَقَدْ أُمِرُوٓاْ أَن يَكْفُرُواْ بِهِۦ وَيُرِيدُ ٱلشَّيْطَٰنُ أَن يُضِلَّهُمْ ضَلَٰلًۢا بَعِيدًا ۝٦٠﴾ [النساء: ٦٠].

ترجمه: «آيا ته نه ګورې هغه کسانو ته چه ګومان کوي چه هغوئ هم ايمان لري په هغه کتاب چه تاته درنازل شوې دې(قرآنکريم) او هم په هغه کتابونو چه له تا څخه مخکنيو پيغمبرانو ورليږل شوې وو، او بيا هم غواړي خپلې لانجې د حل او فصل لپاره و طاغوت ته يوسي، حال دا چه دوئ ته

حکم شوې وو چه دوئ به انکار او کفر کوي په دغه طواغيتو باندي، خو شيطان غواړي چه دوئ له حق څخه په ډير لرې ګمراهۍ سره ګمراه کړي».

او رسول اللهﷺ هم جادوګر فالګر او کوډګرو ته له ورتګ څخه منع فرمايلې ده، لکه چه د ابو هريرةرضي الله عنه په حديث کښې چه رسول اللهﷺ فرمايي: «مَنْ أَتَى كَاهِنًا فَصَدَّقَهُ بِمَا يَقُولُ، فَقَدْ كَفَرَ بِمَا أُنْزِلَ عَلَى مُحَمَّدٍ -ﷺ-». [رواه الإمامُ أحمد من حديثِ أبي هُريرةَرضي الله عنه].

ترجمه: «هغه څوک چه غيبګو يا فالګر ته لاړ او د هغه خبره يې رښتيا وګڼله نو يقيناً هغه په هغه دين باندې کافر شو چه په محمدﷺ باندې نازل شوې دې».

او مشهور صحابي ابن مسعودرضي الله عنه فرمايي: «مَن أتى كاهِنًا أو سَاحِرًا فصَدَّقه بما يقولُ فقد كَفَرَ بما أُنْزِلَ على مُحَمَّدٍ». [رواه البَزَّارُ].

ترجمه: «هغه څوک چه غيبګو يا جادوګر ته لاړ او د هغه خبره يې رښتيا وګڼله نو يقيناً هغه په هغه دين باندې کافر شو چه په محمدﷺ باندې نازل شوې دې».

او د الله تعالی له حکم او شريعت څخه مخ اړونه او سرغړونه، او د هغې په بدل کښې د طواغيتو قوانينو او فيصلو پسې ګرزيدل او ورپسې کيدل د منافقينو عمل او صفت دې لکه چه الله جل جلاله فرمايي:

﴿وَيَقُولُونَ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَبِٱلرَّسُولِ وَأَطَعۡنَا ثُمَّ يَتَوَلَّىٰ فَرِيقٞ مِّنۡهُم مِّنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَۚ وَمَآ أُوْلَٰٓئِكَ بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٤٧ وَإِذَا دُعُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ لِيَحۡكُمَ بَيۡنَهُمۡ إِذَا فَرِيقٞ مِّنۡهُم مُّعۡرِضُونَ ٤٨ وَإِن يَكُن لَّهُمُ ٱلۡحَقُّ يَأۡتُوٓاْ إِلَيۡهِ مُذۡعِنِينَ ٤٩ أَفِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ أَمِ ٱرۡتَابُوٓاْ أَمۡ يَخَافُونَ أَن يَحِيفَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمۡ وَرَسُولُهُۥۚ بَلۡ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ٥٠ إِنَّمَا كَانَ قَوۡلَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ إِذَا دُعُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ لِيَحۡكُمَ بَيۡنَهُمۡ أَن يَقُولُواْ سَمِعۡنَا وَأَطَعۡنَاۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ٥١ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَخۡشَ ٱللَّهَ وَيَتَّقۡهِ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَآئِزُونَ ٥٢﴾ [النور: ٤٧-٥٢].

ترجمه: «او وايي منافقان چه مونږ ايمان لرو په الله تعالی او په رسول اللهﷺ باندی، او غاړه اېښودونكي يو الله تعالی او د هغه رسولﷺ ته، خو بيا هم مخ ګرزوي او سرغړونه كوي يوه ډله له دوئ څخه وروسته له دي اقرارونو هم، او په حقيقت كښی نه دي دوئ رښتيني مؤمنان، او كله چه راوبلل شي دوئ د الله تعالی او د هغه د رسولﷺ شريعت ته ددی لپاره چه فيصله وكړي ددوئ ترمنځ، نو ناڅاپه يوه ډله له دوئ څخه سرغړونه كوي او د حق له منلو څخه مخ ګرزوي، خو كه چيری وي په دي شريعت كښی ددوئ حق او طرفي نو بيا راځي ددی شريعت خوا ته تابعدار او غاړه اېښودونكي، نو آيا ددوئ په زړونو كښی مرض د نفاق دې او كه دوئ

شکمن دي په عدالت د شریعت کښې، او که دوئ ویریږي چه ظلم به وکړي په دوئ باندی الله تعالی او دهغه رسولﷺ، داسی نه ده بلکه همدوئ پخپله ظالمان دي چه له حق څخه سرغړونه کوي، بیشکه مؤمنان چه کله الله تعالی او د هغه رسولﷺ خوا ته وروبلل شي چه ددوئ تر منځ فیصله وکړي، نو دهغوئ وینا داسی وي چه ووایي: مونږ اوریدلې دې حکم د الله تعالی او غاړه ایښودونکي یو هغی ته، او همدغسی خلك همدوئ کامیاب دې، او هغه چا چه د الله تعالی او د هغه د رسولﷺ پیروي وکړه، او د الله تعالی څخه ویریږي، او د هغه له نافرمانۍ څخه ځان وساتي، نو همدغسی خلك همدوئ کامیاب دي».

خو هر څوك چه د طاغوت پیروي کوي، نو دغه پیروي یي نور هم د ګمراهۍ، تاوان او تورتمونو کندو ته غورزوي، او که څوك ددغه طاغوت څخه انکاري شی، او په الله تعالی باندي ایمان راوړي، او د الله د رالیږلې شوي لارښوونی پیروي یي وکړه، نو الله تعالی به یي له تیارو څخه رڼا ته راوباسي، او د سلامتیا او زرخیزۍ لاری به وروښایي، او په خپل رحمت او مهربانۍ کښی به یي داخل کړي، لکه چه الله ﷻ فرمایي:

﴿ٱللَّهُ وَلِيُّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ يُخۡرِجُهُم مِّنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِۖ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَوۡلِيَآؤُهُمُ ٱلطَّٰغُوتُ يُخۡرِجُونَهُم مِّنَ ٱلنُّورِ إِلَى ٱلظُّلُمَٰتِۗ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ٢٥٧﴾ [البقرة: ۲۵۷].

ترجمه: «الله تعالی د مؤمنانو دوست او کارسازې دې، چه ووباسي دوئ لره له تیارو څخه رڼا ته، او د کافرانو دوست طاغوت دې چه له رڼا څخه یې تیارو ته ووباسي، نو همدغسی خلك د اور والا دي او دوئ به په دغه اور کښې همیشه او تل لپاره وي».

نو طاغوت خپل دوستان د شرك، ناپوهی او ګمراهی، شکونو، حیرانتیا، تنګ ژوند او بدحالی او بدبختی کښې اچوي، الله تعالی دی مونږ تری بچ کړي.

خو هغه څوك چه په الله ﷻ باندې ایمان لري، نو همدا الله تعالی یې دوست او کارساز دې چه له تیارو څخه یې رڼا وخوا ته وباسي، نو د شرك له تیارو څخه یې د توحید رڼا ته، او د ګناه له خوارۍ اوذلّت څخه یې د طاعت او دین پیروۍ عزت ته، او د بدعتون له ګمراهۍ څخه د ځلانده سنتو لارې ته، او د شك له حیرانتیا څخه یې د یقین خوشحالۍ ته، او له تنګۍ او بدبختۍ څخه یې پراخۍ او نیکبختۍ ته، او له غم فکرونو او سوچونو څخه یې اطمینان، امن او آرامۍ ته وروباسي.

بلکه هغه څوك چه د سمې لارې پیروان وي الله تعالی یې نور هم ورته دغه هدایت او روښانتیا ورزیاتوي، نو هره ورځ دوئ له خیر او هدایت څخه لا برخمن او بهرمن کیږي، چه درجې یې پورته کیږي، او نیکۍ یې څوچنده کیږي ﴿ذَٰلِكَ فَضۡلُ ٱللَّهِ يُؤۡتِيهِ مَن يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ ذُو ٱلۡفَضۡلِ ٱلۡعَظِيمِ ٤﴾

[الجمعة: ٤].

ترجمه: «او دا د الله تعالی مهرباني ده، او د هغه خوښه ده چه په چا باندی دغه ډول مهرباني کوي؛ ځکه الله تعالی د لوئ مهربانۍ خاوند دې».

اتم درس: د شرک ډولونه او ورڅخه ویره کول

شرک هغه لویه ګناه ده چه الله ﷻ په ډاګه د هغی په هکله ډیر ټینګار کړي دي چه بنده ورڅخه ځان وژغوري، او کنه نو دغه ګناه په دنیا کښی له توبی پرته د بخښنی هیڅ لار نه لري، بلکه مشرک سړي که بی توبی مړ شي نو ابدي او تل ترتله په ددوزخ په اور کښی وي؛ له همدی کبله د قرآنکریم په متعددو آیاتونو کښی ورڅخه خپل بندګان ویرولي دي، او ورڅخه یي منع فرمایلی ده، لکه چه الله جلّ جلاله فرمایي:

﴿۞وَٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَلَا تُشۡرِكُواْ بِهِۦ شَيۡـٔٗاۖ﴾ [النساء: ٣٦].

«یعنی عبادت او بندګي وکړئ یواځی د الله تعالی، او د الله تعالی سره هیڅ شي شریک او برخمن مه منئ».

همدارنګه فرمایي:

﴿إِنَّ ٱلشِّرۡكَ لَظُلۡمٌ عَظِيمٞ ١٣﴾ [لقمان: ١٣].

ترجمه: «بیشکه شرک ډیر لوئ ظلم دي».

او په بل ځاي کښی فرمایي:

﴿إِنَّهُۥ مَن يُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ فَقَدۡ حَرَّمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِ ٱلۡجَنَّةَ وَمَأۡوَىٰهُ ٱلنَّارُۖ وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنۡ أَنصَارٖ ٧٢﴾ [المائدة: ٧٢].

ترجمه: «بیشکه شان دادې چه هرچا شرک وکړ او برخمن یې ومنلو د الله تعالی سره، نو یقیناً حرام کړ الله تعالی پر ده باندې جنت، او ځای د بیرته ورتللو دده اور دې او نشته ظالمانو مشرکانو ته هیڅ مرسته کونکې».

همدا مقصود په بل ځای کښې الله داسی بیانوي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغۡفِرُ أَن يُشۡرَكَ بِهِۦ وَيَغۡفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُۚ وَمَن يُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ فَقَدۡ ضَلَّ ضَلَٰلَۢا بَعِيدًا ١١٦﴾ [النساء: ١١٦].

ترجمه: «بیشکه الله جلّ جلاله نه بخښي دا کار چه شریک وګڼل شي د الله تعالی سره، او بخښنه کوي د هغه ګناه چه راښکته وي له شرک څخه، او هغه چا چه شرک وکړ له الله تعالی سره نو یقیناً ګمراه شو په ګمراهۍ لرې سره له حق نه».

او ابن مسعودﷺ فرمايي: چه ما له رسول اللهﷺ څخه وپوښتل چه: کومه ګناه ډیره لویه ده؟ هغه راته وفرمایل:

«أَنْ تَجْعَلَ لِلَّهِ نِدًّا وَهْوَ خَلَقَكَ». [مسند الإمام أحمد].

ترجمه: «تر ټولو لویه ګناه دا ده چه ته د الله تعالی سره شریک او سیال ومنې، حال دا چه ته یواځې الله تعالی پیدا کړې یې».

او جابر بن عبد اللهﷺ فرمايي چه: رسول اللهﷺ فرمايي: «مَنْ لَقِيَ اللَّهَ لاَ يُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا دَخَلَ الْجَنَّةَ وَمَنْ لَقِيَهُ يُشْرِكُ بِهِ دَخَلَ النَّارِ». [رواه مسلمٌ].

ترجمه: «هر څوک چه د الله تعالی سره په داسی حال کښې مخ شي چه د الله تعالی سره یې هیڅ شې شریک او برخمن ګڼلې نه وي، نو په قیامت

کښې به جنت ته داخل شي، او که څوک ورسره په داسې حال کښې مخ شو چه د الله تعالی سره یې شریکوال منلې وي نو اور ته به داخل شي».

شرک دیته وایي چه د الله تعالی پرته د بل چا عبادت اوبندګي وشي، نو که څوک د الله تعالی ترڅنګ بل چا ته هم چغه ووهي او راوه یې بلي، که هغه دعاء العبادة وي او که دعاء المسألة وي نو داسې شخص مشرک ګڼل کیږي؛ ځکه هغه د الله تعالی سره د هغه په بندګۍ کښې شریکوال، برخمن او سیال منلې دې، او الله تعالی هیڅکله دا نه خوښوي چه له هغه سره دې په عبادت کښې څوک شریک او برخمن وي، نه پیغمبر او نه هم ملایک، او نه بل څوک؛ ځکه عبادت او بندګي یوازې د الله تعالی حق دې، لکه چه الله ﷻ فرمایي: ﴿إِنِ ٱلۡحُكۡمُ إِلَّا لِلَّهِۚ أَمَرَ أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّآ إِيَّاهُۚ﴾ [یوسف: ٤٠].

ترجمه: «نه دې حکم او اختیار مګر یوازې یو الله تعالی ته دې، حکم یې کړې دې چه تاسو عبادت او بندګي مه کوئ مګر د یو الله تعالی عبادت او بندګي کوئ».

همدارنګه په بل ځاي کښې فرمایي: ﴿قُلۡ أَرَءَيۡتُمۡ شُرَكَآءَكُمُ ٱلَّذِينَ تَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَرُونِي مَاذَا خَلَقُواْ مِنَ ٱلۡأَرۡضِ﴾ [فاطر: ٤٠].

ترجمه: «ووایه اي پیغمبره ! ګورئ، ما خبر کړئ ستاسو په هغه شریکانو او خدایانو چه تاسو یې د الله تعالی پرته رابلی، نو راوښیئ چه دوئ په دې ټوله لویه ځمکه کوم شې پیدا کړې دې؟».

او همداراز فرمایي: ﴿وَمَن يَدۡعُ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ لَا بُرۡهَٰنَ لَهُۥ بِهِۦ

فَإِنَّمَا حِسَابُهُۥ عِندَ رَبِّهِۦٓۚ إِنَّهُۥ لَا يُفۡلِحُ ٱلۡكَٰفِرُونَ ﴿١١٧﴾ [المؤمنون: ١١٧].

ترجمه: «او هغه څوك چه رابلي د الله تعالى سره بل معبود، چه نشته هيڅ دليل ددغه معبود په عبادت او بندګى باندي، نو دده حساب كتاب په الله تعالى باندى دې، بيشكه شان دا دې چه نه كاميابيږي كافران خلك».

نو هر څوك چه د الله تعالى پرته بل چا ته(په مافوق الأسباب امورو كښى) رامددشه وايي هغه مشرك دې.

او شرك په ټولو ګناهونو كښى لويه ګناه ده، چه په شرعي نصوصو كښى ورته اكبر الكبائر، او لوئ ظلم ويل شوې دې، بلكه شرك د الله تعالى سره د وعدى او لوظ ماتول دي، او په لوئ امانت او په ټولو حقوقو كښى په لوئ حق كښى خيانت كول دي، چه هغه د الله تعالى هغه حق دې چه د هغى له كبله يي دا ټول مخلوقات پيدا كړي دي، او هغه حق يواځى د يو الله تعالى عبادت او بندګي كول دي، نو دداسى لوئ ګناه سزا به هم د ټولو ګناهونو له سزاګانو څخه ډيره لويه وي.

نو په دنيا كښى د شرك سزا د الله تعالى قهر او غضب دې، لكه چه الله تعالى فرمايي: ﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يُنَادَوۡنَ لَمَقۡتُ ٱللَّهِ أَكۡبَرُ مِن مَّقۡتِكُمۡ أَنفُسَكُمۡ إِذۡ تُدۡعَوۡنَ إِلَى ٱلۡإِيمَٰنِ فَتَكۡفُرُونَ ﴿١٠﴾ [المؤمن: ١٠].

ترجمه: «بيشكه هغه كسان چه كافران شي نو ورته اواز به كولې شي چه خامخا د الله تعالى قهر او غصه ډيره غټه ده ستاسو له قهر او غصى نه، نو ياد كړئ هغه وخت چه تاسو به ايمان طرف ته بلل كيدئ، نو تاسو به كفر او

انکار کولو».

او ددي ترڅنګ ورته په دنیا کښې ددوئ د نورو ګناهونو په سبب نوری سزاګانی هم رسیږي؛ ځکه دوئ د الله تعالی له لارښوونی څخه سرغړونه کړی وه.

او همدا ډول ورته ګمراهي بدبختي، ویره، غم، شک او حیرانتیا او په دنیوي ژوند کښې زړه تنګي ورباندي مسلّط کیږي، اګر که دوئ ته ددنیا یو څه سازو سامان هم ورکړل شي، بلکه دغه سازو سامان هم پر دوئ باندی یو ډول عذاب او وبال وي لکه چه الله تعالی فرمایي:

﴿لَا يَغُرَّنَّكَ تَقَلُّبُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فِي ٱلۡبِلَٰدِ ١٩٦ مَتَٰعٞ قَلِيلٞ ثُمَّ مَأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُۖ وَبِئۡسَ ٱلۡمِهَادُ ١٩٧﴾ [آل عمران: ۱۹۶-۱۹۷].

ترجمه: «دو که دي نکړي او تیر دی نه باسي تالره ګرزیدل راګرزیدل د کافرو په ملکونو کښې، (دغه چه ورکړ شوي دي کافرو ته) سازوسامان ددنیا دي لږ غوندی، بیا ځاي د ورتلو ددوئ دوزخ دې، او ډیر بد ځاي او فرش دې دغه جهنم».

همداراز فرمایي: ﴿وَمَن كَفَرَ فَلَا يَحۡزُنكَ كُفۡرُهُۥٓۚ إِلَيۡنَا مَرۡجِعُهُمۡ فَنُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ٢٣ نُمَتِّعُهُمۡ قَلِيلٗا ثُمَّ نَضۡطَرُّهُمۡ إِلَىٰ عَذَابٍ غَلِيظٖ ٢٤﴾ [لقمان: ۲۳-۲۴].

ترجمه: «او هغه څوک چه کافر شو نو غمجن دي نکړي تا لره- اي پیغمبره - کفر دهغه؛ بیرته راګرزیدل ددوئ زمونږ خوا ته دي، نو خبر به

کړو دوئ لره په هغه عملونو چه دوئ کړي وو، بیشکه الله تعالی په هغه پټو رازونو د سینو هم خبردار دي، سازوسامان ورکوو ورته په دنیا کښې لږ، او بیا به یي مجبور کړو ننوتلو د عذاب سخت ته».

همدارنګه الله تعالی فرمایي: ﴿وَمَن كَفَرَ فَأُمَتِّعُهُۥ قَلِيلًا ثُمَّ أَضۡطَرُّهُۥٓ إِلَىٰ عَذَابِ ٱلنَّارِۖ وَبِئۡسَ ٱلۡمَصِيرُ ۝١٢٦﴾ [البقرة: ۱۲۶].

ترجمه: «او هغه څوک چه کافر شو نو نفع او سازوسامان به ورکړم ورته لږ غوندی، بیا به یي مجبور کړم د اور عذاب ته، او ډیر بد ځاي د ورتللو دي».

او له مرګه وروسته خو د روح له وتلو پسی سمدلاسه ددوئ لپاره سخت او پرله پسی عذاب شروع شي؛ ځکه ددی نه مخکښی دوئ الله تعالی لعنتیان کړي وي.

نو اول خو به په ډیری سختئ سره د روح په ویستلو کښی په سخت عذاب باندي په عذاب کړل شي، بیا چه کله د قیامت د قایمیدو وخت شي، نو په هغه لویه ویره باندی عذاب کړل شي، بیا د عذب د ملایکو په لیدلو د عذاب بل پړاو وي، همدارنګه په قبرونو کښی هم د سخت عذاب سره مخ کیږي، او د قیامت په ورځ چه کومی ویری او ترهی دي هم په دوئ باندی تیریږي.

بیا چه کله د قیامت په ورځ د عرصات په میدان کښی په هغه غټه ورځ د رانژدي شوي لمر د سوزوونکو وړانګو لاندي هغه اوږده ولاړه هم یو عذاب

دې چه پنځوس زره کاله اوږده ورځ کښې پکښې ودرېږي، او په آخر کښې د دوزخ اور ته ورتلل دي چه تل ترتله به پکښې پاتې کيږي، چه نه ورڅخه عذاب سپکيږي، او نه به ورڅخه وويستل شي.

لکه چه الله تعالی فرمايي: ﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَمَاتُواْ وَهُمۡ كُفَّارٌ أُوْلَٰٓئِكَ عَلَيۡهِمۡ لَعۡنَةُ ٱللَّهِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ وَٱلنَّاسِ أَجۡمَعِينَ ١٦١ خَٰلِدِينَ فِيهَا لَا يُخَفَّفُ عَنۡهُمُ ٱلۡعَذَابُ وَلَا هُمۡ يُنظَرُونَ ١٦٢﴾ [البقرة: ۱۶۱-۱۶۲].

ترجمه: «بيشکه هغه کسان چه کافران شوي دي او په داسی حال کښې مړه شي چه دوئ کافران وي، نو داسی کسان پر دوئ باندی به وي لعنت د الله تعالی او د ملايکو او د ټولو خلکو، هميشه به وي په دغه لعنت کښې، چه نه به سپکولې شي له دوئ څخه عذاب، او نه به ورته مهلت ورکولې شي».

همدارنګه فرمايي: ﴿وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَهُمۡ نَارُ جَهَنَّمَ لَا يُقۡضَىٰ عَلَيۡهِمۡ فَيَمُوتُواْ وَلَا يُخَفَّفُ عَنۡهُم مِّنۡ عَذَابِهَاۚ كَذَٰلِكَ نَجۡزِي كُلَّ كَفُورٖ ٣٦ وَهُمۡ يَصۡطَرِخُونَ فِيهَا رَبَّنَآ أَخۡرِجۡنَا نَعۡمَلۡ صَٰلِحًا غَيۡرَ ٱلَّذِي كُنَّا نَعۡمَلُۚ أَوَ لَمۡ نُعَمِّرۡكُم مَّا يَتَذَكَّرُ فِيهِ مَن تَذَكَّرَ وَجَآءَكُمُ ٱلنَّذِيرُۖ فَذُوقُواْ فَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِن نَّصِيرٍ ٣٧﴾ [فاطر: ۳۶-۳۷].

ترجمه: «هغه کسان چه کافران وي ددوئ لپاره اور د دوزخ دې، نه به وربانديې د مرګ فيصله کيږي چه مړه شي، او نه به ورڅخه د دوزخ عذاب سپکولې شي، همدا شان سزا ورکوو هر کافر ته، او دوئ به چيغی وهي په دغه اور کښې او وايي به: اي ربه ! مونږ له دی اوره څخه بهر وباسه چه نيک

عمل وکړو، پرته له هغه عمل نه چه مخکښې مو کړې وو، نو ورته به وویل شي: آیا مونږ نه وو درکړې تاسو ته دومره عمر چه څوک پکښې پند اخلي نو اخستلې يې شي؟ او هم راغلې وو تاسو ته له دی عذاب څخه ویروونکي، نو اوس وڅکی عذاب؛ ځکه نشته د ظالمانو لپاره هیڅوک کومکي».

همداراز فرمايي: ﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَعَنَ ٱلۡكَٰفِرِينَ وَأَعَدَّ لَهُمۡ سَعِيرًا ٦٤ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدٗاۖ لَّا يَجِدُونَ وَلِيّٗا وَلَا نَصِيرٗا ٦٥ يَوۡمَ تُقَلَّبُ وُجُوهُهُمۡ فِي ٱلنَّارِ يَقُولُونَ يَٰلَيۡتَنَآ أَطَعۡنَا ٱللَّهَ وَأَطَعۡنَا ٱلرَّسُولَا۠ ٦٦ وَقَالُواْ رَبَّنَآ إِنَّآ أَطَعۡنَا سَادَتَنَا وَكُبَرَآءَنَا فَأَضَلُّونَا ٱلسَّبِيلَا۠ ٦٧ رَبَّنَآ ءَاتِهِمۡ ضِعۡفَيۡنِ مِنَ ٱلۡعَذَابِ وَٱلۡعَنۡهُمۡ لَعۡنٗا كَبِيرٗا ٦٨﴾ [الأحزاب: ٦٤-٦٨].

ترجمه: «بیشکه الله تعالی لعنتیان کړي دي کافران او تیار کړې يې دې هغوئ ته ګرم اور، همیشه به وي دوئ په دغه اور کښې تل ترتله، نه به مومي ځان لپاره هیڅوک دوست کارساز او نه مرسته کونکې، په هغه ورځ چه اړول کیږي را اړول کیږي به مخونه ددوئ په اور کښې او دوئ به وايي: اي افسوس دې مونږ ته چه پیروي مو کړې واي د الله تعالی او د هغه د رسول (صلّى اللهُ عَليه وسلّم)، او هم به وايي: اي ربه زمونږ! بیشکه مونږ پیروي کړې وه د خپلو سردارانو او مشرانو، نو هغوئ مونږ د سمی لاری څخه بې لاری کړو، نو اي ربه زمونږ! ورکړه هغوئ ته دوچند عذاب، او لعنتیان کړه هغوئ په ډیر لوئ لعنت سره».

او د شرک د لوئ خطر او له هغی څخه د ځان ساتلو د وجوب یو دلیل

دادې چه هر څوک شرک وکړي، نو مخکنې نیک عمل یې تباه او ابته کیږي، او شخص په کافرانو او تاوانیانو کښې شاملیږي، ګویا چه ده مخکښې هیڅ نیک عمل کړې نه وي؛ ځکه الله ﷻ له مشرک څخه هیڅ یو عمل نه قبلوي.

لکه چه الله تعالی فرمايي: ﴿وَمَن يَبۡتَغِ غَيۡرَ ٱلۡإِسۡلَٰمِ دِينٗا فَلَن يُقۡبَلَ مِنۡهُ وَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ٨٥﴾ [آل‌عمران: ۸۵].

ترجمه: «او هغه څوک چه لټوي پرته له اسلام څخه بل دین نو هیڅکله به ورڅخه قبول نشي، او ورڅخه به ونه منل شي، او دې به په آخرت کښې له تاوانیانو څخه وي».

همداراز فرمايي: ﴿وَلَقَدۡ أُوحِيَ إِلَيۡكَ وَإِلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكَ لَئِنۡ أَشۡرَكۡتَ لَيَحۡبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ٦٥ بَلِ ٱللَّهَ فَٱعۡبُدۡ وَكُن مِّنَ ٱلشَّٰكِرِينَ ٦٦﴾ [الزمر: ۶۵-۶۶].

ترجمه: «او خامخا په تحقیق وحی شوی ده تا ته او هغه پیغمبرانو ته چه له تاڅخه مخکښې لیږل شوي دي په دې خبره چه که ته هم -فرض محال- شرک وکړې نو ابته او تباه به شي ستا نیک عمل هم، او خامخا به له تاوانیانو څخه شی، بلکه ته عبادت او بندګي کوه یواځی د یو الله تعالی، او د شاکرینو له جملی څخه شه».

همداشان الله تعالی د یو شمیر پیغمبرانو یادونه په سورت انعام کښې کړی ده او په هغوئ یې ثنا ویلی ده، او بیا یې فرمایلي دي: ﴿وَمِنۡ ءَابَآئِهِمۡ

وَذُرِّيَّٰتِهِمْ وَإِخْوَٰنِهِمْ ۖ وَٱجْتَبَيْنَٰهُمْ وَهَدَيْنَٰهُمْ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٨٧﴾ ذَٰلِكَ هُدَى ٱللَّهِ يَهْدِى بِهِۦ مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ ۚ وَلَوْ أَشْرَكُوا۟ لَحَبِطَ عَنْهُم مَّا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿٨٨﴾﴾ [الأنعام: ٨٧-٨٨].

ترجمه: «او هم ددوئ له پلرونو اولادونو او ورونړو څخه ځيني هغه دي چه مونږ غوره کړي دي، او ورته ښوولی مو ده سمه لاره، همدا زمونږ لخوا ښوول شوی سمه لاره د الله ﷻ هغه هدايت او لارښوونه ده چه الله تعالی يي پخپله خوښه هغه چا ته ښاي چه ورته خوښه يي شي له خپلو بندګانو څخه، خو که بالفرض دوئ هم شرک وکړي نو ددوئ هغه نيک عمل به تباه او ابته شي چه دوئ کړې وو».

نو انبياء عليهم السلام سره له دي چه د الله تعالی ډير نيکان بندګان دي، او د الله تعالی سره د لويو مرتبو، شرافت او نژديکت خاوندان دي، او الله جلّ جلاله ورسره محبت او مينه هم لري، خو بالفرض که دوئ هم شرک وکړي نو الله تعالی يي ورته نه بخښي، خو مونږ ټول په دي ښه پوهيږو چه هغوئ الله تعالی له شرک څخه معصوم کړي او ورڅخه ساتلي يي دي.

نو کله چه انبياؤ ته شرک - که بالفرض ورڅخه صادر شي - نه بخښل کيږي، نو نورو ته خو په طريقه اولی نه بخښل کيږي، او دا هغه حکم دې چه الله تعالی په خپل کتاب کښی تل ترتله پريښې دې، چه هميشه لوستل کيږي ترڅو مونږ پکښی سوچ فکر وکړ، و او ورڅخه پوهه شو چه شرک څومره لوئ جرم دې.

شرک په دوه ډوله دي:

لومړي: شرک اکبر «لوئ شرک»:

او دا ډول شرک په ربوبیت او الوهیت کښې راتلاي شي.

شرک أکبر په ربوبیت کښې دا دې چه: د الله تعالی سره د هغه په کارونو کښې شریکوال او برخمن وګڼل شي، لکه پیدا کول، رزق ورکول، او د ټول عالم په ټولو اړخونو کښې پاچاهي اختیار او د هغی تدبیر کول.

او شرک أکبر په الوهیت اوعبادت کښې دا دې چه د الله تعالی پرته بل څوک راوبلل شي، که هغه د عبادت او بندګی په ډول وي او که د حاجت غوښتنی په څیر وي، او شرک اکبر کله په زړه سره وي، کله په وینا کښې او کله په عمل سره.

د قلبي شرک اکبر مثال: لکه چه یو څوک دا عقیده ولري چه د الله پرته نور معبودان په دي کون کښې تصرف کولې شي، یا په غیبو باندي پوهیږي، او یا هم مافوق الأسباب ګټه او تاوان رسولې شي، او ددغه معبودانو سره محبت او مینه کول، او په هغوئ باندي توکل بروسه او اعتماد کول، له هغوئ څخه مرسته او کومک غوښتل او داسی نور هغه قلبي عبادتونه دي چه له الله تعالی پرته بل چا ته کول یي روا نه دي، نو که څوک دغه کار وکړي هغه مشرک او کافر ګڼل کیږي.

او په قول او وینا کښې د شرک مثال: لکه د الله تعالی پرته بل څوک رابلل، ورته چغه وهل، او همدا ډول هغه کفري اقوال چه په هغی کښې د بتانو او طواغیتو لویي، تعظیم او مدح او ثنا صفت وي، او یا پکښې پر الله

تعالی باندې دروغ تړل وي.

او د عملي شرک مثال: لکه د الله تعالی پرته د بل چا په نامه او یا هغه ته د قربت او نژدیکت لپاره حلالکه کول، هغه ته نذر او منښته منل او ورته سجده کول.

د شرک اکبر حکم:

شرک اکبر باندې بنده د اسلام له مقدس دین څخه ووځي، او هغه څوک چه شرک اکبر وکړي او بیا له دغه شرک اکبر څخه توبه ونه باسي او مړ شي، نو الله تعالی ورته هیڅکله بخښنه نکوي، بلکه دغه شرک اکبر د الله تعالی د غضب غصې او ددوزخ په اور کښې د تل ترتله پاتې کیدو سبب کیږي. العیاذ بالله.

دوهم: شرک اصغر «وړوکي شرک»:

شرک اصغر هغه ګناه ده چه شرک اکبر ته وسیله او سبب کیږي، او شرک اکبر ته یو ډول لار وي، او په شرعي نصوص کښې په شرک سره نومول شوې وي، او عین وخت کښې پکښې د الله تعالی پرته بل چا ته پکښې د عبادت کول نه وي.

او دا شرک اصغر هم کله په زړه، کله په وینا کښې، او کله په عمل کښې وي.

په زړه د شرک اصغر مثال: د یو مقصود او هدف لپاره د هغه څه سبب ګڼل چه الله تعالی هغه په شریعت او یا تقدیر کښې سبب کړې نه وي، لکه د بندونو او تعویذونو د ګټې رسولو عقیده ساتل چه دا به د کوم مصیبت مخه نیسي، او یا بدفالي کول.

دعملي شرك اصغر مثال: لکه ریا کول، لکه چه یو څوك د یو چا په مخکښی لمونځ په ډیر ښه ډول ادا کوي ترڅو خلك يي صفت او مدح وکړي او وه يي ستايي، او ورځخه ښه ووايی، چه ډیر ښه عبادت او بندګي کوي، نو دلته دا لمونځ کونکې لمونځ د الله تعالی لپاره کوي، خو دې په دغه ښه لمانځه د خلکو مدح او صفت هم غواړي، او په نیت کښی يي دغه مقصد راوستلې دې، او کیداي شي نور يي په ښه ډول ادا کړي؛ ترڅو خلك يي ډير صفت وکړي.

نو دا کار شرك اصغر دې؛ ځکه په دغه عبادت کښی دده قصد خالص د الله تعالی رضا نه وه، خو شرك اكبر هم نه دې؛ ځکه دلته ده د الله تعالی پرته د بل چا عبادت او بندګي نه ده کړی.

او په قول او وینا کښی د شرك اصغر مثال: لکه چه یو څوك چا ته ووايي: ستا او د الله خوښه ده، یا د الله تعالی پرته په بل چا باندي قسم او سوګند وخوري، او یا ووايي: دا باران پر مونږ د پلاني پلاني ستوري په سبب وشو.

د شرك اصغر حکم: په شرك اصغر سره بنده له اسلام څخه نه ووځي، او نه يي په سبب په اور کښی تل ترتله پاتی کيږي، خو بیا هم لویه ګناه ده، که له کوم بنده څخه دغه کارونه صادر شي باید توبه ورځخه وکاږي، که توبه ورځخه ونکړي، نو خپل ځان يي د الله تعالی غضب غصی او دردناك عذاب ته وړاندی کړ.

د شرك یو بل تقسیم:

شرک په يو بل تقسيم کښې هم په دوه ډوله دې:

لومړی: شرک جلّي:

او دا هغه شرک دې چه شرکيت يي ښکاره وي: لکه د غيرُ الله رابلل، د بتانو او طواغيتو لپاره حلالکه کول، او داسې نور د شرک اقوال او افعال، چه په ښکاره ډول شرک ګڼل کيږي.

دوهم ډول: شرک خفي:

او شرک خفي کله شرک اکبر وي او کله به اصغر وي.

نو شرک اکبر خفي: لکه د شرک اکبر پټ اعمال، لکه په غيرُ الله پورې د زړه تړل، په مافوق الاسباب امورو کښې غير الله ته پنا وړل، د الله تعالی پرته په بل چا باندې توکل او بروسه او اعتماد کول، او له هغې څخه د ګټې او تاوان عقيده ساتل.

او شرک اصغر خفي: لکه په دنيا پورې داسې زړه تړل چه کله يي پر واجبو او فرضي اعمالو باندي بهتره وګڼې، او يا ددي دنيايي ګټو له کبله د ځينو محرّماتو مرتکب شي، حال دا چه رسول الله ﷺ فرمايي: «تَعِسَ عَبْدُ الدِّينَارِ وَعَبْدُ الدِّرْهَمِ»، يعنی: «ورک دي شي او برباد دي شي د دينار او درهم بنده».

نو دلته په دي حديث شريف کښې رسول الله ﷺ په مال پورې زړه تړل يي د هغې په عبادت او بندګی باندې ونومولو.

او دا هم شرک خفي دې چه د غير الله پيروي او اطاعت د الله تعالی په پيروی او اطاعت باندي مخکښې کړي، سره له دي چه دلته دده قصد دا نه

وي چه د غير الله عبادت او بندګي وکړي، او يا خپل زړه په هغه پورې وتړي، او دا بيا د شرک خفي هغه ډير باريک ډول دی، چه بچ کيدل ورڅخه ډير ګران دي.

لکه چه معقل بن يسارﷺ فرمايي: زه له ابوبکر الصديقﷺ سره د رسول اللهﷺ خوا ته لاړم، نو رسول اللهﷺ وفرمايل: «لَلشِّرْكُ فِيكُمْ أَخْفَى مِنْ دَبِيبِ النَّمْلِ»، يعنی شرک په تاسو کښی- يعنی په دي امت کښی- د ميږيانو د تللو له اواز څخه هم ډير پټ دی.

نو ابوبکرﷺ ورته وفرمايل: آيا شرک ديته نه وايي چه څوک د الله تعالی سره بل معبود ومني؟.

نو رسول اللهﷺ ورته وفرمايل:

«وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، لَلشِّرْكُ أَخْفَى مِنْ دَبِيبِ النَّمْلِ، أَلَا أَدُلُّكَ عَلَى شَيْءٍ إِذَا قُلْتَهُ ذَهَبَ عَنْكَ قَلِيلُهُ وَكَثِيرُهُ؟. قُلِ: اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ أَنْ أُشْرِكَ بِكَ وَأَنَا أَعْلَمُ، وَأَسْتَغْفِرُكَ لِمَا لَا أَعْلَمُ». [رواه البخاري في الأدب المفرد].

ترجمه: زما دي په هغه الله تعالی سوګند وي چه زما نفس د هغه په لاس کښی دی، چه خامخا شرک د ميږيانو د تللو له کشار څخه هم په تاسو کښی ډير پټ دی، نو آيا تاته داسی يو څه ونه ښايم چه ته يي ووايي نو له تا څخه د هغه شرک لږ او ډير ټول لاړ شي او ته ورڅخه پاک شی؟ هغه ورته وويل: راته يي ووايه: نو رسول اللهﷺ ورته وفرمايل: دا دعا وايه: چه أي الله زه له تا څخه له دی نه پناه غواړم چه زه له تاسره شرک وکړم او زه پری پوهيږم، او هم له تا څخه بخښنه غواړم د هغه ګناه چه زه پری نه پوهيږم.

نو له شرک خفي څخه بچ کيدل ډير ګران دي مګر که الله تعالی څوک تری وساتي او تری بچ يي کړي؛ ځکه کله دغه شرک خفي پدی شکل هم وي چه خپل نفساني خواهش د الله تعالی پر اطاعت او پيروئ باندی مخکی کړی، يا د ځينو بندګانو د اطاعت له کبله د الله تعالی څخه سرغړونه وکړي، او دا سرغړونه کله په کبائرو کښی وي او کله په صغائرو کښی وي.

نو دا نبوي دعا له دغه ډول شرک څخه د خلاصئ لپاره ډير لوئ سبب دې، چه ددغه ډول شرک اثر هم له منځه وړي، او د الله تعالی مغفرت او بخښنه پری لاس ته راځي.

او د توحيد پوره تحقيق او پلي کول په دي سره لاس ته راځي چه بنده خپل زړه او مخ يو الله تعالی ته تسليم کړي، يعنی په ښکاره او باطن کښی الله تعالی ته غاړه کيږدي، نو د هغه پيروي ، محبت کول، د يو چا سره کينه کول، ورکړه کول، يو څه منع کول ټول د الله تعالی د رضا لپاره وي، نو په دي سره بنده د کامل ايمان خاوند کيداي شي، الله تعالی دي زمونږ په دغه کامل ايمان کښی برخه وکړي.

نهم درس: له منافقت څخه ویره

منافقت دیته وایي چه د بنده ښکاره او ظاهر له زړه او باطن څخه مخالف او بل شان وي، او منافقت بیا په دوه ډوله دې: یو یې نفاق اکبر«یعنی لوئ منافقت» چه بنده له اسلام څخه ووباسي، او بل یې نفاق اصغر «کوچنی منافقت» چه بنده له اسلام څخه نه ووباسي، او همدی ته عملي نفاق هم ویل کیږي.

لومړي: نفاق اکبر«لوئ منافقت»:

او هغه دا چه څوک په ښکاره د اسلام اقرار کوي، او په زړه کښی کافر او له ایمان او اسلام له منلو څخه منکر وي.

دوهم: نفاق اصغر «کوچنی منافقت»:

او هغه دا چه په یو بنده کښی د منافقت ځینی عادتونه موجود وي، هغه عادتونه چه هغه پخپله بالذات بنده له دین څخه نه ووباسي، لکه په عادي او عامو خبرو کښی دروغ ویل، له وعدی او لوظ څخه مخالفت کول، په امانت کښی خیانت کول، دجنګ او شخړی په وخت کښی ښکنځل کول، د معاهدی په وخت کښی خیانت کول... اوداسی نور.

نو دي عادتونو ته په اسلامي شريعت کښې نفاق ويل شوې دې؛ ځکه دلته هم د بل چا تيرايستل او دبنده ظاهر له باطن څخه پکښې مخالف دې.

او منافقين په نفاق اکبر سره هم په دوه ډوله دي:

لومړې ډول منافق: هغه منافق چه هغه په حقيقت کښې اصلاً ايمان نه وي راوړی، بلکه ددوکی او تيرايستلو او غولولو په خاطر يي د اسلام اظهار کړې وي؛ تر څو په دغه ډول مسلمانان تيرباسي، او اسلام او مسلمانانو ته يو ډول پلمه جوړه کړي، او دې پخپله له وژنی او د مسلمانانو له بدبينۍ څخه په امن کښې شي، او دې په زړه کښې په الله تعالی او قيامت او نورو ايمانياتو باندی ايمان نلري.

لکه چه الله تَعَالَى فرمايي: ﴿وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَقُولُ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَبِٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَمَا هُم بِمُؤۡمِنِينَ ۝٨ يُخَٰدِعُونَ ٱللَّهَ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَمَا يَخۡدَعُونَ إِلَّآ أَنفُسَهُمۡ وَمَا يَشۡعُرُونَ ۝٩﴾ [البقرة: ٨-٩].

ترجمه: «ځينی له خلکو څخه داسی دي چه په ښکاره وايي او اقرار کوي چه مونږ په الله تعالی او وروستی ورځ«قيامت» باندي ايمان لرو، او دوئ په حقيقت کښی مومنان نه وي، (بلکه دا اقرار ددي لپاره کوي چه) دوي تيرباسي الله تعالی (په خپل ګومان) او هم تيرباسي مومنان، خو په حقيقت کښی دوئ نه تيرباسي مګر خو تيرباسي همدا خپل ځان، او دوئ ناپوهان دي نه پوهيږي».

همدارنګه دمنافقينو په صفت او بيان کښی په بل ځاي کښی الله تعالی

فرمايي: ﴿إِذَا جَآءَكَ ٱلۡمُنَٰفِقُونَ قَالُواْ نَشۡهَدُ إِنَّكَ لَرَسُولُ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ إِنَّكَ لَرَسُولُهُۥ وَٱللَّهُ يَشۡهَدُ إِنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ لَكَٰذِبُونَ ١ ٱتَّخَذُوٓاْ أَيۡمَٰنَهُمۡ جُنَّةٗ فَصَدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۚ إِنَّهُمۡ سَآءَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ٢﴾ [المنافقون: ۱-۲].

ترجمه: «کله چه راشي تاته منافقان نو تاته به وايي: مونږ ګواهي کوو چه يقيناً ته خامخا د الله تعالی پیغمبر يي، او الله تعالی ډیر ښه پوهیږي چه ته د الله تعالی رسول او استاځې يي، او الله تعالی ګواهي کوي چه بیشکه منافقان خامخا دروغجن دي، دوئ خپل قسمونه ډال کړي دي(د مؤمنانو په مخکښې)، نو خلك بندوي او ګرزوي يي د الله تعالی له دين څخه، ددوئ دا کار ډیر بد دې».

دوهم ډول منافقان: هغه څوك دي چه يو ځل مسلمانان شي، خو بيا بيرته مرتد شي، لکه هغه څوك چه له اسلام څخه وروسته دداسی ګناه مرتکب شي چه د اسلام سره مناقض وي، او له اسلام څخه يي ووباسي، سره له دي چه دې به هغه شان د اسلام دعوا کوي، بيا ځینی يي په خپل کفر او له دين څخه په وتلو پوهیږي، او ځینی نور بيا داسی ګومان کوي چه د دوئ دا نفاق هم يو ښه کار کوي.

په دي ډول منافقانو کښې شک حيرانتيا او تردد ډير وي؛ ځکه دوئ کله د مسلمانی کارونه هم کوي، او ورسره هغه کارونه کوي چه دوئ له اسلامه ووباسي، او کفر او نفاق کښې يي ننباسي، لکه چه الله ﷻ فرمايي: ﴿إِنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ يُخَٰدِعُونَ ٱللَّهَ وَهُوَ خَٰدِعُهُمۡ وَإِذَا قَامُوٓاْ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ قَامُواْ كُسَالَىٰ

يُرَآءُونَ ٱلنَّاسَ وَلَا يَذۡكُرُونَ ٱللَّهَ إِلَّا قَلِيلٗا ١٤٢ مُّذَبۡذَبِينَ بَيۡنَ ذَٰلِكَ لَآ إِلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ وَلَآ إِلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِۚ وَمَن يُضۡلِلِ ٱللَّهُ فَلَن تَجِدَ لَهُۥ سَبِيلٗا ١٤٣﴾

[النساء: ۱٤۲-۱٤۳].

ترجمه: «بيشكه منافقان (په خپل ګومان) تيرباسي الله تعالى، حال دا چه الله تعالى ددوئ ددي ګومان په مقابل كښې همدوئ تيرباسي، او كله چه لمانځه ته پاڅيږي، نو سست او ناراسته پاڅيږي، مقصد يي صرف دا وي چه خلكو ته ځان ښودنه كوي، او نه يادوي الله تعالى لره مګر ډير لږ، حيران او دوپړ ك وي په منځ د ايمان او كفر كښې، چه نه بيخي له مؤمنانو سره دي په باطن كښې هم لكه د ظاهري ايمان په شان، او نه له كافرو سره وي په ظاهر كښې لكه د باطني كفر په شان، او هغه څوك چه الله تعالى يي ګمراه كړي نو هغه لپاره به بله لار د هدايت او د حق پيدا نكړى».

همدارنګه الله ﷻ په بل ځاي كښې فرمايي: ﴿وَمَا مَنَعَهُمۡ أَن تُقۡبَلَ مِنۡهُمۡ نَفَقَٰتُهُمۡ إِلَّآ أَنَّهُمۡ كَفَرُواْ بِٱللَّهِ وَبِرَسُولِهِۦ وَلَا يَأۡتُونَ ٱلصَّلَوٰةَ إِلَّا وَهُمۡ كُسَالَىٰ وَلَا يُنفِقُونَ إِلَّا وَهُمۡ كَٰرِهُونَ ٥٤﴾ [التوبة: ٥٤].

ترجمه: «او نه دي منع كړي دوئ له دي نه چه قبول كړې شي له دوئ څخه نفقه او وركړه او خيرات ددوئ مګر همدي خبرى چه دوئ كافران شوي دي په الله تعالى او د هغه په پيغمبر ﷺ باندي، او نه راځي لمانځه ته مګر په داسى حال كښې چه دوئ سست او ناراسته وي، او نفقه او وركړه او خيرات نه كوي دوي مګر دوئ دغه خپله نفقه او وركړه بده ګڼي او پرى

ناخوښی وي».

نو له دوئ څخه د کفري اعمالو صادريدل ددوئ نور نيک اعمال له قبلولو څخه منع کوي، اود هغی د قبول په مخ کښی يي خنډ کيږي؛ ځکه الله تعالی له کافر بنده څخه هيڅ يو عمل نه قبلوي.

نو لمانځه ته په سستی او ناراستی پاڅيدل او د الله تعالی په لار کښی او دهغه د رضا لپاره د مال د ورکړی بد ګڼل هم ددی دليل دې چه دوئ د الله تعالی هغه نيکی وعدی په جنت او د هغه سره د مخامخ کيدلو تصديق نه وو کړې، او له زړه څخه يي نه وو منلي.

همدا شان د الله تعالی لږ يادولو سبب همدا دې چه ددوئ ذکر (الله يادونه) يواځی په ژبو باندی د ريا او نفاق لپاره دې، او زړونه يي په حقيقت کښی د الله تعالی ددين سره محبت او مينه نلري، نو له همدي کبله دوئ حيران او دوپړک دي، نه خو په پټه او ښکاره کافران دي، او نه په پټه او ښکاره مؤمنان دي، بلکه دواړه صفتونه يي سره تقسيم کړي دي، چه په پټه کافران او په ښکاره مسلمانان دي.

امام ابن کثير رحمه الله فرمايي: «ځينو منافقانو ته حتی ددوئ په زړونو کښی شک او تردد او حيرانتيا پيدا کيږي، نو کله يي مسلمانانو ته ميلان پيدا کيږي، او کله يي کفارو ته ميلان پيدا کيږي، لکه چه الله تعالی فرمايي: ﴿كُلَّمَآ أَضَآءَ لَهُم مَّشَوۡاْ فِيهِ وَإِذَآ أَظۡلَمَ عَلَيۡهِمۡ قَامُواْ﴾ [البقرة: ٢٠].

ترجمه: «هرکله چه دوئ ته رڼا شي نو دوئ پکښی ځي، او کله چه

ورباندې تورتم او تياره شي، نو ودريږي».

همدارنګه عبد الله بن عمر رضي الله عنهما فرمايي چه ما له رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چه هغه به ويل: «مَثَلُ الْمُنَافِقِ كَمَثَلِ الشَّاةِ الْعَائِرَةِ بَيْنَ الْغَنَمَيْنِ تَعِيرُ إِلَى هَذِهِ مَرَّةً وَإِلَى هَذِهِ مَرَّةً». رواه مسلمٌ، وفي روايةٍ في مُسندِ الإمامِ أحمدَ: «تَعِيرُ إِلَى هَذِهِ مَرَّةً، وَإِلَى هَذِهِ مَرَّةً، لَا تَدْرِي أَهَذِهِ تَتْبَعُ، أَمْ هَذِهِ».

ترجمه: «دمنافق مثال د هغه حيرانی ګډې په شان دې چه کله يوې رمې ته ورځي او کله بلې رمې ته ورځي».

او په بل روايت کښې داسې راځي چه: «يو ځل يوې رمې ته ورځي، او کله بلې رمې ته ورځي، نه پوهيږي چه له دې رمې سره شي، او که له هغه بلې رمې سره شي».

الله جلّ جلاله په خپل کتاب قرآنکريم کښې او رسول الله ﷺ په خپلو سنتو کښې د منافقينو اعمال، عادتونه او نښې، او هم يې په دنيا او آخرت کښې د هغوئ سزا او عقاب، او د هغوئ سره د معاملې احکام، بيان کړي دي.

همدارنګه يې واضح کړي دي چه مؤمنان بايد له منافقانو او نفاق څخه په ډېر احتياط سره ځان وساتي؛ ځکه دوئ ډېرسرسخته دشمنان دي، او مسلمانانو ته خطر يې له نورو کفارو څخه لوئ دې، لکه چه الله ﷻ فرمايي:

﴿هُمُ ٱلۡعَدُوُّ فَٱحۡذَرۡهُمۡ﴾ [المنافقون: ٤].

ترجمه: «همدوئ ستاسو دښمنان دي، نو ويره ورڅخه ولرئ او ځان

ورڅخه وساتی».

نو مؤمن باید ددوئ پلمو ته بیدار وي، او ورڅخه ځان وساتي، او ددوئ په کفري فسقي اعمالو او ګناهونو چه دوئ يي په يو ډول او بل ډول خلکو ته ښایسته کوي او عذرونه ورته بیانوي پری تیر نه ووځي، او ددوئ له اخلاقو او عاداتو څخه لری اوسي.

منافقان که نفاق يي اصغر وي او که اکبر ددواړو ډلو افراد يي په خپل منځ کښی سره په درجو او نفاق کی توپیر لري، چه ځینی يي په نفاق او کفر او سرکښی کښی له ځینی نورو څخه لوئ وي او ډیر بدبخته وي:

– ځینی يي په نفاق او منافقت باندي کلک او روږدي شوي وي، نو داسلام او مسلمانانو سره ددوئ دښمني، او ورسره راز راز پلمی ډیری سختی او مضبوطی وي، او دوئ پر مسلمانانو باندي د قسماقسم حوادثو او عذابونو د راتلو منتظر وي، او پخپله هم ډیر کوښښ کوي چه ددوئ ترمنځ فتنی او دښمنی واچوي، او په هره طریقه چه توان يي کیږي دوئ سپک کړي، او ددوئ په زړونو کښی د کافرو شان او قوت لوئ ښکاره کړي، او ددي لپاره تبلیغات کوي او راز راز اعلامي طریقی کاروي، چه کله ځینی دروغ افواهات خوروي، او کله د هغوئ شبهات په خلکو کښی خپروي، او کله نفساني شهوات او بي حیائي د عوامو په منځ کښی ښائسته کوي، او کوښښ کوي چه هرڅنګه چه وکولې شي مسلمانانو ته د هغوئ په سرونو او عزتونو کښی اذیت او ضرر ورسوي، چه په دی لار کښی له هیڅ ډول پلمی او کم ظرفی څخه دریغ نکوي، او کوښښ کوي چه د خپل توانه پوری پر

دوئ ددوئ په دیني او دنیوي امورو کښې تنګي او سختي راولي، او خلکو کښې د الله دین ته له دعوت، جهاد في سبیل الله، امر بالمعروف او نهي عن المنکر څخه نفرت او کرکه پیدا کړي، او په ډیره سپین سترګۍ سره خپل دغه فساد او افساد ته اصلاح ترقي تنویر روشنفکري ازادخیالي هم وايي، او مخلصو مؤمنانو ته بی عقله، ناپوهان کم علمه وايي، تل د اسلامي شریعت د نفاذ څخه تښتي، او غواړي چه طواغیتو ته خپلی منازعی او خلافونه د حل او فصل لپاره یوسي، او د الله تعالی دلاری د مجاهدینو، او د اسلام او مسلمانانو د مرستندویانو سره تل بغض او کینه کوي.

لکه چه رسول الله ﷺ فرمايي: «آيَةُ الإِيمَانِ حُبُّ الأَنصَارِ وَآيَةُ النِّفَاقِ بُغْضُ الأَنْصَارِ». [متفق علیه]

ترجمه: «د ایمان نښه د رسول الله ﷺ له انصارو سره محبت او مینه کول دي، او د نفاق او منافقت نښه له دغه انصاروسره کینه او بغض کول دي».

نو کله چه انصارو رضي الله عنهم د اسلام د مقدّس دین نصرت اومرسته کړی وه، له دي کبله له دوئ سره بغض کول د منافقت ښکاره نښه شوه.

د منافقینو ځینی نوری علامی لکه:

د مسلمانانو په خلاف په بدو امر کول، او له شریعت او ښو کارونو څخه منع کول، د الله تعالی په لار کښی له ورکړی څخه لاسونه موټی کول.

بله نښه یي داده چه کله مسلمانانو ته کوم مصیبت درد او غم ورسیږي نو دوئ پری خوشحالیږي، او پر مسلمانانو باندی رخه کوي، خو که مسلمانانو

ته خیر، پر دښمن لاس برې او سربلندي په لاس ورشي نو دوئ پرى خفه کیږي.

لدي کبله خو ددوئ یو لوئ صفت او عادت او خوي دادې چه د مؤمنانو پرته کافرانو سره دوستي کوي، او هغوئ لپاره په مسلمانانو باندي جاسوسي کوي، او هغوئ د مسلمانانو په جنګ او له منځه وړلو او په مسلمانانو باندي د غلبې لپاره هغوئ تیزوي او ددې لپاره خپل ټول کوښښ پکار اچوي، او له کافرو څخه په دغه کارونو کښې مرسته او کومک غواړی.

الله ﷻ فرمایي: ﴿بَشِّرِ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ بِأَنَّ لَهُمۡ عَذَابًا أَلِيمًا ١٣٨ ٱلَّذِينَ يَتَّخِذُونَ ٱلۡكَٰفِرِينَ أَوۡلِيَآءَ مِن دُونِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَۚ أَيَبۡتَغُونَ عِندَهُمُ ٱلۡعِزَّةَ فَإِنَّ ٱلۡعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا ١٣٩ وَقَدۡ نَزَّلَ عَلَيۡكُمۡ فِي ٱلۡكِتَٰبِ أَنۡ إِذَا سَمِعۡتُمۡ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ يُكۡفَرُ بِهَا وَيُسۡتَهۡزَأُ بِهَا فَلَا تَقۡعُدُواْ مَعَهُمۡ حَتَّىٰ يَخُوضُواْ فِي حَدِيثٍ غَيۡرِهِۦٓ إِنَّكُمۡ إِذًا مِّثۡلُهُمۡۗ إِنَّ ٱللَّهَ جَامِعُ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ وَٱلۡكَٰفِرِينَ فِي جَهَنَّمَ جَمِيعًا ١٤٠ ٱلَّذِينَ يَتَرَبَّصُونَ بِكُمۡ فَإِن كَانَ لَكُمۡ فَتۡحٞ مِّنَ ٱللَّهِ قَالُوٓاْ أَلَمۡ نَكُن مَّعَكُمۡ وَإِن كَانَ لِلۡكَٰفِرِينَ نَصِيبٞ قَالُوٓاْ أَلَمۡ نَسۡتَحۡوِذۡ عَلَيۡكُمۡ وَنَمۡنَعۡكُم مِّنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَۚ فَٱللَّهُ يَحۡكُمُ بَيۡنَكُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۗ وَلَن يَجۡعَلَ ٱللَّهُ لِلۡكَٰفِرِينَ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ سَبِيلًا ١٤١﴾ [النساء:١٣٨-١٤١].

ترجمه: «بشارت او زیرې ورکړه منافقانو ته چه یقیناً ددوئ لپاره دردناک عذاب دې، منافقان هغه خلک دي چه کافران یي په دوستی نیولي

دي پر ته له مؤمنانو، آیا دا منافقان له کافرانو څخه عزت غواړي، نو عزت خو ټول د الله تعالی سره دې، حال دا چه پر تاسو یي په قرآنکریم کښې داسې حکم نازل کړې دې: چه کله تاسو واوریدل چه د الله تعالی پر آیاتونو باندي کفر کیږي او ورپورې مسخرې او ملنډې کیږي نو تاسو په دغه مجلس کښې ورسره مه کښېنئ، ترڅو چه هغوئ له دي مسخرو څخه غیر په نورو خبرو کښې مشغول شي؛ ځکه که تاسو هم د الله تعالی په آیاتونو پورې مسخرې اورئ او مخه یي نه نیسئ نو تاسو به هم د هغوئ په شان شئ، بیشکه الله تعالی منافقان او کافران په دوزخ کښې ټول سره راټولوي، هغه منافقان چه تاسو ته انتظار کوي چه که تاسو ته الله تعالی فتح او نصرت درکړي نو وایي: آیا مونږ له تاسو سره په ظاهري ایمان کښې نه یو؟ او که غلبه د کافرو وي نو هغوئ ته وایي: آیا مونږ نه وو غالب شوي پر تاسو (که مونږ د مؤمنانو سره په رښتیا ودریدلي وائ)؟ او آیا مونږ بچ نکړئ د مؤمنانو څخه؟ نو الله تعالی به ستاسو تر منځ فیصله د قیامت په ورځ کوي، او هیڅکله به الله تعالی د کافرو لپاره په مؤمنانو باندي لار جوړه نکړي، او غلبه به پرې ورنکړي».

او دغه مخکښې یادشوي کارونه او خصلتونه د منافقینو د مختلفو طایفو دي، چه ځینې یي ددغه اکثرو مرتکب وي، او ځینې یي بیا د بعضو خصلتونو مرتکب کیږي، خو هرڅوک چه په ښکاره د اسلام دعوا کوي، او ورسره دداسې ګناهونو مرتکب کیږي چه په هغې سره د اسلام له مقدس دین څخه ووځي، نو داسې شخص منافق او کافر بلل کیږي.

- او ځینی منافقان بیا د اسلام او کفر ترمنځ متردد او حیران وي، نو کله په پټه او ښکاره دمسلمانۍ کارونه کوي، او کله بیا هغه کارونه هم کوي چه په هغی باندي د اسلام څخه ووځي، نو دې دوپړک او متردد وي، چه خپل دین یي الله تعالی ته نه وي خالص کړې، او په اسلام کښی یي پښه ټینګه نه وي، او د الله تعالی په وعدو پوره باوري هم نه وي.

نو ددوئ حال هغه وخت څرګندیږي چه یو څه ابتلاء امتحان او ازمیښت پری راشي، او په همغه وخت کښی ددوئ نفاق او دیني کمزوري راڅرګنده شي، نو بیا پر زړونو د مهر لګیدلو په سزا باندي ورته سزا ورکړل شي، او په خپلو اعمالو او احوالو کښی تل په شک او حیرانتیا اخته شي؛ ځکه دوئ حق پیژندلې دې خو پیروي یي نکوي، او الله تعالی دوئ ته نصیحت کړې دې خو دوئ هغه ونه منلو، او نه یي د الله تعالی د لارښوونی پیروي وکړه، دوئ د الله تعالی او دهغه د رسولﷺ په وعدو د رښتنولی باور نه لرلو، نو ددوئ په زړونو د الله تعالی له هدایت څخه ړوندوالې او ددنیا په ژوند بسنه، او د نفسي خواهشاتو پسی ورپسی کیدل غالب شو.

الله ﷻ فرمايي: ﴿ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ ءَامَنُواْ ثُمَّ كَفَرُواْ فَطُبِعَ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ فَهُمۡ لَا يَفۡقَهُونَ ٣﴾ [المنافقون: ٣].

ترجمه: «دا بدي دعمل دمنافقانو په سبب ددي ده چه بیشکه دوئ ایمان راوړې وو، بیا بیرته کافر شو، نو مهر ووهل شو ددوئ په زړونو باندي نو دوئ نه پوهیږي».

همداراز الله تعالی فرمایي: ﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ثُمَّ كَفَرُواْ ثُمَّ ءَامَنُواْ ثُمَّ كَفَرُواْ ثُمَّ ٱزۡدَادُواْ كُفۡرٗا لَّمۡ يَكُنِ ٱللَّهُ لِيَغۡفِرَ لَهُمۡ وَلَا لِيَهۡدِيَهُمۡ سَبِيلَۢا ١٣٧ بَشِّرِ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ بِأَنَّ لَهُمۡ عَذَابًا أَلِيمًا ١٣٨﴾ [النساء: ۱۳۷-۱۳۸].

«بیشکه هغه کسان(یهودان) چه ایمان یي راوړي وو(په موسی عليه السلام باندي)، بیا کافر شو(د خسی په عبادت)، بیا یي ایمان راووړ(په توبی ایستلو سره)، بیا بیرته کافر شو(په انجیل او عیسی عليه السلام)، بیا زیات شو له جهته د کفر (په محمد ﷺ باندی)، نه دې الله تعالی چه مغفرت او بخښنه به وکړي دوئ ته، او نه به لار وښيي دوئ ته سمه صافه لار(ترڅو چه دوئ په دي خپل کفر باندی مستمر وي)، نو زیرې ورکړه منافقانو ته چه بیشکه دوئ لپاره دردناک عذاب دې».

او دا ډول منافقان د هغه کفري اعمالو مرتکب کیږي چه دوئ له اسلام څخه ووباسي، لکه د فتنی او سختی په وخت کښی د کفارو سره دوستي کول، په دین پوری مسخری کول، الله تعالی او دهغه رسول ﷺ ته ښکنځل کول، د اسلامي شریعت د نفاذ څخه نفرت کول او تښتیدل، او په مقابل کښی طاغوت ته فیصلی وړل او د هغی فیصلی منل، او د الله تعالی وعدی دروغ ګڼل، او داسی نور کارونه او ویناوي او عقیدی چه بنده له اسلامي دین څخه ووباسي.

او کله کله بنده په یوه وینا هم کافر کیږي لکه چه الله تعالی فرمایي:

﴿يَحۡلِفُونَ بِٱللَّهِ مَا قَالُواْ وَلَقَدۡ قَالُواْ كَلِمَةَ ٱلۡكُفۡرِ وَكَفَرُواْ بَعۡدَ إِسۡلَٰمِهِمۡ﴾ [التوبة:٧٤].

ترجمه: «دا منافقان قسمونه کوي په الله تعالی چه دوئ هغه ناکاره وینا نه ده ویلی، بلکه خامخا یقیناً دوئ ویلی ده د کفر کلمه، او کافر شوي دي وروسته له اسلام راوړلو څخه».

نو دوئ د کفر وینا او کلمه له هغه وروسته ویلی وه چه یو ځل يي اسلام راوړې وو، او په دغه کلمه باندی کافر شول.

وقال حُذيفةُ بنُ اليَمَانِ رضي الله عنه: «إِنْ كَانَ الرَّجُلُ لَيَتَكَلَّمَ بِالْكَلِمَةِ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ فَيَصِيرُ مُنَافِقًا، وَإِنِّي لأَسْمَعُهَا مِنْ أَحَدِكُمْ فِي الْمَقْعَدِ الْوَاحِدِ أَرْبَعَ مَرَّاتٍ، لَتَأْمُرُنَّ بِالْمَعْرُوفِ وَلَتَنْهَوُنَّ عَنِ الْمُنْكَرِ، وَلَتُحَاضُّنَّ عَلَى الْخَيْرِ، أَوْ لَيُسْحِتَنَّكُمَ اللَّهُ بِعَذَابٍ جَمِيعًا، أَوْ لَيُؤَمِّرَنَّ عَلَيْكُمْ شِرَارَكُمْ، ثُمَّ يَدْعُو خِيَارُكُمْ فَلاَ يُسْتَجَابُ لَهُمْ». [رواه أحمدُ وابنُ أبي شَيْبَةَ].

ترجمه: حذیفه رضي الله عنه فرمايي: «د رسول الله ﷺ په زمانه کښی به کله یو سړي یو کلمه وویله، نو په هغی کلمه به دغه سړي منافق کیدلو، اوس زه هغسی کلمه زه له تاسو څخه په یو مجلس کښی څلور ځلی اورم، خامخا به په نیکو کارونو باندی خلکو ته امر او وصیت او نصیحت کوئ، او له بدو کارونو څخه به خلک منع کوئ، او د خیر په کارونو به خلک تیزوی، (او کنه نو) نازل به کړي په تاسو ټولو باندي عذاب، او یا به پر تاسو باندی ستاسو بدترین او شرپسند خلک مشران او مسلّط کړي، بیا به ستاسو غوره خلک هم دُعا

کوي خو د هغوئ دُعا به نه قبليږي».

وعن أبي هُريرةﷺ عن النبيِّﷺ قال: «إِنَّ الْعَبْدَ لَيَتَكَلَّمُ بِالْكَلِمَةِ مِنْ رِضْوَانِ اللهِ لاَ يُلْقِي لَهَا بَالاً يَرْفَعُ اللَّهُ بِهَا دَرَجَاتٍ وَإِنَّ الْعَبْدَ لَيَتَكَلَّمُ بِالْكَلِمَةِ مِنْ سَخَطِ اللهِ لاَ يُلْقِي لَهَا بَالاً يَهْوِي بِهَا فِي جَهَنَّمَ». [رواه البخاريُّ].

ترجمه: «بيشکه يو بنده کله داسی يوه کلمه او خبره وکړي چه په هغی الله تعالی رضا کيږي، او ددغه بنده ورته هيڅ سوچ نه وي، او کوم اهميت ورته نه ورکوي، خو الله تعالی يي ورباندي ډيری درجی پورته کوي، او بيشکه کله يو بنده يوه کلمه او خبره وکړي چه الله تعالی ورباندي په غصه او قهر کيږي، او د بنده ورته هيڅ خيال او سوچ نه وي، او نه کوم اهميت ورته ورکوي، خو الله تعالی يي ددغی کلمی او خبری په سبب په دوزخ کيږي غورزوي».

وعن عَلْقمةَ بنِ وَقَّاصٍ الليثيِّ عن بِلالِ بنِ الحارثِ المُزنِيِّﷺ أن رسولَ اللهِﷺ قال: «إِنَّ الرَّجُلَ لَيَتَكَلَّمُ بِالْكَلِمَةِ مِنْ رِضْوَانِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ، مَا يَظُنُّ أَنْ تَبْلُغَ مَا بَلَغَتْ، يَكْتُبُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ لَهُ بِهَا رِضْوَانَهُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ، وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيَتَكَلَّمُ بِالْكَلِمَةِ مِنْ سَخَطِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ، مَا يَظُنُّ أَنْ تَبْلُغَ مَا بَلَغَتْ، يَكْتُبُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ بِهَا عَلَيْهِ سَخَطَهُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ».
قَالَ: فَكَانَ عَلْقَمَةُ يَقُولُ: كَمْ مِنْ كَلَامٍ قَدْ مَنَعَنِيهِ حَدِيثُ بِلَالِ بْنِ الْحَارِثِ.

ترجمه: «بيشکه يو سړی کله د الله تعالی د خوشحالی او رضامندی داسی خبره وکړي چه د هغه هيڅ ګومان نه وي چه هغه داسی درجو ته

رسیږي، خو الله تعالی ددغه خبری په سبب ددي بنده لپاره تر قیامته پوری خپله رضامندي ولیکي، او کله یو سړی د الله د قهر او د غصی یوه خبره وکړي چه دهغه هیڅ ګومان نه وي چه دا به دومره بده خبره وي، خو الله تعالی ددغه کلمی په سبب ورته د قیامته پوری خپله غصه او قهر ولیکي».

علقمه رحمه الله وایي: «د بلال بن الحارث رضي الله عنه دی حدیث شریف زه له ډیرو خبرو له کولو څخه منع کړې یم».

ورَوَى البَيْهقِيُّ عن مُحمَّدِ بن عَمْرِو بن عَلْقَمَة بنِ وَقَّاصٍ أنه قال: كانَ رَجُلٌ بَطَّالٌ يدخُلُ على الأمراءِ فيُضْحِكُهم، فقال له جَدِّي: (وَيْحَكَ يا فُلانُ، لِمَ تَدْخُلُ على هؤلاءِ فتُضْحِكُهم؟! فإني سَمِعتُ بلالَ بنَ الحارِثِ المُزنِيَّ صَاحِبَ رسولِ اللهِ ﷺ يُحدِّثُ...) فذكَرَ الحديثَ.

ترجمه: «محمد بن عمرو بن علقمه بن وقاص رحمه الله وایي: یو وخت یو لټ او بی کاره بی روزګاره سړی وو، د امیرانو او سرکاري او حکومتي خلکو خوا ته ورتللو، نو هغوئ ته به یي داسی خبری کولی چه هغوئ به یي خندول، نو زما نیکه(علقمه) ورته وویل: اي فلانیه ! خوار شی ته ولی دغه سرکاري خلکو ته ورځی او خندوي یي؟ بیشکه ما له بلال بن حارث مزني رضي الله عنه څخه اوریدلي دي....، یعنی دغه مخکنې حدیث شریف ورته ویلې دې».

نو د ژبی څخه مسلمان ته لوئ خطر متوجه دې، او هغه خبری چه له بنده څخه ووځي ډیر لوئ شان لري، چه یایي جنت ته رسوي، او یایي دوزخ ته، او هغه څوک چه په دي پوهه شي چه دا خبری هم زما عمل دې، او زه وربادندی نیول کیږم، نو بیا پخپلو خبرو کښی احتیاط کوي، او د تقوا او پرهیزګاری نښی پری ښکاره شي؛ ځکه که څوک پخپلو خبرو کښی بی

احتیاطي وکړي، او دینداري یې کمزورې وي، نو کیدای شي داسې یوه خبره وکړي چې الله تعالی په قهر او غصه کړي، او یا داسې کلمه ووایي چې پرې کافر کیږي، او د اسلامي دین څخه پرې ووځي، والعیاذ بالله.

او داسې واقعات د فتنو په وخت کښې ډېر وي، په ځانګړي ډول په دې آخره زمانه کښې، لکه چې رسول الله ﷺ د ابوهریره رضي الله عنه په حدیث کښې فرمايي: «بَادِرُوا بِالأَعْمَالِ فِتَنًا كَقِطَعِ اللَّيْلِ الْمُظْلِمِ يُصْبِحُ الرَّجُلُ مُؤْمِنًا وَيُمْسِيْ كَافِرًا أَوْ يُمْسِيْ مُؤْمِنًا وَيُصْبِحُ كَافِرًا يَبِيعُ دِينَهُ بِعَرَضٍ مِنَ الدُّنْيَا». [متفق علیه].

ترجمه: «د تورو تیارو شپو په شان فتنو د راتګ څخه مخ دمخه د عمل په کولو باندې تادي او عجله وکړئ؛ ځکه د فتنو وخت داسې دې چې سهار به یو سړې مؤمن وي خو بیګا ته به کافر شوې وي، او بل سړې به بیګا کښې مؤمن وي خو سهار به کافر شوې وي، چې خپل دین به ددنیا د سازوسامان په بدل کښې خرڅوي. الله تعالی دې مونږ ترې وساتي».

له همدې کبله د صحابه کرامو رضي الله عنهم او دتابعینو رحمهم الله په زړونو کښې به سخته ویره وه چې هسې نه چې د منافقینو اعمال ورڅخه صادر نشي.

لکه چې امام بخاري رحمه الله په صحیح بخاري کښې له ابن ابي مُلَيْكَه رحمه الله څخه نقل کوي چې هغه ویل: «د رسول الله ﷺ له صحابه کرامو رضي الله عنهم څخه دیرش صحابه کرام ما لیدلي دي چې دا ټول به په خپل ځان باندې له نفاق څخه ویریدل، په دوئ کښې یوه هم نشو ویلې چې دده ایمان د جبریل او میکاییل علیهما السلام له ایمان سره برابر دې، او د هغه په شان دې».

او له حسن بصري رحمه الله څخه نقل دي چه هغه به ویل: «له الله تعالی څخه ویره نکوی مګر مؤمن بنده یي کوي، او د الله تعالی له عذابه څخه نه په امن کیږي مګر منافق بنده».

او زید بن وهب رحمه الله وایي: «د صحابه کرامو رضي الله عنهم په زمانه کښې یو منافق سړې مړ شو، نو حذیفه رضي الله عنه پرې د جنازې لمونځ ونکړ، نو عمر بن الخطاب رضي الله عنه ورته وویل: دا هم له منافقانو څخه دې؟ هغه ورته وویل: هو، بیا عمر رضي الله عنه ورته وویل: ستا دي په الله تعالی قسم وي چه زه هم له منافقانو څخه یم؟ هغه ورته وویل: نه، خو له تا څخه وروسته به د هیچا دغسی سوال ته جواب ونه وایم».

دا ځکه چه حذیفه رضي الله عنه د رسول الله ﷺ رازدار وو، چه هغه ته رسول الله ﷺ پټ د منافقینو نومونه ورښوولي وو، نو هغه ته په دی امت کښې د منافقینو احوال احکام اعمال تر هر چا ډیر ورمعلوم وو، او په دي سبب به صحابه کرامو رضي الله عنهم دده ددغه خصوصیت په سبب د هغه قدر او احترام زیات کولو.

او له همدي کبله چه کله به مړې وشو، نو عمر رضي الله عنه به حذیفه رضي الله عنه ته کتل چه که حذیفه رضي الله عنه به پرې جنازه کوله نو عمر رضي الله عنه به هم پرې جنازه کوله، خو که حذیفه رضي الله عنه به پرې جنازه نه کوله، نو عمر رضي الله عنه به هم پخپله پرې جنازه نه کول بلکه بل څوک به یي د خپل ځان لخوا نائب او وکیل کړ، چه د جنازې لمونځ پرې وکړي؛ تر څو چه د رسول الله ﷺ هغه پټ راز افشا نشي.

لسم درس: له منافقت څخه کرکه او ویرَونه(۳/۲)

له نفاق او منافقت څخه د بچ کیدلو، سلامتیا او بیزارۍ لار دا ده چه بنده د الله تعالی د ښوولې شوی لار پیروي وکړي، لکه چه الله تعالی فرمايي: ﴿وَلَوۡ أَنَّا كَتَبۡنَا عَلَيۡهِمۡ أَنِ ٱقۡتُلُوٓاْ أَنفُسَكُمۡ أَوِ ٱخۡرُجُواْ مِن دِيَٰرِكُم مَّا فَعَلُوهُ إِلَّا قَلِيلٞ مِّنۡهُمۡۖ وَلَوۡ أَنَّهُمۡ فَعَلُواْ مَا يُوعَظُونَ بِهِۦ لَكَانَ خَيۡرٗا لَّهُمۡ وَأَشَدَّ تَثۡبِيتٗا ٦٦ وَإِذٗا لَّأٓتَيۡنَٰهُم مِّن لَّدُنَّآ أَجۡرًا عَظِيمٗا ٦٧ وَلَهَدَيۡنَٰهُمۡ صِرَٰطٗا مُّسۡتَقِيمٗا ٦٨ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ فَأُوْلَٰٓئِكَ مَعَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِم مِّنَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ وَٱلصِّدِّيقِينَ وَٱلشُّهَدَآءِ وَٱلصَّٰلِحِينَۚ وَحَسُنَ أُوْلَٰٓئِكَ رَفِيقٗا ٦٩ ذَٰلِكَ ٱلۡفَضۡلُ مِنَ ٱللَّهِۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ عَلِيمٗا ٧٠﴾ [النساء: ٦٦-٧٠].

ترجمه: «که دوئ هغه کار کړې واي چه دوئ ته وربانديي(د الله تعالی او د هغه د رسول ﷺ لخوا) نصیحت او وعظ کولې شي، نو ددوئ لپاره به ډیر بهتر وو، او هم به ډیر محکم وو له جهته د کلکوالي د ایمان، نو پدغه وخت کښی به ورکړې وو مونږ دوئ ته ډیر لوئ اجر او ثواب، او خامخا به مو دوئ ته ورښوولی وه سمه لار، او هغه څوک چه غاړه کیږدي الله تعالی او د هغه رسول ﷺ ته، نو همدوئ به له هغه چا سره ملګري وي چه الله تعالی پرې نعمت کړې دي، له انبیاؤ صدیقینو شهیدانو او نورو نیکانو بندګانو څخه، او

ډېر ښایسته دي دوئ په ملګرتوب کښې، او همدا کار د الله تعالی لخوا مهرباني ده، او کافي بس دې الله تعالی عالم خبردار».

نو پدي آیاتونو سره څرګنده شوه چه د منافقانو ددي لوي تاوان سبب دا وو چه هغوئ د الله تعالی له هدایت او ښوونې څخه سرغړونه کړې وه، او دوئ د الله تعالی رضامندي فضل مهرباني دغه لوئ ثواب او اجر او د انبیاؤ صدیقینو شهیدانو او نیکانو بندګانو ملګرتوب یي وبایللو، او ددغه بدترینو اعمالو مرتکب شول، لکه د الله تعالی او د هغه د رسولﷺ دروغجن ګڼل، په الله تعالی باندې بدګوماني کول، هغه کارونو پسې ورپسې کیدل چه الله تعالی په غصه او قهر کوي، هغه څه چه الله تعالی یي خوښوي د هغې بد ګڼل، او په قول او فعل سره د الله تعالی ددین سره مقابله او جګړه کول، د کافرانو (که اهل کتاب وي او که مشرکان له هغوئ) سره دوستي کول، او د مسلمانانو په ضد د کفارو مرسته او کومک کول، او مسلمانانو ته ضرر رسوَل، نو ددوئ ددی لوئ جرم په سبب د ډېر سخت عذاب وړ او لایق شول.

الله تعالی فرمايي: ﴿وَيُعَذِّبَ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ وَٱلۡمُنَٰفِقَٰتِ وَٱلۡمُشۡرِكِينَ وَٱلۡمُشۡرِكَٰتِ ٱلظَّآنِّينَ بِٱللَّهِ ظَنَّ ٱلسَّوۡءِۚ عَلَيۡهِمۡ دَآئِرَةُ ٱلسَّوۡءِۖ وَغَضِبَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمۡ وَلَعَنَهُمۡ وَأَعَدَّ لَهُمۡ جَهَنَّمَۖ وَسَآءَتۡ مَصِيرٗا ٦﴾ [الفتح: ٦].

ترجمه: «او چه عذاب ورکړي منافقانو سړو او منافقانو ښځو ته، او مشرکانو سړو او مشرکاتو ښځو ته، هغه منافقان چه ګومان یي کړې دې په

الله تعالی باندی بد ګومان، پر دوئ دي وي بدی پیښی، او غضب او غوصه او قهر کړې دې پردوئ باندی الله تعالی، او لعنتیان کړي یي دي، او تیار کړې یي دې دوئ ته دوزخ، او ډیر بد ځاي د ورتللو دې دا دزوخ».

همدارنګه الله تعالی فرمایي: ﴿ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمُ ٱتَّبَعُواْ مَآ أَسۡخَطَ ٱللَّهَ وَكَرِهُواْ رِضۡوَٰنَهُۥ فَأَحۡبَطَ أَعۡمَٰلَهُمۡ ٢٨﴾ [محمد: ۲۸].

ترجمه: «دا(وهل د ملایکو ددوئ مخونه او شاګانی) پدی سبب دي چه دوئ د هغه څه پیروي کوله چه الله تعالی یي په قهر او غضب کولو، او دوئ بد ګڼلو د الله تعالی رضامندي، نو الله تعالی ددوئ نیک عملونه برباد او ابته کړل».

او ددوئ د ظاهر او ښکاره له باطن او زړونو څخه مخالفت ددي سبب شو چه د قبیحو او بدو اعمالو مرتکب شول، لکه دروغ، غداري، خیانت، ښکنځل او د وعدی خلاف کول، او دا داسی عادات دي چه دا منافقان ورباندي پیژندل کیږي.

د منافقانو عملونه په دوه ډوله دي:

لومړي ډول اعمال: هغه کفري اعمال چه څوک یي مرتکب شي نو هغه کافر شو، او د اسلام د مقدس دین له کړئ څخه بهر ووتلو، اګر که هغه لمونځ کوي، روژه نیسي، او داسی ګومان هم کوي او دعوا کوي چه دې ګنی مسلمان دې.

دنفاق دغه اعمال لکه: د الله تعالی او د هغه د رسولﷺ دروغجن ګڼل،

الله تعالی او د هغه آیاتونو او د هغه رسولﷺ سره بغض او کینه کول، وریوری مسخری کول، او دمسلمانانو په خلاف د کفارو سره دوستي او د هغوئ مرسته او کومک کول.

نو دغه اعمال او داسی نور د اسلام سره ضد اعمال دي، نو څوک چه يي مرتکب شي، هغه مؤمن پاتی کیدې نشي، بلکه هغه کافر دې د اسلام د مقدس دين څخه وتلې دي، که سره له دی هم هغه د اسلام دعوا کوي نو دې په نفاق اکبر سره منافق دې.

د نفاق دی ډول ته ځينی علماء نفاق اعتقادي هم وايي؛ ځکه دلته کفر دده په زړه کښی ننوتې دې، ګنی له مؤمن زړه څخه داسی کفري اعمال او اقوال نه صادريږي، خو د هغوئ مقصد دلته دا نه دې چه نفاق اکبر يوائی په اعتقادي امورو کښی کيدې شي، او په نورو کښی نشي کيدې، او اعتقادي نفاق ددوئ په نيز په اعتقادي امورو پوری خاص او منحصر نه دې.

دوهم ډول اعمال: هغه بد عادات او اعمال دي چه هغه اګر که بنده پخپله کفر ته نه ووباسي، خو دغسی اعمال او عادتونه پرته له خالص منافق څخه په بل چا کښی نه راټوليږي، نو مؤمن بايد له دغسی اعمالو او عاداتو څخه ځان وساتي، ترڅو په ده کښی د نفاق له عاداتو څخه کوم عادت رانشي.

او دغه اعمال او عادات رسول اللهﷺ په خپل مبارک حديث شريف کښی بيان کړي دي، لکه چه فرمايي: «آيَةُ الْمُنَافِقِ ثَلاَثٌ: إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ،

وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ، وَإِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ». [متفق عليه].

وفى رواية لمسلم: «آيَةُ الْمُنَافِقِ ثَلاَثٌ وَإِنْ صَامَ وَصَلَّى وَزَعَمَ أَنَّهُ مُسْلِمٌ».

وفي روايةِ أحمدَ: «ثَلاَثٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ فَهُوَ مُنَافِقٌ، وَإِنْ صَامَ وَصَلَّى وَزَعَمَ أَنَّهُ مُسْلِمٌ».

وفي الصحيحين من حديثِ عبدِ اللهِ بنِ عَمْرِو بنِ العاصِ رضِي اللهُ عنهما قال: قال رسولُ اللهِﷺ: «أَرْبَعٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ كَانَ مُنَافِقًا خَالِصًا، وَمَنْ كَانَتْ فِيهِ خَصْلَةٌ مِنْهُنَّ كَانَتْ فِيهِ خَصْلَةٌ مِنَ النِّفَاقِ حَتَّى يَدَعَهَا: إِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ، وَإِذَا حَدَّثَ كَذَبَ، وَإِذَا عَاهَدَ غَدَرَ، وَإِذَا خَاصَمَ فَجَر».

ترجمه: «د منافق نښې درې دي: کله چه خبرې کوي نو دروغ وايي، او کله چه وعده او لوظ وکړي، مخالفت ځینې کوي، او کله چه ورسره امانت کېښودل شي، نو پکښې خیانت کوي».

او د مسلم شریف په یو روایت کښې داسې راغلي دي: «د منافق نښې درې دي- اګر که هغه لمونځ هم کوي، او روژه هم نیسي او ځان ته مسلمان هم وايي...» الحدیث.

اود مسند أحمد په یو روایت کښې بیا داسې دي: «درې عادتونه او خصلتونه دي چه کله په یو بنده کښې راټول شي نو هغه خالص منافق کیږي....».

او په صحیح بخاري شریف او صحیح مسلم شریف کښې د عبد الله بن

عَمْرو بن العاص رضي الله عنهما په روایت کښې رسول الله ﷺ فرمايي: «څلور عادتونه او خصلتونه دي چه کله دا څلور سره په يو بنده کښې راټول شي نو هغه خالص منافق شي، او که په يو چا کښې له هغې څخه کوم يو خصلت او عادت موجود وي، نو په هغه کښې به يوخصلت او عادت نفاق او منافقت وي، تر هغه پورې چه دغه خصلتونه پريږدي، او هغه دا چه: کله خبرې کوي نو دروغ به وايي، او چه کله معاهده وکړي نو په هغې کښې غدر کوي او ماتوي يې، او چه کله وعده او لوظ وکړي، نو ورڅخه مخالفت کوي، او وعده خلافي کوي، او چه کله يي د چا سره جنګ جګړه راشي نو ښکنځل به کوي».

نو که په يو چا کښې دغه څلور صفتونه او عادتونه سره راټول شول، نو دې خالص منافق دې.

ځکه دلته «إذا» د غايي د بيان لپاره نه دې، نو دا په دې خبره دلالت کوي چه له دې څخه مراد دا دې چه دغه کارونه د يو چا خصلت اوعادت جوړ شي، او په تکرار او زيات يي کوي.

مقصد دا چه هغه څوک چه يو کله شاذ نادر ورڅخه دغسې کارونه صادر شي نو هغه به د منافقينو له اعمالو څخه يو عمل کړې وي، او د يوې ګناه مرتکب شو، او په دي باندې هغه په منافقانو کښې نه شمارل کيږي، او

نه په هغه چا کښې چه په هغه کښې د نفاق او منافقت کوم عادت وي، ترڅو چه يي دغه بد کارونه لکه د خپل عادت او خصلت ګرزولې نه وي، اويا ورباندې مشهور شوې نه وي.

په ياد بايد ولرو چه د ځينې خلکو په زړونو کښې ايمان او د نفاق ځينې عادتونه سره راټوليدې شي.

هر چه نفاق اکبر دې نو هغه او ايمان سره په يوه زړه کښې نه راټوليږي، بلکه د نفاق اکبر خاوند خالص کافر دې، اګر که لمونځ کوي،روژه نيسي، او ګومان او دعوا هم کوي چه دې مسلمان دې؛ ځکه دی کفر دده ټول نيک عمل برباد او ابته کړې دې، ځکه ايمان او کفر اکبر سره نه يوځاي کيږي، لکه چه الله تعالى فرمايي:

﴿وَمَن يَكۡفُرۡ بِٱلۡإِيمَٰنِ فَقَدۡ حَبِطَ عَمَلُهُۥ وَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ۝٥﴾ [المائدة: ٥].

ترجمه: «او هغه څوک چه له ايمان راوړلو څخه انکاري شي، نو د هغه نيک عمل برباد او ابته شو، او هغه به په آخرت کښې له تاوانيانو څخه وي».

او هرچه نفاق اصغر دې-کوم چه بنده له دين اسلام څخه نه وباسي- نو کيداي شي چه په يو مسلمان کښې دی د نفاق اصغر ځينې خصلتونه او عادتونه وي، لکه چه د عبد الله بن عَمْرو بن العاص رضي الله عنهما حديث شريف

پرې دلالت کوي.

او په صحیح مسلم شریف کښې د أبوهریره رضي الله عنه په حدیث کښې رسول الله ﷺ فرمايي: «مَنْ مَاتَ وَلَمْ يَغْزُ وَلَمْ يُحَدِّثْ بِهِ نَفْسَهُ مَاتَ عَلَى شُعْبَةٍ مِنْ نِفَاقٍ» [رواه مسلم].

ترجمه: «هغه مسلمان چه مړ شي، او هغه په خپل عمر کښې نه غزا وکړي، او نه پخپل زړه کښې د غزا نیت تیارې او مینه ونلري، نو دې هم د نفاق په یوه څانګه کښې مري».

او حذيفه رضي الله عنه فرمايي: «زړونه په درې ډوله دي:

۱- یو هغه زړه دې چه دوه مخی او دوه رنګه یا کوږ وي، نو دا د منافق زړه دې.

۲- بل هغه زړه دې چه له حق څخه په پردو کښې وي، نو دا دکافر زړه دې.

۳- بل هغه زړه دې چه صفا او پړقیدونکې وي، لکه په ده کښې چه ډیوه وي چه رڼا کوي، نو دا د مؤمن زړه دې.

۴- بل هغه زړه دې چه په هغه کښې د نفاق خصلتونه هم وي او ورسره ایمان هم وي، نو دده مثال داسی دې لکه په جسم کښې دانه(نکۍ)،چه هم پکښې وینه وي، او هم زوی، یایي مثال داسی دې لکه هغه ونه چه کله ورته

ښایسته او ښی اوبه راځی او هغه پری خړوبیږي، او کله ورته خرابی اوبه راځي او پری خړوبیږي، نو هر کومی اوبه چه غالبه شوی، نو خوند به هم د هغی وي». [رواه ابن أبي شيبة في المصنف وفي كتاب الإيمان، وصححه الألباني].

او علي رضي الله عنه فرمايي: «ایمان لومړې د یو کوچني سپین ټکي په شان به زړه کښی پیلیږي، بیا هرڅومره چه ایمان زیاتیږي نو دغه سپینوالې ورسره زیاتیږي، تر دي چه ټول زړه تک سپین شي، او نفاق په زړه کښی د تور ټکي په شان پیلیږي، بیا هرڅومره چه پکښی نفاق زیاتیږي دغه تور ټکې ورسره زیاتیږي، تر دی چه ټول زړه تک تور شي». [رواه ابن أبي شيبة في كتاب الإيمان والبيهقي في شعب الإيمان].

مقصد دا چه په مسلمان کښی نفاق اصغر«وړوکې نفاق» راتلاي شي، په چا کښی لږ، او په چا کښی ډیر، د چا ایمان چه قوي وي او د الله تعالی اطاعت او پیروي پکښی ډیره وي، نو نفاق به یي کمزورې وي، یعنی په هغه کښی به د نفاق بوي او یو څه نښی نښانی وي، نو کله کله به تری دروغ یا وعده خلافي او داسی نور ګناهونه کیږي.

او له ځینی خلکو به دغه ګناهونه ډیر واقع کیږی، او ورسره به دالله تعالی یاد او ذکر هم کم کوي، او د الله تعالی له حدودو څخه به تیرې هم کوي، لکه د ځینی حُرُماتو هتک او سپکاوې کول، په واجباتو کښی تقصیر او کوتاهي کول، او په شهواتو کښی غرقیدل او اخته کیدل، او په شبهاتو

باندی تیروتل.

نو دده په زړه کښې به د لږ ایمان تر څنګ ډیر نفاق وي، تر دې چه ځینې مسلمان به داسې هم وي چه لمونځ به په منډه او تادئ سره کوي، هغه هم په خپل وخت نه، بلکه په مکروه وخت کښې به یي کوي، او لکه چه ځان ترې خلاصوي، د هغې د آدابو او خشوع او خضوع مراعات پکښې نکوي، لکه په صحیح مسلم شریف کښې د انس بن مالكﷺ په روایت کښې چه رسول اللهﷺ فرمايي:

«تِلْكَ صَلاَةُ الْمُنَافِقِ يَجْلِسُ يَرْقُبُ الشَّمْسَ حَتَّى إِذَا كَانَتْ بَيْنَ قَرْنَيِ الشَّيْطَانِ قَامَ فَنَقَرَهَا أَرْبَعًا لاَ يَذْكُرُ اللَّهَ فِيهَا إِلاَّ قَلِيلاً». [رواه مسلم].

ترجمه: «دغه د منافق لمونځ دې چه ناست وي د لمر انتظار کوي، تردې چه کله پریوتلو ته نژدې شي او لمر د شیطان د ښکرو ترمنځ شي، نو دې پاځي او څلور واری ښکته پورته شي، لکه د چرګ پشان ټکې وکړي، چه الله پکښې نه یادوي مګر لږ».

نو دا د هغه چا حال دې چه د هغه پر زړه باندي منافقت غالب شوې وي تر دې چه د «منافق» نوم مستحق او وړ وګرزي، سره له دي چه دهغه په زړه کښې دومره ایمان هم وي چه دیته یي نه پریږدي چه لمونځ بیخي پریږدي.

دداسې ډول خلکو څخه ځینې خطرناك ګناهونه صادریږي، لکه: ریا،

ځان ښودنه، او هغه څه چه نیک عمل برباد او ابته کوي، لکه د ورکړې او نفقې په وخت کښې زباتَول، محتاج ته بدې ردې ویل، او اخروي عمل په سبب دنیايي ګټې غوښتل، او کله چه بنده ځانته او د خلکو له سترګو پناه وي هلته د حُرُماتو انتهاك او سپکاوې کول.

نو داسې خلك په ډیر خطرناك حالت کښې دي؛ ځکه کیداي شي دده دا سستي او لټې دې - نعوذ بالله- له دین څخه وتلو ته اړ کړي، او څوك چه په داسې منافقت مړ شو چه دهغه په زړه کښې یو څه ایمان هم وي، نو داسې بنده د اهل الکبائر څخه شمارل کیږي، په چا چه د ډیر سخت عذاب ویره ده، خو داسې بنده به په اور کښې د تل لپاره نه پاتي کیږي؛ ځکه دده په زړه کښې یو څه اسلام او ایمان پاتې وو.

بل دا چه له رسول اللهﷺ څخه په یو صحیح حدیث شریف کښې نقل دي چه هغه فرمايي: «يَدْخُلُ أَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ وَأَهْلُ النَّارِ النَّارَ ثُمَّ يَقُولُ اللَّهُ تَعَالَى أَخْرِجُوا مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ مِنْ إِيمَانٍ فَيُخْرَجُونَ مِنْهَا قَدِ اسْوَدُّوا فَيُلْقَوْنَ فِي نَهَرِ الْحَيَا، أَوِ الْحَيَاةِ شَكَّ مَالِكٌ - فَيَنْبُتُونَ كَمَا تَنْبُتُ الْحِبَّةُ فِي جَانِبِ السَّيْلِ أَلَمْ تَرَ أَنَّهَا تَخْرُجُ صَفْرَاءَ مُلْتَوِيَةً». [رواه البخاريُّ من حديثِ أبي سَعِيدٍ الخُدْريِّ‌رضي الله عنه].

ترجمه: «جنتیان به جنت ته ننوځي، او دوزخیان به دوزخ ته ننوځي، بیا

به الله تعالی ووایي: له اوره هر هغه څوک هم راوباسئ چه د هغه په زړه کښی د اوري یا جِنجرِ دانی هومره ایمان وي، نو داسی خلك به پداسی حال کښی راوایستل شي چه تك تور شوي به وي، بیا به د ژوند په یو نهر (ویاله) کښی وغورزول شي، نو له سره به راوه ټوکیږي او راشنه به شي، لکه د سیلاب وروسته چه کومه دانه او شینکې راشین کیږي، که ورته فکر مو وي هغه شین ډکې او تیغ له کمزورئ څخه زیړ او تاو شوې وي».

خو څوك چه د اسلام نواقضو او ماتوونکو ګناهونو څخه د کومی ګناه مرتکب شي، لکه په دین پوره ټوکی، مسخری کول، الله تعالی او رسولﷺ ته ښکنځل کول، د مسلمانانو پر خلاف له کفارو سره دوستي او د هغوئ مرسته کول، نو داسی خلك کافران دي، د اسلام له دین څخه وتلي دي، بلکه ایمان یي له زړه څخه وتلې دې. نعوذ بالله من ذلك.

د منافق توبه ویستل:

که یو منافق له مرګه مخکښی توبه ووباسي او خپل عمل سم کړي، او د الله تعالی په دین کلك شي، او خپل دین او عمل خاص د یو الله تعالی د رضا لپاره خالص کړي، نو دده توبه صحیح ده، او الله تعالی یي ورڅخه قبلوي، لکه چه الله تعالی فرمایي:

﴿إِنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ فِي ٱلدَّرۡكِ ٱلۡأَسۡفَلِ مِنَ ٱلنَّارِ وَلَن تَجِدَ لَهُمۡ نَصِيرًا ١٤٥ إِلَّا

ٱلَّذِينَ تَابُواْ وَأَصۡلَحُواْ وَٱعۡتَصَمُواْ بِٱللَّهِ وَأَخۡلَصُواْ دِينَهُمۡ لِلَّهِ فَأُوْلَٰٓئِكَ مَعَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَۖ وَسَوۡفَ يُؤۡتِ ٱللَّهُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ أَجۡرًا عَظِيمًا ﴿١٤٦﴾ مَّا يَفۡعَلُ ٱللَّهُ بِعَذَابِكُمۡ إِن شَكَرۡتُمۡ وَءَامَنتُمۡۚ وَكَانَ ٱللَّهُ شَاكِرًا عَلِيمًا ﴿١٤٧﴾﴾ [النساء: ١٤٥-١٤٧].

ترجمه: «بیشکه منافقان به په آخري لاندینۍ برخه د اور کښې وي، او هیڅکله به دوئ ته څوک کومکي او مرستندویه پیدا نکړې، مګر هغه کسان چه توبه یي ویستلي وي(مخکښې له مرګه) او خپل عمل یي اصلاح او سم کړې وي، او د الله تعالی پر دین یي منګولی لګولی وي، او خپل دین او عمل یي د یو الله تعالی د رضا لپاره خالص کړې وي، نو دغه ډول خلک به د نورو مؤمنانو سره ملګري وي، او الله تعالی به ټولو مؤمنانو ته لوي اجر او ثواب ورکړي، الله تعالی ستاسو په عذابولو باندی څه کوي؟ که تاسو د الله تعالی شکر ووباسی، او پری ایمان راوړئ، او الله تعالی شکرګزار او پوهه دې».

همدارنګه هغه مسلمان چه په هغه کښې د منافقت ځینی عادتونه وي، که توبه تری وباسي، نو الله تعالی یي توبه قبلوي، او له منافقت څخه پاکیږي.

په دی مسأله کښې یو عجیبه شبهه او لغز هم دې، او هغه دا چه حذیفه بن الیمانه د عبد الله بن مسعودﷺ د حلقی په شاګردانو شبهه وکړه چه د عبد الله بن مسعودﷺ په مخکښې یي ورته وویل: بیشکه نفاق په هغه چا نازل

شوې وو چه له تاسو څخه هم بهتر وو؟ !

نو عبد الله بن مسعودؓ وخندل او د هغه په مقصد پوهه شو، او خپلو شاګردانو ته يي وويل: سبحان الله، بیشکه الله تعالی فرمايي:

﴿إِنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ فِي ٱلدَّرۡكِ ٱلۡأَسۡفَلِ مِنَ ٱلنَّارِ﴾ [النساء: ١٤٥].

ترجمه: «بیشکه منافقان به په هغه ډیره لاندینۍ برخه د اور کښې وي».

بیا کله چه مجلس خور شو، نو حذیفهؓ ابن مسعودؓ یو شاګرد یزید بن الأسود النخعي ته وویل: هو، نفاق پداسی خلکو نازل شوې وو چه له تاسو څخه بهتر او غوره وو، بیا هغوئ توبه وویستله، او الله تعالی یي توبه قبوله کړې وه.

او په یو بل روایت کښې داسی دي : هغوئ چه کله توبه وویستله نو هغوئ له تاسو څخه بهتر او غوره شو.

د هغه مقصد دا وو چه ځینی هغه خلك چه د رسول اللهﷺ په وخت کښې منافقان وو، خو بیا یي توبه وویستله او خپل عملونه یي اصلاح کړل، او خپل دین یي په ایمان عمل او اخلاص باندي ښائسته کړ، نو هغوئ بیا د رسول اللهﷺ په صحبت او د هغه سره په جهاد باندي له هغه چا څخه غوره شو چه له صحابه کرامو‌ؓ څخه وروسته وو، یعنی تابعین رحمهم الله، دا قیصه په صحیح بخاري شریف کښې راغلی ده.

او مؤمنان باید داسی عملونه وکړي چه د منافقت او د هغی له عادتونو او خصلتونو څخه پری خلاصیږي، لکه بیا بیا توبه ویستل، استغفار ویل، د الله تعالی د حدودو مراعات کول، د هغه د امرونو تعظیم او احترام کول، له شرک او مشرکانو څخه برائت او بیزاري کول، د لمانځه پوره له ټولو حقوقو سره ادا کول، د زکات ورکول، دالله تعالی او د هغه دپیغمبرﷺاو د قرآنکریم او د مسلمانانو د مشرانو او عوامو لپاره خیرخواهي لټول، او په دغه لار کښی خپل پوره کوښښ کول.

همدارنګه له جهاد فی سبیل الله سره محبت او مینه کول، او په زړه کښی یی اراده ساتل، امر بالمعروف او نهي عن المنکر کول، په دین او د حق او پر اتباع باندي او ددین په لار کښی په مصیبتونو باندی یو بل ته سره وصیت کول، او مسکینانو او غریبانو ته په ډوډئ ورکولو یو بل سره تیزول او لارښوونه کول، او د الله تعالی په لار کښی خرچه او انفاق کول، او هغه په پوره ایمانداریٔ سره ادا کول، او په هغی باندی له الله تعالی څخه د اجر ثواب امید کول، نو په داسی کارونو باندی بنده له نفاق او منافقت څخه پاکیږي.

د عمر بن الخطابؓ په حدیث کښی رسول اللهﷺ فرمایي: «مَنْ سَرَّتْهِ حَسَنَتُهُ وَسَاءَتْهُ سَيِّئَتُهُ فَهُوَ مُؤْمِنٌ».

ترجمه: «څوک چه پخپل نیک عمل خوشحالیږي، او به ګناه کولو

باندی خفه کیږي، نو داسی بنده مؤمن دې».

نو که کوم بنده څخه ګناه وشي او هغه په دغه ګناه باندي خفه وو، نو دا ددي خبری نښه ده چه دده ایمان صحیح دې، یعنی ایمان پکښی شته، او له ده څخه داسی امید ډیر دې چه توبه ووباسي، او له الله تعالی څخه ددغه ګناه د بخښنی غوښتنه وکړي، او ځان پری ملامت کړي، خو که څوك په ګناه کولو خوشحالیږي، دا ددي خبری نښه ده چه دده په زړه کښی نفاق او منافقت شته.

په سنن ترمذي کښی د ابوهریرهﷺ په حدیث کښی رسول اللهﷺ فرمایي:

«خَصْلَتَانِ لَا تَجْتَمِعَانِ فِي مُنَافِقٍ، حُسْنُ سَمْتٍ، وَلَا فِقْهٌ فِي الدِّينِ» [صححه الألبانيُّ].

ترجمه: «دوه عادتونه په منافق کښی سره نه یو ځاي کیږي: یو ښه خوي، او بل ددین ښه زده کړه».

يوولسم درس: له نفاق څخه کرکه ويرَونه (۳/۳)

د منافق د منافقت سزا:

د منافقت د ډيرى بدۍ له کبله الله تعالى د منافقانو سزا هم په دنيا او آخرت کښى تر ټولو بده سزا ټاکلى ده؛ ترڅو دغه سزا ددوئ د بدو اعمالو پوره جزا شي:

* دنيا کښى خو ددوئ سزا دا ده چه پر زړونو يي مهر ولګول شي، او ددين له پوهى او لارښوونى څخه بى برخى شي، او بيا ورپسى الله تعالى ددوئ په زړونو کښى داسى شکونه واچوي چه ددوئ له زړونو هيڅکله نه ووځي، نو دوئ تر ټولو خلکو ډير حيران او شکيان وي؛ ځکه دوئ غوښتل چه الله تعالى او مؤمنان تيرباسي، نو ددوئ دغه تيرايستل پر دوئ راوګرزيدل، او د خپل بد عمل بده سزا ورته ورسيده.

نو دوئ چه هرکله د اسلام او مسلمانانو پرخلاف کوم کار کوي او کومه پلمه ورته جوړوي، نو الله تعالى ورته پرى ډيره بده او سخته سزا ورکوي، او دوئ په دي هم نه پوهيږي چه مونږ ته دا سزا زمونږ ددغه بد عمل په سبب ده، نو دوئ چه هرڅومره د کفر او منافقت عملونه کوي هغومره ددوئ سزا او عذاب څو چنده کيږي او پرله پسى کيږي.

الله ﷻ فرمايي: ﴿فَطُبِعَ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ فَهُمۡ لَا يَفۡقَهُونَ ٣﴾ [المنافقون: ٣].

ترجمه: «(يعنی هرکله چه دوئ دروغ وايي، او په درواغو قسمونه او سوګندونه هم کوي؛ ځکه چه دوئ يو ځل د ايمان دعوا کړی وه، او مسلمانانو ته يي ځان مسلمان ښکاره کولو، او ددغه ايما له دعوا څخه وروسته يي د خپل منافقت په سبب بيا کافر شول) نو مهر ولګول شو ددوئ پر زړونو باندي، نو لدی کبله دوئ نه پوهيږي».

همدارنګه فرمايي:

﴿أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ ٱشۡتَرَوُاْ ٱلضَّلَٰلَةَ بِٱلۡهُدَىٰ فَمَا رَبِحَت تِّجَٰرَتُهُمۡ وَمَا كَانُواْ مُهۡتَدِينَ ١٦ مَثَلُهُمۡ كَمَثَلِ ٱلَّذِي ٱسۡتَوۡقَدَ نَارٗا فَلَمَّآ أَضَآءَتۡ مَا حَوۡلَهُۥ ذَهَبَ ٱللَّهُ بِنُورِهِمۡ وَتَرَكَهُمۡ فِي ظُلُمَٰتٖ لَّا يُبۡصِرُونَ ١٧ صُمُّۢ بُكۡمٌ عُمۡيٞ فَهُمۡ لَا يَرۡجِعُونَ ١٨﴾ [البقرة: ١٦-١٨].

ترجمه: «همدغه کسان اختيار کړی يي ده او غوره کړی يي ده ګمراهي په مقابل د هدايت کښی، نو ګټه ونکړه تجارت ددوئ، او نه دي دوئ سمه لار موندونکي، مثال ددوئ په شان د مثال د هغه چا دې چه بَل کړي اور، نو هرکله چه رڼا کړي دا اور ګرد چاپير له ده نه، بوځي الله رڼا له دوئ څخه، او پريږدي دوئ په تيارو او تورتمونو کښی چه هيڅ نه ويني، کاڼه دي دوئ د حق له اوريدلو څخه، ګونګيان دي دوئ د حق له وينا څخه، ړانده دي دوئ د حق له ليدلو څخه، نو دوئ نه راګرزي حق ته».

همداراز فرمايي:

﴿إِنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ يُخَٰدِعُونَ ٱللَّهَ وَهُوَ خَٰدِعُهُمۡ﴾ [النساء: ١٤٢].

ترجمه: «بیشکه منافقان تیرباسي الله تعالی لره(ددوئ په ګومان)، او حال دا چه الله به دوئ تیرباسي (په حقیقت کښې)».

دوئ لره د الله تعالی تیرایستل دوئ ته ددوئ د بدو اعمالو له جنسه دوئ ته سزا ورکولو لپاره دي، او دا دوئ ته ددوئ د بدو اعمالو او اقوالو او په الله تعالی باندی د بدګومانۍ سزا ده، همدارنګه ددوئ د هغه کردار او ګومان سزا ده چه دوئ پخپل ګومان الله تعالی ته اومسلمانانو ته تیر او دوکه ورکول وو، او د الله تعالی سره د مقابلی او د هغه له دین سره په ډول ډول پلمو او دوکو د جنګ کول وو.

نو دوئ په حقیقت کښې پخپلو دغه بدو اعمالو ځان تیرباسي، لکه چه الله تعالی فرمايي:

﴿يُخَٰدِعُونَ ٱللَّهَ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَمَا يَخۡدَعُونَ إِلَّآ أَنفُسَهُمۡ وَمَا يَشۡعُرُونَ ٩﴾ [البقرة: ٩].

ترجمه: «دوئ (پخپل ګومان) تیرباسي الله تعالی او مؤمنان، خو په حقیقت کښې دوئ نه تیرباسي مګر خپل ځانونه، او دوئ نه پوهیږي».

نو دوئ په دي نه پوهیږي چه دوئ په حقیقت کښې خپل ځان تیرباسي، بلکه ځان ته بی ځایه او باطلی آرزوګانی او امیدونه ورکوي، او د هغی په امید ځغلي، تردی چه دوئ تیروځي او په فتنه کښې پریوځي، او خپل ګناهونه، کفر، فسق او ګمراهي زیاتوي، او دا ګومان هم کوي چه ګنی

دوئ ښه کار کوي.

نو دوئ په دي ټولو کښې له خپل ځان پرته بل هیچا ته ضرر نه دې رسولې، نه یي الله تعالی ته کوم ضرر رسولې دې، او نه یي د الله رسولﷺ ته کوم ضرر رسولې دې، او نه یي د الله تعالی ددین پیروانو مؤمنانو ته کوم ضرر رسولې دې.

* ددُنیایي سزاګانو څخه یو دا هم ده چه دوئ پخپلو مالونو او اولادونو باندی عذابوي، تردی چه ساګانی یي وخیژي، لکه چه الله ﷻ فرمایي:

﴿وَلَا تُعۡجِبۡكَ أَمۡوَٰلُهُمۡ وَأَوۡلَٰدُهُمۡۚ إِنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ أَن يُعَذِّبَهُم بِهَا فِي ٱلدُّنۡيَا وَتَزۡهَقَ أَنفُسُهُمۡ وَهُمۡ كَٰفِرُونَ ٨٥﴾ [التوبة: ۸۵].

ترجمه: «په تعجب کښې دی نه اچوي تا لره ددوئ(منافقانو) مالونه او اولادونه؛ ځکه په تحقیق الله تعالی غواړي چه دوئ ته په دغه مالونو او اولادونو باندي په دُنیا او آخرت کښې عذاب ورکړي، او ددوئ ساګانی پداسی حال کښې وخیژي چه دوئ کافران وي».

* او ددوئ له دُنیوي سزاګانو څخه دا هم دي چه د خلکو په زړونو کښې ددوئ بغض او کینه واچوي، نو هرڅومره چه دوئ خلکو ته ځان محبوبوي خلك ورسره د محبت او مینی پرځاي بغض او کینه کوي؛ ځکه دوئ د الله تعالی د رضامندئ په بدل کښې د خلکو خوشحالول بهتر ګڼلي وي، او د آخرت په مقابل کښې یي دنیوي ژوند غوره کړې وي، او په هغه څه پسی ډیر ورپسی وي چه الله تعالی په غوصه او قهر کوي، او د الله تعالی

رضامندي بده ګڼي، د الله تعالی له ښوولی لارښوونی څخه مخ اړوي، نو لدي کبله يي خپل ځان بيلابيلو ويرو ګمراهيو او بدبختيو ته وراندی کړ، کوم چه الله تعالی د هغه چا لپاره ليکلی دي چه د الله تعالی له لارښوونی څخه سرغړونه کوي، الله جلّ جلاله له دوئ څخه د ځينو ډلو په هکله فرمايي:

﴿لَا يَزَالُ بُنْيَـٰنُهُمُ ٱلَّذِى بَنَوْا۟ رِيبَةً فِى قُلُوبِهِمْ إِلَّآ أَن تَقَطَّعَ قُلُوبُهُمْ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿١١٠﴾﴾ [التوبة: ۱۱۰].

ترجمه: «تل به وي ددوئ هغه جوړه کړی آبادي چه دوئ جوړه کړی وه (يعنی مسجد ضرار) سبب د شک په زړونو ددوئ کښی، مګر که ټوټه ټوټه شي زړونه ددوئ، او زاره يي ترک وچوي، او الله تعالی خبردار د حکمت خاوند دی».

ځينی مفسرين وايي چه ﴿إِلَّآ أَن تَقَطَّعَ قُلُوبُهُمْ﴾ دا استثناء تهکمي ده، چه الله تعالی ددوئ د ټوقو مسخرو په مقابل کښی په دوئ پوری ټوکی مسخری کوي، ترڅو دوئ ته ددوئ د بدو پلمو او مؤمنانو پسی د ټوقو مسخرو پوره سزا ورکړ شي.

دوئ به د مؤمنانو په خلاف داسی پلمی جوړولی چه هغوئ ته په خپل دين کښی شبهی واچوي، او د الله تعالی له سمی لاری څخه يي ګمراه کړي، نو ددوئ سزا هم دا شوه چه په زړونو کښی يي ورته داسی شک واچولو چه تل ترتله ددوي له زړونو څخه نه جلا کيږي، تر دي چه د الله

تعالی مخی ته لاړ شي.

* ددی ترڅنګ دوئ ته ددوئ د ځينو بدو اعمالو په بدل کښی ځينی ځانګړی سزاوی هم رسيږي؛ ځکه الله تعالی ځينو ګناهونو ته ځينی خاصی سزاوی ټاکلی دي؛ ددي لپاره چه هر سرکښه ته د هغه د ګناه په شان او د هغی مطابق سزا ورسيږي.

لکه چه الله ﷻ فرمايي: ﴿ٱلَّذِينَ يَلۡمِزُونَ ٱلۡمُطَّوِّعِينَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ فِي ٱلصَّدَقَٰتِ وَٱلَّذِينَ لَا يَجِدُونَ إِلَّا جُهۡدَهُمۡ فَيَسۡخَرُونَ مِنۡهُمۡ سَخِرَ ٱللَّهُ مِنۡهُمۡ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٌ ۝٧٩﴾ [التوبة: ۷۹].

ترجمه: «هغه منافقان چه عيب او طعنی لګوي په خيرات کونکو مؤمنانو باندی د هغوئ د خيراتونو په وخت کښی ، او په هغه کسانو پوری چه نه مومي د خيرات لپاره مګر د خپل کوشش مطابق(د هغی د کموالي په سبب)، نو په هغوئ پوری مسخری کوي، الله تعالی به ددی مسخرو په مقابل کښی په دوئ پوری مسخری وکړي، او ددوئ لپاره دردناک عذاب دې».

نو ددوئ په مؤمنانو پوری د مسخرو سزا ورته الله په دي ورکوي چه الله تعالی ورپوری مسخری کوي، ترڅو ورته د خپل بد عمل پوره پوره سزا ورسيږي.

*منافقان أکثر په هغه ګناهونو کښی واقع کيږي چه د هغی سزا د همغه عمل له جنسه وي، او دغه سزا له آخرت نه مخکی په دنيا کښی وي، لکه چه په متعددو حديثو شريفو کښی راځي: څوک چه د يو مسلمان په بدنامۍ او

رسوايي پسی ګرځي الله تعالی به يي بدنام او رسوا کړي، او څوك چه يو مسلمان ته ضرر رسوي الله تعالی به د هغی په سزا کښی ورته ضرر ورسوي، او چا چه د يو مسلمان سره مخالفت او دښمنی وکړه، الله به ورته همدغه شان سزا ورکړي، او چا چه يو مسلمان ذليل او کمزورې کړ، الله تعالی به يي ذليل او کمزورې کړي، او چا چه د مسلمانانو سره سختي وکړه، نو په بدل کښی به الله تعالی پر ده باندي سختي راولي.

او منافقان تل د بدو پلمو خاوندان دي، الله تعالی فرمايي: ﴿وَلَا يَحِيقُ ٱلۡمَكۡرُ ٱلسَّيِّئُ إِلَّا بِأَهۡلِهِۦ﴾ [فاطر: ٤٣].

ترجمه: «او نه چاپيريږي بده پلمه مګر په خپل خاوند باندي، يعنی په هغه چا چه دغه بده پلمه يي جوړه کړی ده».

نو دا چه مخکښی تير شو، د هغه عذابونو ډولونه دي چه منافقانو ته په دنيا کښی رسيږي.

* او هر چه د برزخي ژوند حال دې، نو کله چه دوئ ددُنيا له دي ژوند څخه کوچ وکړي، او په قبرونو کښی کيښوول شي، نو دوئ به په يو لوئ عذاب کښی وي، او هم به په دايمی بدبختی او افسوسونو کښی وي، چه نه ختميږي.

د أنس بن مالكﷺ په حديث شريف کښی رسول اللهﷺ فرمايي:

«إِنَّ الْعَبْدَ إِذَا وُضِعَ فِي قَبْرِهِ وَتَوَلَّى عَنْهُ أَصْحَابُهُ وَإِنَّهُ لَيَسْمَعُ قَرْعَ نِعَالِهِمْ أَتَاهُ مَلَكَانِ فَيُقْعِدَانِهِ فَيَقُولاَنِ مَا كُنْتَ تَقُولُ فِي الرَّجُلِ لِمُحَمَّدٍ فَأَمَّا الْمُؤْمِنُ

فَيَقُولُ أَشْهَدُ أَنَّهُ عَبْدُ اللهِ وَرَسُولُهُ فَيُقَالُ لَهُ انْظُرْ إِلَى مَقْعَدِكَ مِنَ النَّارِ قَدْ أَبْدَلَكَ اللَّهُ بِهِ مَقْعَدًا مِنَ الْجَنَّةِ فَيَرَاهُمَا جَمِيعًا قَالَ قَتَادَةُ: وَذُكِرَ لَنَا أَنَّهُ يُفْسَحُ فِي قَبْرِهِ ثُمَّ رَجَعَ إِلَى حَدِيثِ أَنَسٍ قَالَ: وَأَمَّا الْمُنَافِقُ وَالْكَافِرُ فَيُقَالُ لَهُ مَا كُنْتَ تَقُولُ فِي هَذَا الرَّجُلِ فَيَقُولُ لاَ أَدْرِي كُنْتُ أَقُولُ مَا يَقُولُ النَّاسُ فَيُقَالُ لاَ دَرَيْتَ، وَلاَ تَلَيْتَ وَيُضْرَبُ بِمَطَارِقَ مِنْ حَدِيدٍ ضَرْبَةً فَيَصِيحُ صَيْحَةً يَسْمَعُهَا مَنْ يَلِيهِ غَيْرَ الثَّقَلَيْنِ» [متفق علیه].

ترجمه: «بیشکه یو مړ بنده چه په خپل قبر کښی کی کیښودل شي، او ملګري (یعنی هغه خښوونکي خلک) ورڅخه لاړ شي، نو دې به لا ددوئ د پیزار کړپا او اواز اوري چه دوه ملائکی به ورته راشي، نو هغوئ به یي(په قبر کښی) کښینوي، او ورته به ووايي: ته د هغه سړي په هکله څه وايي چه په تاسو کښی لیږل شوې وو، (یعنی محمدﷺ)».

نو څوک چه مؤمن وي هغه به ورته ووايي: «أشهد أنه عبد الله ورسوله»، یعنی زه ګواهي کوم چه هغه د الله تعالی بنده او استاذې دې.

نو ده ته به وویل شي: په اور کښی دی خپل ځاي ته وګوره ! چه دغه ستا ځاي وو، که مؤمن نه واي، خو چه ایمان دی راوړې دې، نو تا ته الله تعالی د هغی په بدل کښی دغه بل ځاي په جنت کښی درکړې دې، نو هغه به دغه دواړه ځایونه ویني.

او څوک چه منافق او کافر وي، نو هغه ته به وویل شي: تا به په دنیا کښی ددغه سړي په هکله څه ویل؟، نو هغه به ورته ووايي: زه خو نه

پوهيږم، ما هم هغه څه ويل چه نورو خلکو ويل.

نو د ملايکو لخوا به ورته وويل شي: نه دی پوهه شی او نه دی ولولی، او بيا به د اوسپنی په پلْکْ(ګرز) باندی داسی ووهل شي چه د هغی څخه به يوه داسی چيغه ووهي چه له پيريانو او انسانانو پرته به يي دغلته هر شې اوري.

* او ددی ترڅنګ به ورته ځينی خاص عذابونه هم رسيږي چه د ځينو ګناهونو پوری خاص وي، لکه چه د رسول اللهﷺ څخه په سننو کښی ثابت دي چه هغه څوک چه قرآنکريم لولي او بيايي بيرته پريږدي، او د فرضي لمانځه څخه ويده کيږي، نو هغه به په قبر کښی عذابيږي، همداشان زناکاران، سودخوران، غيبت کونکي، چغلخور، او دروغجن، د زکات منع کونکي، او هغه څوک چه د روژه ماتي له وخته مخکی روژه ماتوي، ددي ټولو په اړه په صحيح احاديثو کښی راغلي دي چه دوئ به په قبرونو کښی عذابيږي، او د منافقانو په دغه بدو اعمالو او د هغی په عذابونو کښی ښه لويه او پوره برخه ده.

* دآخرت عذابونه: په صحيحو احاديثو کښی راغلي دي چه کله د قيامت ورځ شي، او الله تعالی دا ټول خلک په يو ميدان کښی د فيصلی او حساب او کتاب لپاره راټول کړي، بيا به خاص کافران ددوزخ اور ته وغورزول شي، او مؤمنان او منافقان او د اهل کتابو څخه ځينی پاتی شوني خلک به په ميدان کښی پاتی شي، او هلته به د الله تعالی پنډۍ ښکاره کړل شي، او دغلته به هيڅ داسی څوک پاتی نشي چه په دُنيا کښی به يي پخپله خوښه د الله تعالی د رضا لپاره سجده کوله، مګر خو هغه ته به اجازه وشي

چه دغلته سجده وکړي، او هغه چا چه د ريا، ځان ښودنی او نفاق لپاره سجده کوله د هغه ملا(شا) به يوه تخته شي، هرڅومره چه غواړي سجده وکړي، نو په شټ به راپريوځي.

او د حساب په وخت کښی به منافق راوستل شي، الله تعالی به ورته پر ده باندی خپل کړي نعمتونه وروښاي، نو منافق به ووايي: اي پروردګاره ! ما خو پر تا ايمان راوړي وو، ستا پر کتاب او پيغمبرانو می ايمان راوړي وو، لمونځونه می کول، روژی می نيولی، خيراتونه می کول، او د خپل توانه پوری به د ځان صفتونه وکړي، نو ورته به وويل شي: اوس به نو پر تا باندی يو ګواهي کونکې راولو.

نو منافق به سوچ کوي چه پر ما باندی به دا ګواه لا څوک وي؟ نو پر خوله به يي مهر ولګول شي، او دده ورانه غوښی او هډوکو ته به وويل شي: خبری وکړئ، نو ورون، غوښه او هډوکي به دده پر اعمالو پر ګواهۍ او شاهدۍ ګويان شی، دا هم ددي لپاره چه دده د خپلو اندامونو پر ګواهی دده عذر معذرت ختم شي، او د عذر کولو يا انکار کولو نور فرصت ورته په لاس ورنشي.

نو پيغمبرﷺ دداسی شخص په هکله فرمايي: «وذَلِكَ المُنافِقُ، وذلك الذي يَسْخَطُ اللّهُ عليه» [رواه مسلم].

ترجمه: «يعنی همداسی شخص منافق وي، او همدا هغه څوک دې چه الله تعالی ورته په قهر او غُصه دې».

بیا کله چه د دوزخ د پاسه د «صراط» پُل وتړل شي، او پر هغې باندی د تیریدلو حکم وشي، او د قیامت له میدانه هر چا ته د هغه دعمل برابر رڼا ورکړل شي، نو د نورو مسلمانانو په شان به منافقانو ته هم رڼا ورکړل شي تر څو پری په عذاب کړل شي، تردی چه کله دوئ د «صراط» پُل ته ورسیږي، نو د منافقانو رڼا به مړه شي، او د مسلمانانو رڼا به نوره هم پوره او زیاته شي.

الله ﷻ فرمايي:

﴿لَهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ يُحۡيِۦ وَيُمِيتُۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ٢ هُوَ ٱلۡأَوَّلُ وَٱلۡأٓخِرُ وَٱلظَّٰهِرُ وَٱلۡبَاطِنُۖ وَهُوَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٌ ٣ هُوَ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٖ ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰ عَلَى ٱلۡعَرۡشِۖ يَعۡلَمُ مَا يَلِجُ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَا يَخۡرُجُ مِنۡهَا وَمَا يَنزِلُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ وَمَا يَعۡرُجُ فِيهَاۖ وَهُوَ مَعَكُمۡ أَيۡنَ مَا كُنتُمۡۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ٤ لَّهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرۡجَعُ ٱلۡأُمُورُ ٥ يُولِجُ ٱلَّيۡلَ فِي ٱلنَّهَارِ وَيُولِجُ ٱلنَّهَارَ فِي ٱلَّيۡلِۚ وَهُوَ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ٦ ءَامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَأَنفِقُواْ مِمَّا جَعَلَكُم مُّسۡتَخۡلَفِينَ فِيهِۖ فَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمۡ وَأَنفَقُواْ لَهُمۡ أَجۡرٞ كَبِيرٞ ٧ وَمَا لَكُمۡ لَا تُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلرَّسُولُ يَدۡعُوكُمۡ لِتُؤۡمِنُواْ بِرَبِّكُمۡ وَقَدۡ أَخَذَ مِيثَٰقَكُمۡ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ٨ هُوَ ٱلَّذِي يُنَزِّلُ عَلَىٰ عَبۡدِهِۦٓ ءَايَٰتِۭ بَيِّنَٰتٖ لِّيُخۡرِجَكُم مِّنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ بِكُمۡ لَرَءُوفٞ رَّحِيمٞ ٩ وَمَا لَكُمۡ أَلَّا تُنفِقُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلِلَّهِ مِيرَٰثُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ لَا

يَسۡتَوِي مِنكُم مَّنۡ أَنفَقَ مِن قَبۡلِ ٱلۡفَتۡحِ وَقَٰتَلَۚ أُوْلَٰٓئِكَ أَعۡظَمُ دَرَجَةٗ مِّنَ
ٱلَّذِينَ أَنفَقُواْ مِنۢ بَعۡدُ وَقَٰتَلُواْۚ وَكُلّٗا وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلۡحُسۡنَىٰۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ
خَبِيرٞ ١٠ مَّن ذَا ٱلَّذِي يُقۡرِضُ ٱللَّهَ قَرۡضًا حَسَنٗا فَيُضَٰعِفَهُۥ لَهُۥ وَلَهُۥٓ أَجۡرٞ
كَرِيمٞ ١١ يَوۡمَ تَرَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ يَسۡعَىٰ نُورُهُم بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ
وَبِأَيۡمَٰنِهِمۖ بُشۡرَىٰكُمُ ٱلۡيَوۡمَ جَنَّٰتٞ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ
ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ١٢ يَوۡمَ يَقُولُ ٱلۡمُنَٰفِقُونَ وَٱلۡمُنَٰفِقَٰتُ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ
ٱنظُرُونَا نَقۡتَبِسۡ مِن نُّورِكُمۡ قِيلَ ٱرۡجِعُواْ وَرَآءَكُمۡ فَٱلۡتَمِسُواْ نُورٗاۖ فَضُرِبَ
بَيۡنَهُم بِسُورٖ لَّهُۥ بَابُۢ بَاطِنُهُۥ فِيهِ ٱلرَّحۡمَةُ وَظَٰهِرُهُۥ مِن قِبَلِهِ ٱلۡعَذَابُ ١٣
يُنَادُونَهُمۡ أَلَمۡ نَكُن مَّعَكُمۡۖ قَالُواْ بَلَىٰ وَلَٰكِنَّكُمۡ فَتَنتُمۡ أَنفُسَكُمۡ
وَتَرَبَّصۡتُمۡ وَٱرۡتَبۡتُمۡ وَغَرَّتۡكُمُ ٱلۡأَمَانِيُّ حَتَّىٰ جَآءَ أَمۡرُ ٱللَّهِ وَغَرَّكُم بِٱللَّهِ
ٱلۡغَرُورُ ١٤ فَٱلۡيَوۡمَ لَا يُؤۡخَذُ مِنكُمۡ فِدۡيَةٞ وَلَا مِنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْۚ مَأۡوَىٰكُمُ
ٱلنَّارُۖ هِيَ مَوۡلَىٰكُمۡۖ وَبِئۡسَ ٱلۡمَصِيرُ ١٥﴾ [الحدید: ۲-۱۵].

ترجمه: «یاده کړه هغه ورځ چه وینی به ته مؤمنان سړي او مؤمنانی ښځی چه منډی به وهي رڼا ددوئ، مخی ته، او ښي طرف ته، او ورته به ویل کیږي: زیرې دې تاسو ته نن ورځی د داسی جنتونو چه د هغی د ماڼیو لاندی به ویالی بهیږي، او تاسو به په دغه جنتونو کښی همیشه او تل ترتله یاست ، او همدا لویه کامیابي ده. او هغه ورځ چه منافقان سړي منافقانی ښځی به مؤمنانو ته وایي: مونږ ته لږ راوګورئ او مونږ ته انتظار وکړئ چه مونږ هم

ستاسو له رڼا ځینی استفاده وکړو، نو ورته به وویل شي: بیرته شاته وګرزئ(دنیا ته یا میدان حشر ته او)هلته ځانته خپله رڼا ولټوی، نو دلته به ووهل شي او جوړ به شي ددوئ تر منځ یو دیوال، چه دننه به پکښې رحمت وي د مؤمنانو طرف ته، او بهر به ترې عذاب وي، منافقان به مؤمنانو ته اوازونه کوي: آیا مونږ له تاسو سره په دنیا کښې نه وو؟ (څرنګه راڅخه جلا شوئ)؟ مؤمنان به ورته ووايي: هو، تاسو په ښکاره له مونږ سره وئ، خو لکن تاسو په فتنه کښې اچولي وو خپل ځانونه(چه ایمان مو د نفاق ایمان وو)، او تاسو به د مؤمنانو د حال انتظار کولو چه دوئ کامیاب کیږي، او که پرې خواري او ذلّت راځي، او له خپله ایمانه په شک کښې وياست، او خپلو تشو امیدونو تیرایستلی، تر دي چه د الله حکم تاسو ته راغي(مرګ)، او په حقیقت کښې تاسو تیرایستلي یاست تیر ایستونکي شیطان، نو نن ورځ به له تاسو څه فدیه او مالي عوض نه اخستل کیږي، او نه به له نورو خالصو کافرو څخه دغه فدیه ومنل شي، ځاي د ورتللو ستاسو د ټولو اور دې، همدغه تاسو سره مناسب وړ او لایق دې، خو ډیر بد ځاي دورتللو ستاسو دې».

او هر چه ددوئ لپاره په دوزخ کښې کوم عذاب ټاکل شوې دي نو هغه خو یو سپکونکې دردناك او دائمي عذاب دې، الله تعالی ورته په دوزخ کښې هغه تر ټولو لاندینۍ طبقه ټاکلی ده، نو دوئ په دوزخیانو کښې تر ټولو سخت عذاب والا دي.

الله ﷻ فرمايي: ﴿إِنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ فِي ٱلدَّرۡكِ ٱلۡأَسۡفَلِ مِنَ ٱلنَّارِ وَلَن تَجِدَ

لَهُمۡ نَصِيرًا ﴿١٤٥﴾﴾ [النساء: ١٤٥].

ترجمه: «بیشکه منافقان به په آخري لاندینی برخه د اور کښې وي، او هیڅکله به دوئ ته څوک کومکي او مرستندویه پیدا نکړی».

همداراز په بل ځاي کښې فرمايي: ﴿إِنَّ ٱللَّهَ جَامِعُ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ وَٱلۡكَٰفِرِينَ فِي جَهَنَّمَ جَمِيعًا ﴿١٤٠﴾﴾ [النساء: ١٤٠].

«بیشکه الله تعالی منافقان او کافران په دوزخ کښې ټول سره راټولوي»، او همدا رنګه فرمایي:

﴿وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ وَٱلۡمُنَٰفِقَٰتِ وَٱلۡكُفَّارَ نَارَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ هِيَ حَسۡبُهُمۡۚ وَلَعَنَهُمُ ٱللَّهُۖ وَلَهُمۡ عَذَابٞ مُّقِيمٞ ﴿٦٨﴾﴾ [التوبة: ٦٨].

ترجمه: «د منافقانو سړو منافقانو ښځو او خالصو کافرو سره الله تعالی وعده کړی ده چه دوئ به ددوزخ اور ته ننباسي، او همیشه به وي دوي په دغه اور کښې، او همدا اور يي بس او کافي دې، او الله تعالی لعنت کړې دې پر دوئ، او ددوئ لپاره عذاب دې تل ترتله همیشه قائم دائم».

دولسم درس: د اسلام نواقض او ماتوونکي شيان

مخکښې مو وپيژندل چه يو بنده تر هغه مسلمان کيدې نشي چه ترڅو يي د «لا إله إلاّ الله وأن محمداً رسول الله» شاهدي او ګواهي نه وي کړي، او د خپلې دغې ګواهۍ او اقرار په أساس به الله تعالی يو ګڼي، او هم به د رسول اللهﷺ پيروي کوي، نو هله به دې مسلمان ګڼل کيږي.

په تيرو درسونو کښې مونږ زده کړل چه د «شهادة أن لا إله إلاّ الله» غوښتنه داده چه د عبادت ټول انواع او ډولونه خاص او يواځې يو الله تعالی ته ځانګړي شي، او د عبادت او بندګۍ اساس او بنسټ د الله تعالی سره پر محبت او دهغه تعظيم او همدغه الله تعالی ته په غاړه ايښوولو باندی ولاړ دې.

همدارنګه مو زده کړل چه د «شهادة أن محمداً رسول الله» غوښتنه هم د رسول اللهﷺ سره د هغه دشان او رسالت سره مناسب محبت کول، هغه په ټولو احکامو او اخبارو کښې رښتينې ګڼل، او د هغه په اوامرو او نواهيو کښې پيروي او اطاعت کول دي.

نو خبردار ! هغه څوک چه ددغه دواړو ګواهيو د ماتوونکو ګناهونو مرتکب کيږي، نو هغه له دين اسلام څخه ووځي، او په الله جلّ جلاله او د

هغه په رسولﷺ باندی کافر ګڼل کیږي، اګر که لمونځ کوي، روژه نیسي، او ګومان کوي چه هغه مسلمان هم دې.

نو هغه څوک چه له دغه څلورو شیانو څخه یو هم ونلري، چه هغه: د عبادت او بندګۍ یواځې یو الله پورې خاص کول، د الله تعالی سره د هغه دالوهیت او ربوبیت سره مناسب محبت کول، او دهغه تعظیم او هغه ته غاړه ایښودل، همدا شان د رسول اللهﷺ سره محبت کول، هغه په ټولو راوړو احکامو او اخبارو کښې رښتینی ګڼل، او د هغه اطاعت او پیروي کول دي – نو دغه شخص له اسلام څخه ووځي، او مسلمان نه ګڼل کیږي.

بیا که بنده له پیله لا د دواړو ګواهیو دغه غوښتنی نه وي منلی، او په عمل کښې یي نه وي راوستلی، نو دې له همغه پیله اصلي کافر بلل کیږي، که سره له دي دې په ښکاره د مسلمانۍ دعوا هم کوي نو بیا دې منافق دې.

او که چا لومړې د ددواړو ګواهیو دغه غوښتنی منلی وي، او بیا وروسته یي یوه یا له یوي نه زیاتی غوښتنو څخه لاس په سر شي، نو دا مرتد کافر بلل کیږي، چه یو ځل په اسلام کښې شامل شوې او بیرته ورڅخه وتلې دې.

د اسلام دین څخه ارتداد یا مرتد کیدل په هر هغه قول، عمل او اعتقاد باندي کیږي چه په هغې سره د «شَهادةِ أن لا إلهَ إلا اللهُ وأن مُحَمَّدًا رَسولُ الله» له حقیقتونو او غوښتنو څخه د کوم یو انتفا او نشتوالې راځي، او ورسره مناقض او ماتوونکې یي وي.

او دغه نواقض او دین ماتوونکي شیان چه بنده له دین څخه وباسي – ډیر

شکلونه لري، چه په کومه خاصه شمیره نلري، خو دهغی جامع اصول په لاندی ډول دي:

لومړې ماتوونکې: الحاد:

یعنی د الله تعالی له وجود او شتون څخه انکار کول، لکه د مخلوقاتو د پیدایښت نسبت طبیعت ته کول، یا دا عقیده لرل چه دا عالَم او کوْن قدیم دې، په دی معنی چه ځینی مخلوقات اول نلري، یعنی ازلي دي.

دوهم ماتوونکې: شرک اکبر (لوئ شرک):

او هغه دا چه د الله تعالی لپاره شریک او یا سیال ومنل شي، او دا بیا په څو ډوله دې:

لومړې ډول: په عبادت او بندګۍ کښی شرک کول، چه د عبادت او بندګۍ کوم ډول او نوعه د الله تعالی پرته بل چا ته هم وشي، لکه دغیر الله دعاء، رابلل، د غیر الله په نوم حلالکه او ذبح کول، او د هغه لپاره نذر اومنښته منل، له غیر الله څخه مرسته او کومک او مدد غوښتل، غیر الله ته چیغه او رامددشه ویل، په غیر الله باندي استعاذه او پناه غوښتل- کوم چه مافوق الأسباب امورو کښی وي-، او داسی نور.

د شرک فی الألوهیت یو شکل هغه دې کوم چه یي بُت پرستان د انبیاؤ، اولیاؤ عبادت او پرستش کونکي کوي، لکه د بُتانو، انبیاؤ اولیاؤ رابلل، او ورته چیغه او رامددشه ویل، له هغوئ څخه سفارش غوښتل، ورڅخه د خپلو

ډول ډول حاجتونو غوښتل، ګټه غوښتنه او ضرر دفع کول، او له هغه څخه بچ کول غوښتل، نو هغه څوک چه دغه کارونه کوي هغه بنده مشرک اوکافر بلل کیږي، اګر که هغه پخپل ځان د مسلمان ګومان کوي او دعوا یي کوي، او ورسره «لا إله إلاّ الله» وایي، لمونځ کوي، خیراتونه کوي، روژی نیسي، حج کوي او نور د خیر کارونه کوي؛ ځکه شرك اکبر هر نیك عمل بربادوي او ابته کوي یي؛ ځکه شرك اکبر د اسلام دین بلکل منافي او ضد دې.

۲/ بل شکل یي هغه دې کوم چه یي ساحران کوډګر، او هغه خلك چه دوئ ته ورځي - کوي یي، لکه: د غیر الله په نوم ذبح او حلالکه کول، له غیر الله څخه مرسته او کومك غوښتل، او شیطانانو څخه مرسته او کومك غوښتل.

دوهم ډول: د الله تعالی په ربوبیت کښی شرك: یعنی د الله تعالی سره د هغه په افعالو او خدائي کارونو کښی شریك او برخمن منل، او ورسره بل څوك سیال ګڼل، لکه چه ځینی مشرکان په خپلو معبودانو او مشرانو کښی دا اعتقاد لري چه دوئ په کوْن کښی تصرف کولې شي، او یا پر غیبو باندي علم لري او پری پوهیږي، او یا هم د باران کولو اختیار لري، یا د چا رزق روزي ورکولو اختیار او واك لري، او یا هم له مرض او رنځ څخه روغتیا ورکولې شي، یا اولاد او بچي ورکولې شي، یا بی واده شخص ته د ژوند ملګرې بخښي، یا چا ته مال او شتمني ورکولې شي، او یا هم تکلیفونه او سختئ لری کوي، او مصیبتونه او بلاګانی پورته کوي، او یا حاجتونه پوره

کوي، او که څوک یي رابلي نو دُعا او زاري یي قبلوي، او په درد یي ورځي.

بل شکل یي هغه دې چه ځینی خلك لکه مجوس چه عقیده لري چه ددي کون او عالم دوه پیداکونکي دي: یو رڼا، او بل تیاره او تورتم.

دریم شکل هغه دې لکه چه ځینی صوفیان او شیعه ګان یي د خپلو مشرانو په هکله عقیده لري چه هغوئ په غیبو پوهیږي، او په کون کښی تصرف کولې شي، او دچا دُعا او رابلل قبلولې شي، او حاجتونه او ضرورتونه یي پوره کولې شي.

بل شکل یي: د الله تعالی د رالیږل شوي وحي نه پرته د مخلوق په جوړ شوو قوانینو باندي فیصلی کول، نو څوک چه د الهي وحي پرته په نورو قوانینو فیصلی کوي هغه طاغوت دې، او په دغه فیصلو ځان دالله تعالی سره په فیصلو کښی شریك او برخمن ګڼي.

دریم ډول شرك د اطاعت او پیروئ شرك دې، او هغه دا چه بنده حِل او حرمت کښی له اسلامي شریعت پرته د خپلو مشرانو پیروي وکړي، چه هغوئ ته یي غوږ نیولې وي: کوم چه هغوئ ورته حلال وایي، ددوئ په نیز هم حلال، او کوم ته چه دغه مشران حرام وایي نو ددوئ په نیز هم حرام وي، لکه چه د طواغیتو پرستش کونکي یي کوي، چه په حِل او حرمت کښی د خپلو طواغیتو اطاعت او د هغوئ پیروي کوي، چه د الله تعالی حرام کړیو ته حلال، او د الله تعالی حلال کړیو ته حرام وایي، اوددي هم ډیر شکلونه دي، چه له هغی څخه:

یو شکل دا دې چه ځوک طواغیتو ته فیصلی او وروړي، نو ځوک چه پخپله خوښه او خپله اراده هغوئ ته خپلی منازعی او لانجی د حل او فصل لپاره وروړي، او دهغوئ فیصلی غواړي چه پلی شي، دا بنده کافر بلل کیږي؛ ځکه چه الله ﷻ فرمايي:

﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ ءَامَنُواْ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُوٓاْ إِلَى ٱلطَّٰغُوتِ وَقَدْ أُمِرُوٓاْ أَن يَكْفُرُواْ بِهِۦ وَيُرِيدُ ٱلشَّيْطَٰنُ أَن يُضِلَّهُمْ ضَلَٰلًۢا بَعِيدًا ۝٦٠﴾ [النساء: ٦٠].

ترجمه: «آیا ته نه ګوری هغه خلکو ته چه ګومان کوي چه دوئ ایمان لري په هغه وحي چه تا ته لیږل شوی ده – اي محمد ﷺ – او هم ایمان لري په هغه کتابونو چه له تا څخه مخکنیو پیغمبرانو ته لیږل شوی وه، او سره له دي هم غواړي چه خپلی فیصلی طاغوت ته یوسي، حال دا چه دوئ ته دا حکم شوې دې: چه کفر وکړي او انکاري شي پر دغه طاغوت او د هغه پر فیصلو، خو شیطان غواړي چه دوئ له حق څخه په ډیری لری ګمراهی او بی لارئ ګمراه او بی لاري کړي».

یادونه: هو، هغه ځوک چه په داسی هیواد کښی اوسي چه هلته د الله تعالی په رالیږل شوي وحي باندي فیصلی نه کیږي، او دغه اوسیدونکې له خپله ځانه د ظلم په رفع او یا ورڅخه په خلاصی کښی، او یا دخپل حق په لاس ته راوړلو کښی– دي ته اړ شو چه ځینی هغه محکمو ته خپل شکایت او فیصله وروړي چه دې ګومان کوي چه دده حق به ورته وروسپاري، او یا

به ظلم ورځخه پورته کړي، نو په دغه وخت کښې دا بنده نه کافر کيږي؛ ځکه رسول اللهﷺ چه کله خپلو صحابه کراموﷺ ته د حبشې په لورې د لومړني هجرت کولو اجازه وکړه نو ورته يي وويل: «إنَّ بأرضِ الحَبَشةِ مَلِكًا لا يُظْلَمُ أحَدٌ عندَه، فالْحَقُوا ببلادِه حتى يَجْعَلَ اللهُ لكم فَرَجًا ومَخْرَجًا مِمَّا أنتم فيه» [رواهُ البَيْهقِيُّ من حديثِ أُمِّ سَلَمَةَ رضي الله عنها بإسنادٍ حَسَنٍ].

ترجمه: «بيشکه د حبشې هيواد کښې داسې پاچا دې چه د هغه په حکومت پر هيچا ظلم نه کيږي، نو هلته لاړ شئ، ددې لپاره چه الله تعالى يي ستاسو لپاره د هغه مشکلاتو څخه چه تاسو پکښې ياست - د خلاصې سبب وګرزوي».

ځکه نجاشي لا پدغه وخت کښې مسلمان شوې نه وو، خو سره له دې که پر دوئ کوم ظلم شوې واي، او دوئ نجاشي ته فيصلې وروړلو ته اړ شوي واي نو نجاشي به ورسره له انصاف او عدل څخه کار اخستې وو، نو دا ددي دليل دې چه په هغه هيوادونو کښې چه اسلامي نظام نه وي، خو که يو مسلمان ورته فيصله وروړي نو عدل او انصاف به ورسره وشي، او له ظلم څخه به خلاص شي - روا ده چه خپله فيصله او عرض ورته وروړي.

ځکه مسلمان د ضرورت او حاجت په وخت کښې چه که ورنشي نو مصلحت يي فوت کيږي- نو هغه په حقيقت کښې طواغيتو ته د فيصلو وروړلو غوښتونکې نه دې، نو په دې اساس هغه په دغه وخت کښې نه کافر کيږي.

دوهم شکل: په اسلامي شریعت کښې د بیان شوو حلالو په تحریم او همدغه شان په شریعت کښې د واضحو حرامو په تحلیل کښې د بې دینه علماؤ او طاغوتو حاکمانو اطاعت او پیروي کول.

دشرک افراد او شکلونه بیخي ډېر دي، خو ټول همدی دریو ډولونو ته راګرزي.

دایمان او اسلام دریم ډول ماتوونکې:

د الله جلّ جلاله د بعض ځانګړو صفتونو دعوا کول، که هغه په ربوبیت کښې وي، او که په الوهیت کښې وي، او که په اسماء او صفاتو کښې وي.

ددي ناقض ځینی شکلونه:

۱/ د ځینی طواغیتو خپل عبادت او بندګۍ ته بلنه ورکول.

۲/ د علم غیب دعوا کول.

۳/ د مړو د ژوندي کولو دعوا کول.

دایمان او اسلام څلورم ماتوونکې: د نبوت او پیغمبرۍ دعوا کول.

د نبوت او پیغمبرۍ دعوا کول د علماؤ په اجماع باندی کفر شمیرل کیږي.

د نبوت او پیغمبرۍ پورې ځینی تړلي شیان چه همدغه حکم هم اخلي:

* لکه د قرآنکریم سره مشابهت او دا دعوا کول چه د هغه کتاب په شان بل کتاب راوړلې شي کوم چه الله تعالی په خپلو پیغمبرانو رالیږلي دي، لکه

چه الله تعالی فرمایي:

﴿وَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّنِ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَوۡ قَالَ أُوحِيَ إِلَيَّ وَلَمۡ يُوحَ إِلَيۡهِ شَيۡءٞ وَمَن قَالَ سَأُنزِلُ مِثۡلَ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُۗ﴾ [الأنعام: ۹۳].

ترجمه: «او څوک دي ډېر لوئ ظالم له هغه چا چه جوړ کړي په الله تعالی باندی دروغ، او یا ووایي: چه ما ته هم وحیی شوی ده، حال دا چه د هیڅ شي وحیی ورته نه وي شوی، او هغه څوک چه ووایي: ژر دي چه زه به نازل کړم یو کتاب په شان د هغه کتاب چه الله تعالی رالیږلي دي».

د ایمان او اسلام پنځم ماتوونکي: د الله تعالی او د هغه دپیغمبرﷺ دروغجن ګڼل:

نو هغه څوک چه الله ﷻ او یا د هغه رسولﷺ دروغجن ګڼي، داسی بنده د علماؤ په اجماع باندی کافر دي، او له مسلمانانو څخه نه شمیرل کیږي.

ددی ماتوونکي ځینی شکلونه:

۱/ د اسلام د غټو او ښکاره شعائرو نه انکار کول، لکه د زکات یا لمانځه د فرضیت څخه انکار کول، یا د سود، زنا، او خنزیر غوښی د حرام والي څخه انکار کول.

۲/ د الله تعالی د نومونو او یا صفتونو څخه دکوم یو څخه بی شبهی او ناپوهی او تأویل څخه انکار کول.

۳/ د قرآنکریم د کوم آیت یا کومی مسألی څخه انکار کول.

۴/ په قرآنکریم کښې د تحریف یا اختلاف او تناقض دعوا کول.

۵/ د نبوي احادیثو څخه انکار کول.

۶/ له مرګه وروسته د بیا راژوندي کیدلو او یا د سزا او جزا او حساب او کتاب څخه انکار کول.

۷/ هغه چا ته کافر نه ویل څوک چه د اسلام دین ته خپل دین نه وایي، اود اسلام مقدس دین ته غاړه نه ږدي، لکه یهود، نصارا، مجوس، ملحدین، او بُت پرستان.

۸/ دا عقیده لرل چه یو چا ته د محمدﷺ له شریعت څخه وتل روا دي، لکه خضر عليه السلام ته چه د موسی عليه السلام له شریعت څخه د بل شریعت پیروي روا وه.

۹/ په صحیح دلیل باندی دحرام شوي شیانو بی شبهی او بي تأویله حلال ګڼل.

۱۰/ څوک چه د محمدﷺ څخه وروسته د نبوت دعوا وکړي هغه رښتینې ګڼل.

۱۱/ دا عقیده اودعوا کول چه د محمدﷺ رسالت یوائې د عربو لپاره خاصه ده.

۱۲/ داسی دعوا کول چه که څوک د الله تعالی پرته بل چا ته- که هغه څوک نیک صالح بنده وي او که بل څوک- چیغه وهي او یا یي خپلو حاجتونو پوره کولو لپاره رابلي.

۱۳/ أم المؤمنین عائشی رضي الله عنها ته ښکنځل کول، او په هغه تهمت یي بدنامول چه الله سبحانه وتعالی ورڅخه په سورت نور کښې د هغې براءت او پاکي بیان کړی ده، او یا

هم نورو امهات المؤمنین د رسول اللهﷺ بيبيانو ته دغه شان نسبت کول، نو هم کافر کيږي او د اسلام له مقدس دين څخه بيرون او وتلې شميرل کيږي.

او ټول هغه څه چه په هغی سره د الله تعالی او د هغه درسولﷺ دروغجن ګڼلو ته لار جوړيږي هغه نو د اسلام او ايمان له نواقض او ماتوونکو شيانو څخه شميرل کيږي.

خو په دي بايد پوهه شو چه د يو خبر دروغ ګڼلو سبب کله کله دا وي چه يو بنده سره په دغه خبر باندی دليل نه وي، يا دليل وي خو ده ته دغه دليل ورمعلوم نه وي، او يا ورسره ددغه دليل په ثبوت کښی شک وي، او يا ورسره د دليل په معنی کښی داسی تأويل وي چه له ده څخه د تکذيب او درغجن ګڼلو حکم تری اوړی.

خو که هغه خبر او مسأله چه معنی او ثبوت يي معلوم او ښکاره وي، او بيا ورڅخه څوک انکار کوي او دروغ يي ګڼي، نو دی وخت کښی دا دعلماو په اتفاق تکذيب او د ديني شعايرو دروغجن ګڼل کيږي.

او په لومړني حالاتو کښی دروغجن ګڼونکی باندی د کفر حکم نه کيږي، ترڅو چه حجت ورباندی قايم شي، او ورباندی پوهه شي او د خبر ثبوت او د معنی صحت ورته څرګند شي.

د ايمان او اسلام شپږم ناقض او ماتوونکې: شک:

شک د هغه تصديق سره منافي او ضد دې چه پر مسلمان باندی يي تصديق کول فرض دي، نو که څو د الله تعالی او يا د هغه د رسولﷺ په خبرو کښی شک

وکړي، دغسی بنده کافر او نا مسلمان بلل کیږي، نو شک هم لکه د تکذیب او دروغجن ګڼلو په شان د تصدیق سره منافي او ضد دې.

د شک ډیر صورتونه کیدې شي:

۱/ لکه هغه څوک چه اسلام خپل دین نه ګڼي، او بیا هم څوک د هغه په کفر کښې شک کوي.

۲/ له مرګه وروسته په بیا راژوندي کیدلو کښې شک کول.

۳/ د قرآنکریم په ثبوت، یا له تحریف او تبدیل څخه د الله تعالی لخوا د هغه په حفظ کښې شک کول.

د ایمان او اسلام اووم ماتوونکې: د الله تعالی او د هغه درسول او اسلام سره کینه.

د الله تعالی یا د هغه د رسول محمدﷺ سره او یا د اسلام مقدس دین سره بغض او کینه کول د هغه د محبت سره منافي او ضد دې، نو هغه څوک چه د الله تعالی یا د هغه د رسولﷺ او یا د اسلام دین سره بغض او کینه کوي، داسی بنده کافر او له اسلام دین څخه بهر وتلې شمیرل کیږي.

په دغه بغض او کینه پوری اړوند او تړلی نور مسایل:

۱/ الله ﷻ ته یا د هغه رسول محمدﷺ ته یا د اسلام مقدّس دین ته ښکنځل کول، د الله جلّ جلاله په ذات کښې یا د رسول اللهﷺ په ذات کښې طعن او د عیبونو لګول.

۲/ د رسول اللهﷺ د صحابه کرامو ﷺ سره بغض کول، او یا هغوئ ټولو ته

ښکنځل کول، او یا هغوئ ته کافران ویل، دا ټول د ایمان او اسلام ماتوونکو شیانو څخه شمیرل کیږي.

هو، که څوک ځینو صحابه کرامو ته د کومې شبهې له کبله بد ووایي، نو هغه په دې وخت کښې کافر نه بلل کیږي، البته د یو لوئ حرام کار مرتکب بلل کیږي.

۳/ ددین له امامانو سره، د صحیحو حدیثو شریفو له نقل کوونکو سره، یا ددین له نورو مشرانو سره په عمومي ډول بغض او کینه کول، او یا د هغوئ دروغجن ګڼل هم د ایمان او اسلام ماتوونکو شیانو په شمار کښې راځي.

د ایمان او اسلام اتم ماتوونکې: په الله تعالی او د هغه په رسولﷺ پورې مسخرې او ټوقې کول:

او دا هم لوئ کفر بلل کیږي؛ ځکه دا کار هم د هغه فرضي محبت او تعظیم سره منافي او ضد دې چه په مؤمن باندي د هغه د ایمان له غوښتنو څخه دي.

په دې ماتوونکي او ناقض پورې اړوند نور ایمان او اسلام ماتوونکي شیان:

۱/ د قرآنکریم سپکه او بې عزتي کول:

۲/ د اسلام له شعایرو څخه د کومې یوې سپکه او بې عزتي کول.

دایمان او اسلام نهم ناقض او ماتوونکې: د مؤمنانو پرته د کفارو سره دوستي کول، او په دې کښې دوه کاره شامليږي:

۱/ د هغوئ سره ديني محبت او مینه کول، او یا د هغوئ سره د هغوئ پر دین موافقه کول، او پر هغې باندې راضي کيدل.

۲/ د مسلمانانو پر خلاف د کفارو سره کومک او مرسته کول.

ددی ناقض مختلف صورتونه دي:

۱/ د کافرانو لپاره پر مسلمانانو جاسوسي کول.

۲/ کافرانو ته د هغوئ په کفري او بُت پرستی اخترونو او جشنونو باندی مبارکي ويل؛ کله چه دا کار د هغوئ په شرک او کفر باندی يو ډول خوشحالي او رضامندي وي.

خو که له هغوئ سره صِرف ددي لپاره د هغوئ په جشنونو کښی ګډون کوي چه يو څه وخوري، ځان موړ کړي، او د هغوئ سره په هغه حرامو باندی چه هغوئ پکښی وي، او هغوئ سره دي، لذت تری واخلي او ساعت تيري ورسره کوي، سره له دي چه پر زړه د هغوئ د کفر او شرک څخه منکر وي، او له کفر او شرک څخه بد وړي، نو شک نشته چه دې د هلاکت په څنډه ولاړ دې، او ډيره ويره پری شته چه پر ده هم هغه عذاب راشي کوم چه په کفارو باندي راځي، البته کافر او مشرک نه ګڼل کيږي.

۳/ دداسی عبادتګاهونو جوړول چه هلته د الله تعالی پرته د بل چا عبادت او بندګي کيږي، او يا په دغسی کار کښی يو څه اندازه يا په يو ډول برخه اخستل، لکه د يهودو نصاراو مجوسو او نورو کفارو عبادتخانی جوړول، د هغه قبرونو او زيارتونو باندی کوټې او دکانچې او داسی نور شيان جوړول چه د هغې قبرونو او زيارتونو او يا هلته د غير الله عبادت او بندګي کيږي.

۴/ د اسلامي شريعت د علمبردارو علماو او دعاتو سره مقابله کول، او د هغوئ مخه نيول، او د هغوئ تنګول او زورول؛ ترڅو ددغی لاری نه د اسلامي

دعوت مخه ونیول شي.

۵/ د مسلمانانو د سپکاوي او کمزوري کولو لپاره کوښښ او منډې ترړې کول، او پر مسلمانانو باندې د کفارو د مسلّط کولو په لار کښې مرسته کول.

د ایمان او اسلام لسم ماتوونکې: د الله تعالی اودهغه د رسول له اوامرو څخه سرغړونه:

هغه څوک چه د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ له اطاعت او پیروئ څخه سرغړونه کوي هغه مسلمان نه دي؛ ځکه ده په حقیقت کښې د الله تعالی دین ته غاړه ایښې نه ده، او هغه یي نه دې منلې، ځکه خو هغه فرایض نه ادا کوي، او نه هم له محرماتو څخه ځان ساتي، مګر هغه شیان مني چه دده د نفسي خواهش سره موافق او ورته خوښ وي.

ددې سرغړونې ځینې شکلونه:

۱/ لکه هغه څوک چه عقیده لري چه د الله تعالی او د هغه د رسول ﷺ اطاعت او پیروي او هغوئ ته غاړه ایښودنه پرې لازمي نه ده، او نه پرې د الله تعالی او دهغه د رسول ﷺ د امر منل فرض دي.

۲/ یا هغه څوک چه د الله تعالی او د پیغمبر ﷺ له حکم منلو څخه بشپړه سرغړونه وکړي، چه نه اسلامي دین زده کوي، او نه د هغه مسألو پوښتنه کوي چه پرې فرض دي، لکه د الله تعالی او د هغه درسول ﷺ اطاعت، او نه فرایض او واجبات ترسره کوي، او نه د الله تعالی او د هغه درسول ﷺ د حکم منلو له کبله له حرامو څخه ځان ساتي.

هو، هغه څوک چه په اصل کښې د الله تعالی او د هغه د رسولﷺ د اطاعت فرمانبردار او ورته غاړه ایښودونکې وي، خو کله کله ورڅخه ځيني ګناهونه کيږي، نو داسې بنده ددغسې ګناهونو له کبله نه کافر کيږي.

په دې ایمان ماتوونکي څیزونو پورې ځینې اړوند مسایل:

لکه د لمانځه پرېښودل؛ ځکه لمونځ ته په اسلام کښې د دين د ستن لقب ورکړ شوی دی، نو که یو بنده لمونځ بيخي پريږدي، هغه بيا د الله تعالی له دين څخه سرغړوونکي شمېرل کيږي، لکه چه د اسلام دوهم خليفه عمر بن الخطابؓ فرمايي: «څوک چه لمونځ پريږدي اوضايع کوي يې، نو هغه ددين د نورو رکنونو په ضايع کولو کښې ډېر زړور دی».

دا لس ايمان او اسلام ماتوونکي شيان په اصل کښې د کلمهٔ شهادت سره بشپړ منافات او ضديت لري، نو هغه مسلمان عاقل بالغ چه پخپل اختيار او خوښه پرته له کوم عذر او شبهې نه ددغه نواقضو او ماتوونکو مرتکب شي، داسې بنده کافر او له اسلام څخه مرتد بلل کيږي، که په همدغه حال بې توبې مړ شي، دې به د دوزخ په اور کښې تل ترتله او هميشه لپاره وي، لکه چه الله ﷻ فرمايي: ﴿وَمَن يَرۡتَدِدۡ مِنكُمۡ عَن دِينِهِۦ فَيَمُتۡ وَهُوَ كَافِرٞ فَأُوْلَٰٓئِكَ حَبِطَتۡ أَعۡمَٰلُهُمۡ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ٢١٧﴾ [البقرة: ۲۱۷].

ترجمه: «او هغه څوک له تاسو څخه أي مسلمانانو چه مرتد شو له دين خپل نه، او بيا مړ شو په داسې حال کښې چه هغه کافر وي، نو دغسې کسان برباد او ابته

دي نیک عملونه ددوئ په دُنیا او آخرت کښې، او همدوئ ددوزخ د اور والا دي، چه دوئ به په دغه اور کښې همیشه او تل ترتله وي».

او هغه څوک چه په باطن کښې ددغه ټولو یا د ځینو نواقضو مرتکب شي، او په ښکاره دې د اسلام دعوا کوي، نو داسې بنده له منافقینو څخه شمیرل کیږي چه نفاق یې نفاق اکبر او لوئ نفاق وي، مسلمانان به ورسره په ظاهر او ښکاره د مسلمانانو معامله کوي، او پټ او د زړونو نفاق به یې الله تعالی ته سپاري، تر هغه چه له دوئ څخه ورته ښکاره کفر څرګند شي.

او دغه نواقض دوه درجې لري:

لمړئ درجه: ښکاره او څرګند کفر:

او دا هغه کفر دې چه ددغسې کافر په کفر کښې هیڅ ډول شبهه او شک نه وي، او نه ورته کوم عذر وي، لکه ناپوهي، تأویل، او یا زور او جبر، لکه هغه څوک چه ځان د اسلام دین پرته بل کوم دین ته منسوبوي، او یا د الله تعالی پرته د بل چا عبادت او بندګي کوي، او یا الله تعالی او د هغه رسولﷺ ته ښکنځل کوي، او په دین پورې ټوقې مسخرې کوي، او یا له قرآنکریم او یا له نبوي سنتو او احادیثو شریفو څخه انکار کوي، او ددین له ښکاره او څرګندو شعایرو او نښو څخه انکار کوي، سره له دې چه ده ته پرې علم او پوهه وي.

نو ددې درجې والا خلکو باندې د کفر حکم کولې شي، او هم دا چه دوئ به په آخرت کښې په اور کښې وي -که په همدغه حالت باندې مړه شي، او توبه ورڅخه ونه باسي-، الله جلّ جلاله فرمایي:

﴿مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَن يَسۡتَغۡفِرُواْ لِلۡمُشۡرِكِينَ وَلَوۡ كَانُوٓاْ أُوْلِي قُرۡبَىٰ مِنۢ بَعۡدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمۡ أَنَّهُمۡ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَحِيمِ ١١٣﴾ [التوبة: ۱۱۳].

ترجمه: «مناسب نه دي پیغمبر ته او مؤمنانو ته چه استغفار او د ګناهونو بخښنه وغواړي د مشرکانو لپاره، اګر که ددوئ خپلوان هم وي، وروسته له هغه چه دوئ ته څرګنده شي چه دوئ ددوزخ والا دي، یعنی په کفر باندي مړه او کافران له دنیا تللي دي».

دوهمه درجه: هغه ده چه ښکاره او څرګند کفر نه وي، نو هغه بیا په دوه ډوله دې:

لومړې: دا چه ددغه ګناه کونکي لپاره پکښې د عذر احتمال وي، لکه زور او جبر، د عقل نشتوالې، شبهه: لکه تأویل او ناپوهي، نو په دي حال کښې باید په ده باندی حجت قایم شي، یعنی کوم تأویل چه هغه یي کوي، خطا یي ورته بیان کړل شي، او که ناپوهه وي نو پوهه کړل شي، که عذر یي لرې شو، او سره له دي یي هم په خپله دغه ګناه باندي اصرار او استمرار وکړ، نو په دی حالت کښې هم په ده باندي د کفر حکم کیږی ځکه دې په دی حالت کښې په لومړني درجی ته ورګرزي، او که عذر یي لرې شوې نه وي، نو بیا پرې د کفر حکم نه کیږي.

له همدي کبله د اهل سنت والجماعت امامان په هغه ګمراه او بی لارې ډلو او د هغوئ په پیروانو د کفر حکم نه کوي چه د الله تعالی له اسماء او صفاتو څخه د کومی شبهی او تأویل له کبله منکر وي، سره له دي چه په هغوئ باندي د بدعت او فسق حکم کوي، او دا ورته بیانوي چه ددوئ دا شبهی او تأویل دوئ

ته د مخالفت براءت او جواز نه ورکوي، يوائې له دوئ څخه د کفر حکم منع کوي.

ددی نوعی حکم دادی چه دغه عمل او کار کفر دې، خو معين او مشخص مرتکب ددی عمل او ګناه باندی د کافر حکم نه کيږي، تر هغه پوری چه د کفر شروط پکښی موجود شي، او موانع يي لری شي.

دوهم ډول: چه دغه ناقض او ايمان ماتوونکي کښی د علماو خلاف وي، او کتونکي باندي پکښی شبهه او اشتباه راځي او ترجيح پکښی نشي کولې، ځکه په ځينو نواقضو کښی د علماو ترمنځ اختلاف دې، لکه:

۱/ د لمونځ د سستۍ له کبله پريښودل، سره له دی چه دا پريښودونکې يي له فرضيت څخه انکار نه کوي، او نه د لويي او تکبر له کبله دغه لمونځ پريږدي، بلکه د لمونځ پريښودل يي يوائې د سستۍ او لټـۍ له کبله وي.

په دی مسأله کښی زمونږ په نظر صحيح خبره دا ده چه څوک لمونځ سراسر پريږدي، نو هغه کافر کيږي، او هغه څوک چه کله لمونځ کوي او کله يي پريږدي، نو داسی بنده د فرايضو په ادا کښی د کوتاهۍ له کبله فاسق شميرل کيږي، او د سخت عذاب ويره پری ده؛ البته د کفر حکم پری نشي کيدلی.

همدا متوسط او درميانه نظر دې، ځکه په دي کښی دوه نور نظرونه دادي چه:

۱/ که څوک يو لمونځ هم پريږدي نو کافر کيږي.

۲/ دوهم نظر دا دې چه که لمونځ بيخي پريږدي نو هم نه کافر کيږي.

دوهم خلافي مسأله: سحر، کوډې کباړی:

په دی مسأله کښې هم علماء سره په یو نظر نه دي، چه آیا هغه څوک چه سحر او کوډی زده کوي، نورو ته یي ورزده کوي، او سحر او کوډی کوي، نو آیا داسی بنده کافر کیږي او کنه؟

نو دلته هم صحیح خبره داده چه سحر او کوډی تر هغه پوری تأثیر نه کوي چه په هغی کښې کفر، شرک نه وي، او له شیطانانو څخه پکښې مرسته او کومک نه وي غوښتل شوی، او دغه شیطانانو ته پکښې په ذبح حلالکه، نذر او منښته نه وي منل شوي، او د اسلامي شعایرو ته پکښې سپکاوې نه وي شوی، اوددغه ټولو کارونو کونکې د علماو په اتفاق باندي کافر بلل کیږي.

لکن ځینی علماء ځینو پټو چلونو (د لاسونو تیزئ او چالاکۍ) ته، او نورو چلوټو ته هم سحر وایي، او ځینی علماء هغه څه ته هم سحر وایي چه ځینی خلك یي د ځینی تأثیرونو لپاره ځینی دواګانی چه د انسان په عقل، نفس او پوهه باندی تأثیر کوي؛ نو لدي کبله هر ساحر ته کافر نه وایي، بلکه د هغه له سحر او کوډو څخه استفسار او پوښتنه کوي چه څه ډول سحر کوي؟

نو که بیا په سحر کښې له شیطانانو څخه مرسته او کومك غوښتل شوې وو، او یا ورته تقرب او عبادت او بندګي شوی وه، نو دغه سحر ته کفر وایي، او که په دغه سحر کښې د الله تعالی پرته بل چا ته تقرب او عبادت او بندګي نه وي نو بیا ورته کفر نه وایي، بلکه په هغه باندی تعزیري داسی حکم کوي چه هغه له دغه کارونو هم بند کړي، خو د کفر حکم پری نه کوي، او کافر ورته نه وایي.

۳/ د زکات، روژی او حج پریښودل:

په دی دری مسألو کښې هم د ځینو علماو نظر دا دې چه څوك له دوئ

څخه هر يو فرضي عمل پرېږدي، نو هغه کافر کېږي، اګر که د فرضيت څخه يې منکر نه وي.

خو صحيح خبره دلته هم دا ده چه تر هغه پورې ددې اعمالو تارک او پرېښودونکې ته کافر نه ويل کېږي چه ددوئ له وجوب او فرضيت څخه منکر نه وي، نو که له فرضيت څخه يې منکر شو، په دغه وخت کښې به کافر وي؛ ځکه دی وخت کښې دې د الله تعالی او د هغه د رسولﷺ مکذّب او دروغجن ګڼونکې شو؛ او څوک چه د الله تعالی او د رسول اللهﷺ مکذّب وي هغه کافر وي.

او په متعددو صحيحو احاديثو شريفو کښې راغلي دي چه ددغسې فرضي اعمالو تارک او پرېښودونکي ته به په آخرت کښې عذاب ورکول کېږي، بيا به وروسته ورباندې فيصله کېږي: چه يا به جنت ته ځي، او يا به اور ته ځي، نو دا ښکاره دليل دې چه ددغه اعمالو تارک او پرېښودونکي باندې د کفر حکم يقيني نه دې.

دلته د يادونې وړ ده چه ځينې هغه اعمال چه بنده پرې کافر کېږي او له دين څخه پرې ووځي، کله کله پکښې له يوه څخه زيات د ايمان او اسلام ماتوونکي اسباب راجمع کېږي، نو دغه عمل د کفر سبب وي، خو د مختلفو وجوهو نه.

لکه هغه څوک چه د الله تعالی له رالېږلی وحيې پرته په بشري جوړو اووضعي قوانينو باندې فيصلې کوي، او دا کار ځان ته روا هم بولي، بلکه دغه طاغوتې احکام او قوانين د الله تعالی پر رالېږلي وحيې باندې بهتر او افضل هم بولي، نو داسې بنده له ډېرو وجوهو نه کافر کېږي:

- يو خو دده كفر له دى كبله دې چه د الله تعالى راليږلي قانون پرته په نورو وضعي قوانينو فيصله كوي، او ځان د الله تعالى سره په فيصلو او قانون سازئ كښى شريك او برخمن ګڼـي.
- بل دا چه دې هغه حرام كار حلال او روا بولي چه په اسلامي دين كښى يي حرمت او نارواوالې څرګند او ښكاره دې.
- دده د كفر بل سبب دا دې چه دې الله تعالى او د هغه رسولﷺ دروغجن ګڼي؛ ځكه دې د طاغوت حكم د الله تعالى له حكم څخه بهتر او افضل ګڼي.

په دى بايد پوهه شو چه ځينى كافران او مرتدان د يو پر ځاي د ډيرو نواقضو او ايمان ماتوونكو مرتكب كيږي، لكه شرك اكبر، د الله تعالى او د هغه درسولﷺ دروغجن ګڼل، د اسلام مقدس دين سره بغض او كينه كول، د كفارو سره دوستي كول، او داسى نور.

خو څومره چه د يو بنده د كفر اسباب ډير وي هغومره يي كفر غټ او لوئ وي، نو بناءً يي عذاب هم سخت او لوئ وي، سره له دى چه هغه له ډيرو نورو كفارو سره په ارتداد او له دين څخه په وتنه كښى شريك او يو شان وي.

او كفر په دوه ډوله دې: يو ظاهري او ښكاره كفر دې، او بل باطني او پټ كفر:

ظاهري او ښكاره كفر نه مطلب هغه كفر دې چه د يو بنده له ظاهري او په ښكاره كفري اعمالو څرګنديږي چه دې كافر دې، نو په هغه همغه د ظاهر حكم كيږي.

او باطني کفر هغه دې چه د بنده په پټ حال پوری تړلې وي، یعنی په هغه شیانو کښې چه دده او د الله تعالی ترمنځ وي، نو داسی بنده کله کافر وي؛ ځکه ده به په باطن کښې داسی یو عمل او کار ترسره کړې وي چه هغه به د اسلام او ایمان ماتوونکې وي، سره له دی چه دې په ښکاره خلکو ته د اسلام او مسلمانۍ اظهار کوي، نو په دی وخت کښې دې منافق بلل کیږي، چه په ښکاره ورسره د مسلمانانو معامله کولې شي، او په آخرت کښې به له نورو کفارو سره د جهنم په اور کښې تل ترتله وي.

خو هغه څوک چه ښکاره او د خلکو په نیز دځینو نواقضو او ایمان ماتوونکو ګناهونو مرتکب کیږي، او دده کوم عذر وي، لکه د عقل زایل کیدل، یا ناپوهي، او یا یو څوک په اسلام کښې نوې شامل شوې وي، نو له خولی یي داسی څه راووځي چه پخوا یي عادت وو، خو دغه دده عقیده نه وي، نو کله کله په دغسی خلکو په ظاهر کښې د کفر حکم کولې شي، حال دا چه په باطن او حقیقت کښې به دده لپاره داسی عذر وي چه د کفر حکم ورڅخه منع کوي.

خو په قیامت کښې به انسان په هغه عقیده راپاڅیږي چه په کومه عقیده باندی مړ وي، که هغه ایمان وي او که کفر وي.

اصل او اساس دا دې چه په یو چا باندي د کفر حکم باید علماء او ددین پوهان وکړي، خو کله کله د ځینی عوارضو او ضرورتونو له امله پر دی اصل باندی عمل نه کیږي.

خو ډیره د پام وړ خبره دا ده چه مسلمان باید په هغه چا باندی چه واضح او ښکاره کافر نه وي، باید په هغه باندی د کفر له حکم کولو او کافر ګڼلو څخه

ځان وساتي؛ ځکه رسول الله ﷺ فرمايي:

«أَيُّمَا امْرِئٍ قَالَ لأَخِيهِ: يَا كَافِرُ. فَقَدْ بَاءَ بِهَا أَحَدُهُمَا إِنْ كَانَ كَمَا قَالَ وَإِلاَّ رَجَعَتْ عَلَيْهِ» [مُتَّفقٌ عليه من حديثِ ابنِ عُمَرَ رضي الله عنهما].

ترجمه: «کله چه یو مسلمان خپل بل مسلمان ورور ته ووايي: اي کافره ! نو يو له دغه دواړو څخه ددی کفر په کلمه اخته شو، که مُخاطَب کافر وو خو همدې کافر دې، او که نه، نو همدا کلمه بيرته ويونکي ته راګرځي».

او له ابو ذر رضي الله عنه څخه په يو بل حديث شريف کښی نقل دي چه هغه فرمايلي دي:

«مَنْ دَعَا رَجُلاً بِالْكُفْرِ أَوْ قَالَ عَدُوَّ اللَّهِ. وَلَيْسَ كَذَلِكَ إِلاَّ حَارَ عَلَيْهِ». [متفق عليه].

ترجمه: «چا چه کوم مسلمان د کفر په نوم راوبللو(يعنی کافر يي ورته وويلو)، او يا يي ورته وويل: اي د الله دښمنه !، او هغه دغه شان(يعنی کافر) نه وو، نو دغه د کفر کلمه همدی ويونکي ته راګرزي».

دا ويرونه او منع د هغه چا په هکله ده چه داسی کلمی د ښکنځلو په ځاي کوي، او يا د کفر حکم کولو کښی جلتي او تادي کوي، سره له دی چه په ده کښی په يو چا د کافر دحکم کولو دا اهليت نه وي، يعنی دی درجی ته نه وي رسيدلې چه ده ته دا حق حاصل شي چه په يو چا د کفر حکم کولو لايق وي.

خو که يو مجتهد عالم د ضرورت په وخت کښې په يو چا د کفر حکم وکړي، او خطا شي، خو ده په دې حکم کولو کښې کومه کوتاهي او تقصير نه وي کړې، او نه يي هم دا حکم د خپل کوم نفسي خواهش لپاره کړې وي، نو دلته دغه عالم په دغه تحذير او ويرونه کښې نه شامليږي، بلکه دې مجتهد دې، ده ته د خپل اجتهاد يو اجر شته، او خطا به ورته الله تعالى وبخښي إن شاء الله تعالى.

د مرتد حکم:

د علماو په اجماع باندي د مرتد حکم دا دې چه د مرتد وژل واجب او فرض دي؛ ځکه رسول اللهﷺ فرمايي: «مَنْ بَدَّلَ دِينَهُ فَاقْتُلُوهُ». [رواهُ البُخاريُّ من حديثِ ابنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما].

ترجمه: «هغه مسلمان چه د اسلام دين بدل کړي اوکافر شي نو يي ووژنئ».

او هغه څوک چه مرتد مړ شي، نو هغه ته به نه غسل ورکول کيږي، او نه کفن، او نه به پرې د جنازې لمونځ کولې شي، او نه به د مسلمانانو په هديره کښې خښولې شي، او نه ورڅخه مسلمان وارث مال په ميراث وړلې شي، او نه به ورته د مرګه وروسته دُعا کولې شي.

او له وژلو مخکښې له ده څخه د توبې غوښتنه او بيرته په اسلام کښې شامليدنه د وخت د مسلمانانو مشر او حاکم اجتهاد ته حواله ده، که ده ورڅخه په رښتيا اسلام ته د اووښتنې اميد کولو، او يا ورسره داسې شبهه وه

چه د هغی له کبله مرتد شوې وو، نو بیا مسلمان حاکم ته روا دي چه دغسی مرتد ته دری ورځی مهلت ورکړي، او هغه ته بیرته اسلام ته د ورګرزیدو بلنه ورکړي، او د شبهی د لری کولو کوښښ يي وکړي، نو که اسلام يي راوړ، او مسلمان شو خو ډيره ښه ده، او کنه نو بیا به د ارتداد په حکم ووژل شي.

او که د مسلمانانو د حاکم نظر دا وو چه ددي مرتد په وژنه کښی د مسلمانانو مصلحت او خیرخواهي ده، لکه هغه مرتد چه د مرتد کیدو وروسته مسلمانانو ته ډیر سخت ضررناک وي، او دوئ ته ضررونه رسوي، او یا پر مسلمانانو د کافرانو لخوا جاسوس او مُخْبِر وي، او یا دا ویره تری کیده چه که ژوندې مرتد پاتی شي نو مسلمانانو ته تری د ضرر او فتنی ویره ده، نو بیا دي ووژني، تر څو چه يي له وژنی څخه مخکښی توبه ویستلی نه وي.

اللَّهُمَّ أَحْيِنَا مُسلِمِينَ وتَوَفَّنَا مُسْلِمِينَ، وَأَلْحِقْنَا بالصَّالِحينَ، وأَجِرْنَا مِنْ خِزْيِ الدُنْيَا وَعَذَابِ الآخِرَةِ، رَبَّنَا إِنَّكَ رَؤُوفٌ رَحِيْمٌ.

«اي الله په ژوند کښی مو مسلمانان ولری، او که مرګ راته راولی نو په داسی حال کښی چه مونږ مسلمانان يو، او د نیکانو مسلمانانو سره مو يو ځاي کړی، او د ددنیا او آخرت له شرم او عذاب څخه مو وساتی، اي پروردګاره ! بیشکه ته ډیر رحم کونکې او مهربان يي».

وَصَلَى اللهُ وَسَلَّمَ وَبَارَكَ وَأَنْعَمَ عَلَى خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ أَجْمَعِيْنَ، وَعَلَى مَنْ اهْتَدَى بِهَدْيِهِ وَاقْتَفَى أَثَرَهُ إِلَى يَوْمِ الدِّيْنِ.